# طريقة اجراء الصرف والنحو

ورسره

۱- داجراء په اړه ځيني مهم ضوابط
۲- دلااله الاالله (۹) تراكيب
۳- دسلو (۱۰۰) مشكلو كلماتو تراكيب

## تاليف


ابوالحميد مولوی عبدالحق

استاذ مدرسة الفاروق رضي الله عنه الاسلامية



النشر والتوزيع :

مدرسة الفاروق رضي الله عنه الاسلامية. دوهمه ناحيه. قندهار



Maktaba Tul Ishaat.com

# تقریظ

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی إخوانه من النبیین وعلی آله وأصحابه أجمعین.

امابعد: څرنګه چي الله تعالی د تمام انسانیت کامیابي او ترقي یوازي او یوازي په خپل دین کي ایښې ده، خو دا دین بیله علمِ دین څخه نسي عملي کیدای او علم دین چونکه په عربي ژبه کي راغلی دی او په عربیت کي خپور سوی دی نو ځکه د عربي د زدکړې څخه چاره نسته.

او دا خبره هم واضح ده چي صرف او نحو د عربي لغت لپاره اساس او بنیاد دی، ځکه نو د امت علماء کرامو په دې فنونو کي مختلف کتابونه لیکلي دي خو دا چي د زمانې په تېرېدو سره د انسانانو د مشکلاتو د ډېرېدو او په استعدادو کي د کمزورۍ او تساهل په وجه په تدریج سره دا فن فقط په کتابو کي پاته سوی دی الا ما شاء الله، عملي اجراء او تطبیق ئې په طلباء کرامو کي ډېر کم لیدل کیږي نو لهٰذا د (مدرسة الفاروق الاسلامیة) استاد محترم مولوي عبد الحق صاحب د دغه مهم او بنیادي فنونو د اجراء د طریقې لپاره یو کتاب ولیکی چي په هغه کي د صرف او نحو د قواعدو د اجراء طریقه په روانه ژبه او اسانه انداز بیان سوې ده تر څو د طلباء کرامو لپاره په دغه مهم او بنیادي فن کي څه ناڅه پوهه او د عملي

وجود لري تر یو حده لیري سي.

د دې کتاب په تصحیح کې موږ تر خپل وسه د فني او املايي غلطیو د اصلاح کولو کوښښ کړی دی خو بیاهم د هر مطالعه کونکی ورور څخه خواهش کوو چې په دغه کتاب کې کومه علمي یا کتابتي غلطي ووینې لطفاً دې د (مدرسة الفاروق ﷺ الاسلامية) اداري ته اطلاع ورکړي ترڅو په أینده چاپ کې ئې اصلاح وسي.

و ماتوفیقنا الاّ بالله

د مدرسة الفاروق ﷺ الاسلامية

اداره

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى

امابعد: پر اهلِ علم حضراتو د علمِ صرف او علمِ نحو عظمت، فضیلت او ضرورت د لمر غوندي واضح دی.

د حضراتو صحابهٔ کرامو د زماني څخه تر نن ورځي پوري مسلسل په هر دور کي پر دغو دوو علومو باندي د تقریر او تحریر، تدریس او تشریح په واسطه محنت راروان دی.

په موجوده دور کي د علمِ صرف او علمِ نحو د اجراء د اړخ د خدمت ضرورت ډیر لیدل کیږي، ځکه چي موږ او تاسي وینو چي زموږ محترم طالبان په کتاب کي دننه ښه تحقیق زده کوي او مطالعه کوي، لیکن د کتاب څخه دباندي د یو عربي عبارت د صحیح ویلو څخه عاجزه وي، حالانکه اصل مقصد د دغو علومو څخه عربي عبارت صحیح کول دي، او د دې کمزورۍ یوازېنی علت دا دی چي د کتاب د ویلو سره سره اجراء او عملي مشق نسته

نو لهٰذا راقم الحروف د خپل کم علمی او نقص فهمی سره سره د صرف او نحو د اجراء په اړه د ځینو با تجربه استادانو اهم هدایات او بعض ضوابط په دې

مختصره رساله کي راجمع کړي دي، الله تعالیٰ ته قوي اميد دی چي په خپل دربار کي ئې قبول کړي.

## د استادانو مسؤليت:

محترمِ استادان دي دا خبره ياد ولري چي د ديني علومو د حاصلولو لپاره د علمِ صرف او علمِ نحو صحيح فهم او د دوي مکمله اجراء او د دوي د قواعدو صحيح استعمال د ملا د تير حيثيت لري، تر علم صرف اوعلم نحو وروسته د راتلونکي هر علم تحصيل پر دوي موقوف دی، که چيري دا بنياد کمزوری پاته سي نو تر دورۀ حديث پوري به ټول تعليم کمزوری، بې اثره او بې ثباته وي.

نو ځکه د صرف او نحو د استادانو ذمه داري ډيره لويه ده، لهذا مونږ د ځينو مشرانو استادانو څه هدايات په دې باره کي نقل کوو چي په عملي کولو سره به ئې انشاء الله استادان وکولای سي چي دا لويه ذمه داري په صحيح ډول سرته ورسوي او د دوي لپاره به واقعي صدقۀ جاريه وگرځي.

Maktaba Tul Ishaat.com

# د علمِ صرف د تدریس هدایات

۱-د علمِ صرف په شروع کې په طالب العلم ګردانونه یادول ډیر ضروري دي، ګردانونه داډول یادول په کار دي چې پخپله پر ژبه جاري سي او هیڅ بندش پکښې پاته نسي.

۲-لیکن عموماً اساتذهٔ کرام یوازې ګردانونه په شاګردانو پیادوي او پر هـم دې اکتفاء کـوي، نـور پـر مـخ ځـي او د صـیغو د شـناخت وطرفتـه توجـه نـه ورکـوي حالانکه طالب العلم لره چې د ګـردان یـاد څومره ضـروري دی هغـومره د هـري صیغې فوراً پیژنـدل او پـه صـحیح مطلـب او محلِ استعمال ئې ځان پوه کـول ضروري دي، نو ځکه د استاد محترم پر ذمه دا ضروري ده چې طالب العلـم تـه د ګردانو وربه یادولو وروسته دغه لاندي ذکر سوي امور عملي کړي او تر څو چې د دغو امورو په باره کې پوره اطمینان نه وي ورته حاصل سوی درس دي پـر مـخ نـه بیایي.

الف: د هري هري صیغې پـه بـاره کـې دا معلومـات چـې دا کومـه صـیغه ده؟ ماضي ده که مضارع ده، واحد ده، که تثنیه، یا جمع، د دې لپاره دوطرفه تمرینونـه په کول ضروري دي، د دوطرفه تمرین مقصد دا دی چې طالب العلم ګردان د سره څخه تر پایه پوري او د پایه څخه تر سره پوري مثلا د (ضَرَبَ) څخه تـر (ضَـرَبْنَا) پوري او د (ضَرَبْنَا) څخه تر (ضَرَبَ) پوري په یوه ساه ووایي.

ب: د طالب العلم څخه د هري صيغې په باره کي لاندي ليکل سوي سوالات وسي:

۱-د سه اقسام، بيا که اسم وي نو د اسم علامه، او که فعل وي نو د فعل علامه دي څني و پوښتل سي.

۲-د شش اقسام بيا د هفت اقسام پوښتنه څني وسي.

۳-حروف اصلي او حروف زائد په معلوم کړل سي

۴-دوازده اقسام او چهارده اقسام وپوښتل سي.

۵-قانون ئي وپوښتل سي.

۶-باب ئي وپوښتل سي.

البته دا سوالات دي د ويل سوو سبقانو سره موافق کيږي مثلاً که قوانين نه وي ويل سوي نو د قانون پوښتل بې فايدې دي.

ج: همداسي دا خبره هم انتهايي ضروري ده چي د هري صيغې صحيح معنى د طالب العلم په ذهن کي کښيني، او د صيغې په اوريدلو سره د هغې معنى هم په فکر کي ورسي، د دې لپاره هم د دوطرفه تمرين ضرورت دی يعني يو وار عربي صيغه وويل سي د طالب څخه ئې د معنى پوښتنه وسي، او بيا پښتو لفظ وويل سي عربي ترجمه ئې په طالب وسي، او دا دوطرفه مشقونه دومره زيات پکار دي ترڅوچي د صيغو صحيح معنى او د استعمال صحيح محل په ذهن کي کښيني.

د: د کومو مشقونو ذکر چي لوړ وسو هغه هم په تقريري او هم په تحريري طريقې سره عملي کول ضروري دي، مثلا يو صيغه ورته وليکل سي او په (الف)

Maktaba Tul Ishaat.com

كي چي كوم سوالات ذكر سوه هغه يو يو پر نمبر ورته وليكل سي اود طالب څخه ئې څوابونه ليكل سوي طلب كړل سي او همدارنگه پښتو جملې ورته وليكل سي چي د دغو ترجمه په عربي وليكي، او عربي جملې ورته وليكل سي چي پښتو ترجمه ئي وليكي، مثلا داسي پښتو جمله ورته وليكل سي چي (تاسو دوو خلگو سجده وكړه) (هغو دوو ښځو وېل وكړه) او دا عمل د ماضي، مضارع، امر او نهي په ټولو گردانو كي وسي.

اوس د نمونې لپاره د صيغو د حل نقشه ذكر كوو:

# د صيغو د حل نقشه

| شماره | موزون | اصل | وزن | حروف اصلي | حروف زوائد | سه اقسام | علامه | شش اقسام | هفت اقسام | دوازده اقسام | چهارده اقسام | نظير | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اُقْتُلُوْا | | | | | | | | | | | | |
| ۲ | لا تحزنوا | | | | | | | | | | | | |
| ۳ | تَوَاسِرُ | | | | | | | | | | | | |
| ٤ | وَاذْكُرْنَ | | | | | | | | | | | | |
| ۵ | يُقْتَلُ | | | | | | | | | | | | |
| ٦ | فَادَّارَكُوْا | | | | | | | | | | | | |
| ۷ | يَاتُوْا | | | | | | | | | | | | |

Maktaba Tul Ishaat.com

هـ: د تعليلاتو او قوانينو په بيان کي يوازي پر دې اکتفاء ونه سي چي طالب العلم په قواعدو پوه کړل سي بلکه هره قاعده او قانون په ډيرو مثالو ورته واضح کړل سي، او په مختلفو مثالو سره د دغو قوانينو اجراء په وسي.

**مهمه مشوره**: که د صرفو قوانين د کنزالنوادر پر طريقه ورته وويل سي نو ډير به ښه وي ځکه چي دا طريقه د طالب العلم د پوهولو لپاره، او پخپله د طالب د يادولو لپاره، اود اجراء لپاره ډيره اسانه او مفيده ده.

## د علم صرف د اجراء طريقه:

اوس د نمونې په ډول موږ د اجراء طريقه او صورت ذکر کوو او محترم استاد به ئي پر طريقه د سوالونو په لاندي ډول عملي کوي.

**مثال**: ضَرَبْنَ.

استاد: عبدالله ! ته ووايه (ضَرَبْنَ) په سه اقسام کي د کلمې څه شی دی؟

شاگرد: فعل دی.

استاد: د فعل کومه علامه ده پکښې؟

شاگرد: (نون) ضميري.

استاد: عبد الرحمٰن ! ته ووايه په شش اقسام کي د کلمې څه شی دی؟

شاگرد: ثلا ثي مجرد.

استاد: د ثلا ثي مجرد تعريف وکړه

شاگرد: ثلاثي مجرد هغه کلمې ته وايي چي پر درو حروف اصلي باندي ئې

بل حرف زيات نه وي.

## د مجرد او مزيد پيژندنه:

استاد: په (ضَرَبْنَ) کي څو پر درو حروف اصلي بل حرف زيات دی نو دا څنگه مجرد دی؟

شاگرد: تاسو موږ ته په سبقه کي ويلي وه چي د ثلاثي مجرد او مزيد مدار پر صيغهٔ واحد مذکر غائب ماضی باندي دی، يعني که په صيغهٔ واحد مذکر غائب ماضي کي دري حروف اصليه وي بل هيڅ حرف زيات نه وي نو پاته ټوله گردان ثلاثي مجرد بلل کيږي لکه: (ضَرَبَ).

استاد: په هفت اقسام کي د کلمې څه شی دی؟

شاگرد: صحيح دی.

استاد: د صحيح تعريف وکړه.

شاگرد: صحيح هغه کلمې ته وايي چي د هيڅ حرف اصلي پر برابر ئې حرف علت، همزه او تضعيف نه وي.

استاد: حروف اصلي څو دي پکښي؟

شاگرد: دري دي: (ض)، (ر) او (ب).

استاد: حرف اصلي څه ته وايي؟

شاگرد: حرف اصلي هغه حرف ته وايي چي په مقابل کي د فا، عين يا لام راغلی وي.

استاد: په دوازده اقسام کي څه شی دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

شاگرد: ماضي ده.

استاد: محمد ! ته ووايه چي څه صيغه ده يعنی په چهارده اقسام کي څه شی دی؟

شاگرد: صيغهٔ جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم.

استاد: پښتو معنی ئې وکړه.

شاگرد: په تيره زمانه کي هغه ډيرو ښځو وهل وکړه.

استاد: احمد ! ته ووايه چي کوم قانون پکښي جاري سوی دی؟

شاگرد: د ضربن اول نمبر او د ضربن دوهم نمبر قانون پکښي جاري سوی دی.

استاد: دا قوانين څنگه پکښي جاري کيږي وضاحت ئې وکړه؟

شاگرد: (ضَرَبْنَ) په اصل کي (ضَرَبْتَنَ) وو دوې علامې د تانيث چي يوه (ت) او بله (ن) دی جمع سوې، نو د اول قانون په حکم سره يوه علامه حذف سوه نو (ضَرَبَنَ) سو بيا اجتماع د څلورو حرکاتو پرله پسې په يوه کلمه کي حکما راغله نو د دوهم قانون په حکم سره يو حرکت حذف سو نو (ضَرَبْنَ) سو.

استاد: جَزَاكَ اللهُ خَيْراً

# د علمِ نحو د تدریس هدايات

١-د علمِ نحو د تعليم اصل مقصد د كتاب عبارت يادول نه دي، بلكي په عبارت كي چي كوم قواعد او مسائل دي هغه د طالب العلم په ذهن كي داسي كښېنول پكار دي چي پر متعلقه موقع دئ د هغو قواعدو او مسائلو څخه كار واخلي.

٢-عموما په درسي كتابو كي د قاعدې د تشريح لپاره فقط پر يوه مثال اكتفاء سوې وي، ليكن استاد ته په كار ده چي د هري قاعدې تشريح په ډيرو مثالو سره د خپل طرفه د طالبانو په مخ كي وكړي، او ښه دا ده چي پر عامو مثالو سربيره د قرأن كريم څخه هم اخذ وكړي، تر څو د قرأن كريم سره هم مناسبت پيداسي، او داكار په خپله د استاد لپاره هم ډير مفيد دی او د دې لپاره دي استاد ((مفتاح القرأن)) تر مطالعه لاندې راولي.

٣-لكه څرنگه چې پر استاد د خپل طرفه څخه و طالبانو ته د مثالو وركول ضروري دي همداسي دا هم ضروري ده چي په طالبانو مثالونه جوړ كړي او دا كار هم تقريري وسي او هم تحريري.

٤-د يو اصطلاح يا قاعدې صرف د نظر تفهيم كافي ونه گڼل سي بلكي د هغه پر عملي اجراء پوره توجه وركول سي، مثلاً قاعده داده چي د غير منصرف اعراب په حالت كي د جر په فتحه سره وي، اوس صرف پر دې سوال اكتفاء ونه

Maktaba Tul Ishaat.com

سي چي دغير منصرف اعراب څه شی دی، بلکې په پښتو کي داسي جملې
وويل سي چي په عربي ترجمه کي ئې لفظ د غير منصرف په حالت کي د جر
راسي، يا داسي عربي جملې بيله اعراب ورکولو څخه پر تخته وليکل سي او
طالب العلم هغه ته اعراب ورکړي يا د امتحان لپاره غلطي جملې ورته وليکل سي
او په طالب العلم صحيح کړل سي.

۵-طالب العلم چي کله هم يو جمله غلطه ووايي نو هغه فوراً ماخوذه کول او
جمله په صحيح کول ضروري دي، عموماً په طالبانو کي پر مضاف د الف لام
داخلولو او د صفت و موصوف، مبتدا و خبر په منځ کي د مطابقت نه کولو
غلطۍ ډيري کيږي، نو استاد ته پکار ده چي په اول کي داسي غلطۍ برداشت نه
کړي بلکي گرفت ئې وکړي، تر څو د طالب العلم اصلاح د اول څخه وسي او
هم داسي سم عادت سي، که نه نو بيا به تر دورۀ حديث پوري دئ همداغه سي
پاته وي چي د فاعل اعراب به مفعول ته او د مفعول اعراب به فاعل ته ورکوي
حتیٰ فاعل او مفعول هم سره جلا کولاي نسي لکه څرنگه چي ئې موږ او تاسي
بالمشاهده وينو.

۶-کوم قواعد چي کثير الاستعمال دي په هغو کي نسبت و قليل الاستعمال
ته زيات کوښښ وسي، بلکي د قليل الاستعمال په باره کي ورته وويل سي چي د
دې استعمال کم دی مثلاً: (لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إلاَّ بِـالله) د اعراب په پنځه ممکنه
وجوهو کي طالب العلم ته هغه وجه وښودل سي کومه چي راجح او کثير
الاستعمال ده.

۷-طالبانو ته هره ورځ یا کم تر کمه دوهمه ورځ یو تحریري مشق ضرور ورکول سي اوپه دې باره کي دي استاد ((النحوالواضح)) تر مطالعه لاندې راولي.

۸-لیکن افسوس دی چي زموږ په دور کي د دغو مهمو مقاصدو د حصول په مخ کي بې ځایه او بې فائدې چون و چرا خنډ واقع سوی دی چي هغه اصلي مقصود ئې بلکل فوت کړی دی، نو ځکه د استادانو دا ذمه داري ده چي د بې ځایه بحثونو او سؤالاتو پر ځای د طالب العلم توجه د نحوِ صحیح مسائلو او مباحثو ته راواړوي.

## د علمِ نحو د اجراء طریقه:

لکه څرنگه چي د علمِ نحو عملي زده کړه د نحو پر اجراء موقوفه ده، نو ځکه د اجراء طریقه په تفصیل سره بیانوو.

**فائده**: دا طریقه د نحو د هر کتاب د اجراء لپاره کافي ده (إِنْشَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰی).

## د علم نحو د اجراء دوې حصې دي:

۱-مفردات، ۲-مرکبات.

Maktaba Tul Ishaat.com

# د مفرداتو د اجراء تفصيل

١-تر هر څه وړاندي یو أیت شریف، یا حدیث مبارک، یا یو بل عربي عبارت وویل سي.

٢-په طالبانو باندي د همدې أیت، حدیث، یا عربي عبارت کلمات حساب کړل سي چي څو کلمې دي؟

٣-بیا دي أسمونه، فعلونه او حروف هر یو جلا جلا معلوم او حساب کړي، او مقدرات دي هم نه پرېږدي.

٤-د اسم فعل او حرف څخه دي د هر یوه علامات وپوښتل سي، چي دا ولي اسم دی دا ولي فعل دی، او دا ولي حرف دی او څه علامه ئې ده؟

**مثال**: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

استاد: په دې أیت شریف کښي ټولي څو کلمې دي؟

شاګرد: ټول یوولس (١١) کلمې دي.

استاد: په دې أیت شریف کي څو اوه کلمات معلومېږي؟

شاګرد: تاسي مخکي موږ ته ویلي وه چي مقدرات هم ورسره حساب کړئ نو د مقدراتو سره یوولس کېږي.

استاد: محمد ! ته کلمات حساب کړه چي څو دي؟

شاګرد: ١-(الف لام)، ٢-(حَمْدٌ)، ٣-(ثَابِتٌ) مقدر، ٤-په (ثَابِتٌ) کي (هُـوَ)

ضمير جائز الاستتار، ٥-په (ثَابِتٌ) كي (تنوين)، ٦-(لام) حرف جر، ٧-لفظ (اَللّٰه)، ٨-(رَبِّ)، ٩-په كلمه د (رَبِّ) كي (ضمير)، ١٠-د (اَلْعٰلَمِيْنَ) الف لام، ١١-(عٰلَمِيْنَ).

استاد: په (حَمْدٌ) كښي ولي ضمير نسته؟

شاگرد: (حَمْدٌ) مصدر دی او عموماً په مصدر كي ضمير نه وي.

استاد: په (اَلْعٰلَمِيْنَ) كي ولي ضمير نسته؟

شاگرد: دا اسم اٰله ده او په اسم اٰله كي ضمير نه وي.

استاد: د اسم اٰلې په اوزانو كي خو (اَلْعٰلَمِيْنَ) نسته؟

شاگرد: دا اسم اٰله غير قياسي ده لكه: (قَالَبٌ) مَا يُقْلَبُ بِهِ، او (خَاتَمٌ) مَا يُخْتَمُ بِهِ، او (عَالَمٌ) مَا يُعْلَمُ بِهِ الصَّانِعُ (سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى).

استاد: احمده ! په دې مبارك اٰيت كي څو اسمونه دي؟

شاگرد: اووه (٧) اسمونه دي.

استاد: كوم كوم دي؟

شاگرد: ١-(حَمْدٌ)، ٢-(اِلّٰهٌ)، ٣-(ثَابِتٌ) ، ٤-په (ثَابِتٌ) كي (ضمير)، ٥-(رَبٌّ)، ٦-په (رَبٌّ) كي (ضمير)، ٧-(اَلْعٰلَمِيْنَ) مجرد د (ال) څخه.

استاد: د هر يوه علامه وښيه چي كومه علامه د اسم پكښي سته؟

شاگرد: ١-په (حَمْدٌ) كښي د اسم علامه (الف لام) دی، ٢-په (ثَابِتٌ)كي د اسم علامه (تنوين) دی، ٣-په (ثَابِتٌ) كي (ضمير) دی او ضمير په خپله اسم دی، ٤-په لفظ د (الله) كي يوه علامه (لامِ جاره) دی، بل (عَلَم) دی، بـل (كسـره) ده او

Maktaba Tul Ishaat.com

بل (الف لام) دی، ۵-په (رَبُّ) کي د اسم علامه (اضافت) دی او (کسره) ده ،۶-په (رب) کي ضمیر دی،۷- او په (اَلْعٰلَمِیْنَ)کي یوه علامه (الف لام) او بل (جمع) ده.

استاد: حمیدالله ! په همدې مبارك أیت کي څو فعلونه دي؟

شاگرد: په دې أیت مبارك کې هیڅ فعل نسته.

استاد: حروف څو دي پکښي؟

شاگرد: پنځه حروف دي.

استاد: کوم کوم دي بیان ئې کړه؟

شاگرد: ١-د اَلْحَمْدُ (الف لام) دی، ٢-په (لِلّٰهِ) کي (لام جاره) دی، ٣-په لفظ د (اَللّٰه) کي (الف لام) دی، ۴-په (ثَابِتٌ) کي (تنوین) دی، ٥-د (اَلْعٰلَمِیْنَ) (الف لام) دی.

استاد: په دغه حروفو کي د حرف علامات څه شي دي؟

شاگرد: د حرف علامه دا ده چي د اسم او فعل د علامو څخه هیڅ علامه پکښي نسته، نو معلومه سوه چي همدغه حروف دي.

# معرب او مبني

د کلماتو د معلومولو وروسته معرب او مبني سره د اقسامو معلومول پکار دي.

لومړئ ټول کلمات پر دوه قسمه دي: معرب او مبني.

## معرب پر دوه قسمه دی:

۱-اسم متمکن چې په ترکیب کې واقع وي.

۲-فعل مضارع چې د نوناتو څخه د جمع مؤنث غائب او جمع مؤنث مخاطب او همدارنګه د نون تاکید ثقیله او خفیفه څخه خالي وي.

## مبني هم پر دوه قسمه دی:

۱-مبني الاصل، ۲-مشابه مبني الاصل. (د مشابهت اقسام په ضوابطو کې وګورئ)

مبني الاصل پردرې قسمه دی: ۱-فعل ماضي، ۲-امر حاضر معلوم، ۳-ټول حروف معاني.


## مشابه مبني الاصل پر یوولس (۱۱) قسمه دی:

۱-اسماء مضمرات، ۲-اسماء اشارات، ۳-اسماء موصولات، ۴-اسماء افعال، ۵-اسماء اصوات، ۶-بعض ظروف، ۷-اسماء کنایات، ۸-مرکب بنائي، ۹-فعل مضارع چې سره د نوناتو د جمع مؤنث او د تاکید وي، ۱۰-اسم متمکن

Maktaba Tul Ishaat.com

چې په ترکیب کې نه وي واقع، ١١-جمله من حیث الجمله.(زیات معلومات ئې په ضرابطو کې وګورئ)

# د معرب او مبني د اقسامو نقشه



## د معرب او مبني د اجراء طريقه:

۱-لومړئ استاد يو أيت مبارك يا حديث مبارك يا يو بل عربي عبارت ذكر كوي ۲-بيا پوښتنه كوي چي په دې عبارت كي څو معرب او څو مبني دي او كوم كوم دي ۳-د طالبانو له خوا د جواب وروسته به استاد د هر يوه تعريف وپوښتي ۴-بيا به دا پوښتنه وكړي چي كه معرب دى نو كوم قسم ئې دى، او كه مبني دى نو كوم قسم ئې دى؟

**مثال**: وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ.

استاد: په دې أيت شريف كي څو معرب دي؟

شاګرد: درې معرب دي.

استاد: د اسم معرب تعريف وكړه.

شاګرد: اسم معرب هغه اسم دى چي په تركيب كي واقع سوى وى او د مبني الاصل سره مشابهت و نه لري.

استاد: معرب كوم كوم دي؟

شاګرد: (عَذَابٌ)، (عَظِيمٌ) او (ثَابِتٌ) چي مقدر دى.

استاد: دا كلمې ولي معرب دي؟

شاګرد: ځكه چي اسم متمكن په تركيب كي واقع دى او د مبني د اقسامو څخه يو هم نه دى.

استاد: په دې أيت شريف كي مبنيات څو دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

شاگرد: اته دي.

استاد: د مبني تعریف وکړه.

شاګرد: مبني هغه کلمې ته ویل کیږي چې د مبني الاصل سره مشابهت ولري یا هم غیر مرکب واقع سوی وي.

استاد: مبني کوم کوم دي؟

شاګرد: ۱-(واو)، ۲-(لام)، ۳-(هُمْ) ضمیر، ۴-په (ثَابِتٌ) کي (هُوَ) ضمیر، ۵-د (ثَابِتٌ) (تنوین)، ۶-د عَذَابٌ (تنوین)، ۷-د عَظِیْمٌ (تنوین)، ۸-په عَظِیْمٌ کي (هُوَ) ضمیر.

استاد: احمد ! په دغه مبنیاتو کي کوم کوم مبني الاصل دي او کوم کوم مشابه مبني الاصل دي.

شاګرد: ۱-(واو) مبني الاصل دی ځکه چي حرف دی، ۲-(لام) مبني الاصل دی ځکه چي حرف دی، ۳-(هُمْ) مبني غیر الاصل دی ځکه چي د مبني الاصل څخه نه دی، ۴-په (ثَابِتٌ) کي (هُوَ) ضمیر مشابه مبني الاصل دی، ۵-د (ثَابِتٌ) (تنوین) مبني الاصل دی ځکه چي حرف دی، ۶-د (عَذَابٌ) (تنوین) مبني الاصل دی، ۷-د (عَظِیْمٌ) (تنوین) مبني الاصل دی، ۸-په (عَظِیْمٌ) کښي (هُوَ) ضمیر مشابه بمبني الاصل دی.

## د ضمائرو اقسام:

ضمائر پر درې قسمه دي:

۱-مرفوع، ۲-منصوب، ۳-مجرور.

مرفوع او منصوب ضمير هر يو پر دوه دوه قسمه دي: مرفوع متصل او مرفوع منفصل، منصوب متصل او منصوب منفصل. مجرور ضمير فقط متصل راځي منفصل نه راځي.

## د ضمائرو تعريفونه او تركيبونه:

**مرفوع متصل**: هغه ضمير ته وايي چي پر ځاي د اسم مرفوع ولاړ وي او د عامل رافع سره مبنتى وي.

**تركيب**: په تركيب كي هميشه فاعل واقع كيږي لكه: قَتَلْتَ، اَنْعَمْتَ، اَنْزَلْنَا.

**مرفوع منفصل**: هغه ضمير ته وايي چي پر ځاي د اسم مرفوع ولاړ وي او د خپل عامل رافع سره مبنتى نه وي.

**تركيب**: دا ضمير كه تر فعل مخكي راسي نو دا مبتدا وي لكه: اَنَا ضَرَبْتُ، او كه تر فعل وروسته راسي نو كله تاكيد د فاعل وي لكه: ضَرَبْتُ اَنَا، او كله فاعل وي لكه: مَاضَرَبَ اِلاَّ اَنَا.

**منصوب متصل**: هغه ضمير ته وايي چي پر ځاي د اسم منصوب ولاړ وي او د عامل سره مبنتى وي.

**تركيب**: منصوب متصل په تركيب كي هميشه د درو شيانو څخه يو واقع كيږي:

١-د فعل لپاره مفعول لكه: ضَرَبَنِيْ، ٢-اسم د حروف مشبه بالفعل لكه: اِنَّنِيْ، ٣-مفعول دپاره د اسمِ فعل لكه: رُوَيْدَنِيْ.

**منصوب منفصل**: هغه ضمير ته وايي چي پر ځاي د اسم منصوب ولاړ

Maktaba Tul Ishaat.com

وي او د خپل عامل سره مبنتی نه وي.

**ترکیب**: منصوب ضمیر همیشه او په هر صورت کښي که تر عامل مخکي وي او که تر عامل وروسته وي مفعول به واقع کیږي لکه: إِيَّاكَ نَعْبُدُ، نَعْبُدُ إِيَّاكَ.

**مجرور متصل**: هغه ضمیرته وایي چي پر ځاي د اسم مجرور ولاړ وي. او د خپل عاملِ جاره سره مبنتی وي.

**ترکیب**: ضمیر مجرور متصل تر حرف جر وروسته هم راځي نو دا وخت همدا ضمیر، مجرور د جار لپاره وي او تر اسم وروسته هم راځي بیا د همدا اسم لپاره مضاف الیه وي او مضاف الیه همیشه مجرور (زېر لرونکی) وي، او دا ضمیر په محل کي د مجرور واقع سوی وي نو ځکه مجرور ورته وایي لکه: رَبُّكُمْ، نَبِيُّهُ، غُلَامُهُ.

## د ضمائرو د اجراء طریقه:

کله چي طالب دغه تعریفونه ښه یاد کړي تر هغه وروسته دي استاد په لاندي طریقه اجراء ورسره وکړي.

۱-اول دا پوښتنه وکړي چي په دغه عبارت کي ضمائر څو دي او کوم کوم دي.

۲-دغه ضمیر مرفوع دی منصوب دی او که مجرور؟

۳-متصل دی که منفصل؟

۴-که مرفوع متصل وي نو دي دا پوښتنه وکړي چي بارز دی که مستتر؟

۵-که مستتر وي نو دي دا پوښتنه وکړي چي جائز الاستتار دی که واجب الاستتار؟، بیا دي د جائز الاستتار او واجب الاستتار تعریف ځني وپوښتي.

**جائز الاستتار**: هغه ضمیر دی چي کله کله ئې پر ځاي اسم ظاهر واقع کیږي لکه: (هُوَ) ضمیر په (ضَرَبَ) کي.

**واجب الاستتار**: هغه ضمیر دی چي پر ځاي ئې اسم ظاهر نه واقع کیږي او همیشه فاعل وي لکه: أَضْرِبُ، نَضْرِبُ، اِضْرِبْ.

**فائده**:

**په نهو (۹) ځایو کي ضمیر واجب الاستتار وي**:

(۱) په واحد متکلم او جمع متکلم مضارع کي.

(۲) په واحد مذکر مخاطب مضارع کي.

(۳) په واحد مذکر مخاطب امر حاضر معلوم کي.

(۴) په اسم الفعل کي چي په معنیٰ د امر یا مضارع وي لکه: صَهْ، نَزَالِ او أُفٍّ، أَوَّهْ. (د اسماء افعال څه تفصیل به ضوابطو کي وګورئ)

(۵) په فعل التعجب کي چي پر وزن د (مَا أَفْعَلُ) وي لکه: مَا أَحْسَنَ الْعِلْمُ.

(۶) د اسماء صفت یعني اسم فاعل، اسم مفعول، مبالغه، صفت مشبه او اسم تفضیل ـ په تثنیه او جمع صیغو کي.

(۷) په هغه مصدر کي چي نائب د خپل فعل څخه وي لکه: صَبْرًا عَلَى الشَّدَائِدِ یعني أَنَا یا أَنْتَ.

(۸) په افعالو کي د استثناء لکه: خَلاَ، عَدَا، حَاشَا، لَيْسَ او لاَ يَكُوْنُ.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۹) په متعلق کې دظرف لکه: اَلاَمْرُ اِلَيْكَ، وَالْمَجْدُ بَيْنَ بُرْدَيْكَ.

## په څو ځايو کې ضمير جائزالاستتار وي:

(۱) په واحد مذکر غائب او واحده مؤنثه غائبه ماضي او مضارع کې.

(۲) د اسماء صفت د واحد په صيغو کې.

(۳) اسم فعل په معنٰی د ماضي کې لکه: هَيْهَاتَ، شَتَّانَ، سُرْعَانَ (بالضم والكسر لا بالفتح).

۱

۶-د ضمير حالت دې وپوښتي چي د واحد لپاره دی که د تثنيه يا جمْع لپاره؟

۷-بيا دې د ضمير مرجع و پوښتي که چيرې ضمير د غائب وي نو دې د مرجع درې اقسام وپوښتي چي لفظي، حکمي او معنوي دي..

۸-که مرجع لفظي وي نو حقيقي ده اوکه تقديري.

۹-که حکمي وي نو د هغه ضمير تفسير دې معلوم کړل سي چي مفرد دی که جمله. (د ضمير د مرجع تفصيل په ضوابطو کې وګورئ)

۱۰-که تفسير مفرد وي نو د ضمير نوم په دې وخت کې څه شی دی؟ او که تفسير جمله وي نو ضمير د مذکر دی که د مؤنث؟ که د مذکر دی نو نوم ئې څه شی دی او که د مؤنث دی نو نوم ئې څه شی دی.

۱۱-که مرجع معنوي وي نو دې دا پوښتنه وکړې چي د کلام د سياق څخه معلوميږي او که د خاص کلام څخه، بيا دې د هر يوه نوم وپوښتي.

**مثال**: اَلْكَلِمَةُ هِيَ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ.

استاد: په دې جمله کې مبنيات څو دي او کوم کوم دي؟

شاګرد: په دې جمله کې اوه مبنيات دي: ۱-(الف لام)، ۲-(هِيَ)، ۳-د (اِسْمٌ) (تنوين)، ۴-(واو)، ۵-د (فِعْلٌ) (تنوين)، ۶-(واو)، ۷-د (حَرْفٌ) (تنوين).

استاد: حبيب الرحمن! ته ووايه چي (هِيَ) ولي مبني دی او دا ووايه چي مبني الاصل دی که مشابه بالاصل دی.

شاګرد: دا ځکه مبني دی چي د معرب د اقسامو څخه نه دی او مشابه د مبني الاصل سره دی.

استاد: مشابه بالاصل پر څو قسمه دی او دا (هي) کوم قسم دي؟

شاګرد: مشابه بالاصل پر يوولس قسمه دی او (هي) د ضمائرو څخه دی.

استاد: ووايه چي ضمائر پر څو قسمه دي او دا کوم قسم دی؟

شاګرد: ضمائر پر پنځه قسمه دي او دی مرفوع منفصل دی.

استاد: مرفوع منفصل په ترکيب کي څه شی واقع کيږي.

شاګرد: که د فعل دمخه راسي نو مبتدا، او که د فعل څخه وروسته راسي نو تاکيد د فاعل واقع کيږي.

استاد: (هِيَ) د واحد لپاره دی که د تثنيې يا د جمع لپاره، او د مذکر لپاره دی که د مؤنث لپاره؟

شاګرد: د واحد او د مؤنث لپاره دی.

استاد: د متکلم لپاره دی که د مخاطب يا غائب لپاره؟

شاګرد: د غائب لپاره دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: مرجع ئې څه شی ده؟

شاګرد: مرجع ئې (اَلْکَلِمَةُ) دی.

استاد: مرجع پر درې قسمه ده لفظي، معنوي او حکمي، دا کوم قسم دی؟

شاګرد: مرجع لفظي ده.

استاد: مرجع لفظي پر دوه قسمه ده حقیقي او تقدیري دا کوم قسم دی؟

شاګرد: دا مرجع لفظي حقیقي ده.

## اسماء اشارات

**قاعده**: (ذَا) د مفرد مذکر لپاره او (ذَانِ) او (ذَیْنِ) د تثنیه مذکر لپاره راځي، (ذِهْ) او (تِهْ) د مفرد مؤنث لپاره راځي، (تَانِ) او (تَیْنِ) د تثنیه مؤنث لپاره راځي، (أُولَآءِ) او (أُولٰی) (بِالْمَدِّ وَالْقَصْرِ، وَالْمَدُّ أَفْصَحُ) د جمع مذکر او مؤنث لپاره راځي که جمع د عقلاء وي لکه دا قول د الله تعالٰی: أُولٰئِكَ عَلٰی هُدًی مِّنْ رَّبِّهِمْ وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ، او که د غیر عقلاء وي لکه دا قول د الله تعالٰی: إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا، البته اکثر د عقلاء لپاره راځي او د غیر عقلاء لپاره (تِلْكَ) مستعملیږي لکه دا قول د الله تعالٰی: وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ.

### د مشار الیه مراتب:

د مشار الیه لپاره درې مراتب دي: ١-قریبه ٢-بعیده ٣-متوسطه.

د قریبې لپاره په هغه اسم اشاره سره اشاره کیږي چي لام او کاف نه وي پکښې

لکه: اَكْرِمْ هٰذَا الرَّجُلَ يا هٰذِهِ الْمَرْاَةُ.

د متوسطي لپاره هغه اسم اشاره مستعمليږي چي يوازي كاف وي پكښي لكه:

اِرْكَبْ ذَاكَ الْحِصَانَ يَأْتِيْكَ النَّاقَةُ.

او د بعيدي لپاره هغه اسم اشاره مستعمليږي چي كاف او لام دواړه وي پكښي

لکه: خُذْ ذٰلِكَ الْقَلَمَ، يا تِلْكَ الدَّوَاةَ.

## د اسماء اشاراتو تركيب:

اسم اشاره د دوو حالو څخه خالي نه وي: مشار اليه به ئې مذكور وي يا نه، كه مذكور وي نو بيا د دوو حالو څخه خالي نه وي: ۱-مقدم به وي، ۲-يا به مؤخر وي، كه مقدم وي نو په تركيب كي مشار اليه موصوف او اسم اشاره ئې صفت وي لکه: مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا.

او كه مشار اليه مؤخر وي نو بيا د دوو حالو څخه خالي نه وي: ۱-مقرون با للام، ۲-مجرد عن اللام، كه مقرون باللام وي نو په تركيب كي اسم اشاره موصوف او مشار اليه ئې صفت واقع كيږي لكه: ذٰلِكَ الْكِتَابُ.

او كه مجرد عن اللام وي نو په تركيب كي اسم اشاره مبتدا او مشار اليه ئې خبر وي لكه: هٰذَا زَيْدٌ.

او كه اسمه مجرد د لام څخه راسي، اول معرفه وي او دوهم نكره وي نو بيا دغه معرفه د اسم اشارې لپاره صفت واقع كيږي، او هغه دوهم نكره اسم خبر واقع كيږي لكه: هٰذَا زَيْدٌ مُقْبِلٌ.

او كه دواړه نكره واقع سي، اول ئې جامد وي نو اسم اشاره مبتدا واقع كيږي،

Maktaba Tul Ishaat.com

او دواړه نکره اسمونه صفت او موصوف خبر د اسم اشارې لپاره وي لکه: هٰــذا رَجُلٌ فاضِلٌ.

او که دواړه نکره اسمونه مشتق وه نو بیا دواړه د اسم اشارې لپاره خبرين واقع کیږي لکه: هٰذا كَاتِبٌ شَاعِرٌ.

او که د اسم اشارې سره مشار اليه ذکر نه وي نو بیا د دوو حالو څخه خالي نه دی: پر اسم اشاره به حرف جر داخل وي یا به نه وي، که پر اسم اشاره حرف جر داخل نه وي نو بیا به ئې د مابعد کلمه اسم وي یا به فعل وي یابه حرف، که اسم وي نو مبتدا د خبر واقع کیږي لکه: ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ، او که ئې مابعد فعل وي نو بیا هم مبتدا د خبر واقع کیږي لکه: ذٰلِكَ ثَبَتَ، او که حرف جر وي نو اسم اشاره مبتدا او حرف جر سره د متعلقه خبر واقع کیږي لکه: أُولٰئِكَ على هُدًى.

او که خپله پر اسم اشاره حرف جر داخل وي نو وروسته کلمې ته ئې کتل کیږي: که اسم وي نو اسم اشاره خبر مقدم او وروسته اسم ئې مبتدا مؤخر وي لکه: كَذَالِكَ الْعَذَابُ.

او که وروسته کلمه فعل وي نو اسم اشاره ظرف مستقر د فعل محذوف لپاره مفعول مطلق واقع کیږي او د فعل محذوف تفسیر وروسته فعل کوي لکه: كَذَالِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ أيْ حَقَّتْ حَقًّا ثَابِتاً كَذَالِكَ.

او که تر اسم اشارې وروسته نه مشار اليه وي، نه اسم، نه فعل او نه حرف وي نو په دې صورت کې د ماقبل فعل لپاره مفعول به واقع کیږي لکه: قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَ كُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ أنَّ اللهَ حَرَّمَ هٰذَا.

## د اسماء اشاراتو د اجراء طريقه:

۱-تر ټولو مخکي دا معلوم کړی چي ولي مبني دی؟ ۲-بیا دا معلوم کړی چي د واحد لپاره دی، که د تثنیه یا د جمع لپاره، ۳-د مذکر لپاره دی که د مؤنث د پاره، ۴-او بیا ئي مشار الیه معلوم کړئ ۵-او بیا دا معلوم کړئ چي د بعید لپاره دی که د قریب یا متوسط لپاره؟ ۶-ترکیب ئي وکړئ.

**مثال:** ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ.

استاد: (ذٰلِكَ) ولي مبني دی؟

شاګرد: د معرب د اقسامو څخه نه دی.

استاد: د مبني کوم قسم دی؟

شاګرد: مشابه بالاصل دی او په مشابه بالاصل کي اسم اشاره دی.

استاد: د مشابهت وجهه ئي څه شی ده؟

شاګرد: شبه افتقاري ده.

استاد: د مذکر لپاره دی که د مؤنث لپاره؟

شاګرد: د مذکر لپاره دی.

استاد: د واحد لپاره دی که تثنیه یا جمع لپاره؟

شاګرد: د واحد لپاره دی.

استاد: مشار الیه ئي څه شی دی؟

شاګرد: مشار الیه ئي (اَلْكِتٰبُ) دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاذ: دا اسم اشاره د قريب لپاره ده که د بعيد يا متوسط لپاره؟

شاگرد: د بعيد لپاره دی.

استاد: تا وویل چي مشار اليه (اَلْكِتٰبُ) دی نو هغه خو قريب دی بعید نه دی؟

شاگرد: بُعد پر دوه قسمه دی: ۱-حسي، ۲-رتبي، کتاب بعيد دی رتبةً نه حساً.

## الاسماء الموصولة

**تعريف**: اسماء موصوله هغه دي چي دلالت پر معين شی کوي په واسطه د هغه جملې چي وروسته تر دوي ذکر کيږي، او دغه جملې ته صله وايي، او د صلې لپاره درې شرائط دي:

### د صلې شرائط:

۱-صله به جمله وي يا قائم مقام د جملې.

۲- صله به جملهٔ خبريه وي.

۳-په صله کي به ضمير وي راجع به وي موصول ته.

اسماء موصوله پر دوه قسمه دي: ۱-خاصه ۲-مشترکه.

**خاصه**: هغه دي چي مفرد، تثنيه او جمع، مذکر او مؤنث راځي پر مقتضٰی د کلام، او هغه: (اَلَّذِيْ) چي د مفرد مذکر لپاره راځي، (اَللَّذَانِ وَاللَّذَيْنِ) د تثنيه مذکر لپاره راځي، (اَلَّذِيْنَ) د جمع مذکر عاقل لپاره راځي، (اَلَّتِيْ) د مفرد مؤنث لپاره راځي، (اَللَّتَانِ وَاللَّتَيْنِ) د تثنيه مؤنث لپاره راځي، (اللاَّتِيْ وَاللَّوَاتِيْ وَاللاَّئِيْ) د

جمع مؤنث لپاره راځي، (اَلْأُلىٰ) د جمع مطلق لپاره راځي مذکر وي او که مؤنث، عاقل وي او که غیر عاقل.

**مشترکه**: هغه دي چې د ټولو لپاره په یوه لفظ سره راځي، او هغه دي: (مَنْ، مَا، ذَا، أيٌ، ذُوْ) البته (مَنْ) د عاقل او (مَا) د غیر عاقل لپاره راځي، خو کله کله یو د بل لپاره هم مستعملیږي لکه: أَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لاَّ يَخْلُقُ، فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَاءِ.

## د اسماء موصولاتو ترکیب:

اسم موصول به د دوو حالو څخه خالي نه وي: په ابتدا کي د کلام به وي یا به تر یو کلمې وروسته وي.

که په ابتدا کي وو نو د درو حالو څخه به خالي نه وي:

١-یا به مدخول د حرف جر وي نو په دې صورت کي جار و مجرور خبر مقدم واقع کیږي لکه: وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ.

٢-یا به مدخول د نواسخو وي نو په دې صورت کي دئ اسم د نواسخو واقع کیږي لکه: إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا.

**فائده**: نواسخ شپږ ډلي دي:

(١)(كَانَ) او د هغه اخوات.

(٢)(إِنَّ) او د هغه اخوات.

(٣)(كَادَ) او د هغه اخوات.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴)(لَا) النافية للجنس.

(۵)(لَيْسَ) او د هغه اخوات.

(۶)(ظَنَّ) او د هغه اخوات.

۳-او يا به د دوارو څخه خالي وي نو په دې صورت کې مبتدا واقع کيږي لکه: اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ قَائِمٌ.

او که تر يو کلمې وروسته وي نو بيا د درو حالو څخه خالي نه دی:

۱-تر جار و مجرور وروسته به واقع وي نو مبتدأ مؤخره ده لکه: لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰاتِ.

۲-تر فعل وروسته به واقع وي نو په دې صورت کې فاعل يا مفعول به واقع کيږي لکه: جَاءَ الَّذِيْ أَكْرَمَكَ. أَكْرَمْتُ الَّذِيْ أَعَانَكَ.

۳-او يا به تر اسم وروسته واقع وي نو په دې صورت کې به د شپږو حالو څخه خالي نه وي:

۱-دغه اسم به خالي د الف لام او تنوين څخه وي نو په دې صورت کې مضاف او مضاف اليه صفت د ماقبل لپاره وي او يا بدل لکه: صِرَاطَ الَّذِيْنَ.

۲-دغه اسم به معرف باللام وي نو بيا صفت و موصوف واقع کيږي لکه: لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ.

۳-دغه اسم به معرفه په اضافت سره وي نو په دې صورت کې هم صفت و موصوف واقع کيږي لکه: أُمَّهَاتُكُمُ اللَّتِيْ.

۴-دغه اسم به علم وي نو په دې صورت کې هم صفت و موصوف واقع

کيږي لکه: مُحَمَّدٌ نِ الَّذِيْ اَکْرَمَكَ قَائِمٌ.

۵-دغه اسم به ضمير وي نو په دې صورت کې مبتدا و خبر واقع کيږي لکه هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشاً.

۶-د اسم اشاره وروسته به واقع وي نو په دې صورت کي هم مبتدا و خبر وي لکه: اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰـلَةَ.

## د اسماء موصولاتو د اجراء طريقه:

د اسماء موصولاتو په اجراء کي دي استاد محترم د طالبانو څخه لاندي پوښتني وکړي:

۱-اسم موصول ولي مبني دی؟

۲-مبني الاصل دی که مشابه د مبني الاصل؟

۳-د مشابهت وجهه ئې څه شی ده؟

۴-د واحد لپاره دی که د تثنيه يا د جمع لپاره؟

۵-د مذکر لپاره دی او که د مؤنث؟

۶-صله ئې څه شی ده؟

۷-د صلې لپاره چي کوم شرائط دي هغه په دې صله کي موجود دي او که نه؟

**مثال**: تُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ.

استاذ: عبدالجليل! ته ووايه چي په دې آيت شريف کي اسم موصول سته که

Maktaba Tul Ishaat.com

نه؟

شاگرد: په دې اٰيت کې دوه اسم موصول دي چې (مَنْ) دی دوه ځايه.

استاد: معرب دی که مبني دی؟

شاگرد: مبني دی.

استاد: مبني الاصل دی که مشابه دی؟

شاگرد: مشابه دی.

استاد: که مشابه دی نو د مشابهت وجهه ئې څه شی ده؟

شاگرد: د مشابهت وجهه ئې شِبهِ افتقاري ده (د مشابهت اقسام به په ضوابطو کې ذکر کړو انشاء الله تعالی).

استاد: د واحد لپاره دی که د تثنیه یا جمع لپاره؟ بیا د مذکر لپاره دی که د مؤنث لپاره؟

شاگرد: (مَنْ) عام دی: د واحد، تثنیه، جمع، مذکر، او مؤنث ټولو لپاره راځي.

استاد: د اول (مَنْ) صله څه شی ده او د دوهم (مَنْ) صله څه شی ده؟

شاگرد: د دواړو صله (تَشَاءُ تَشَاءُ) دي.

استاد: د صلې لپاره څو شرائط دي او کوم کوم دي؟

شاگرد: د صلې لپاره درې شرائط دي:

۱-صله به جمله وي یا قائم مقام د جملې.

۲-صله به جمله خبریه وي.

۳-په صله کې به ضمیر وي راجع به وي جملې ته او کله کله حذف کیږي

هم.

**فائده**: د مبني د نورو اقسامو اجراء هم د اسم موصول پر اجراء قياس كړي او لاندي پوښتني كوي:

۱-ولي مبني دی، ۲-مبني الاصل دی او كه مشابه بالا صل دی، ۳-مشابهت ئې د مبني الاصل سره څه شی دی، ۴-د هر لفظ مكمل نحوي تحقيق پوښتي.

## د مبني الاصل د اجراء طريقه

## د فعل ماضي د اجراء طريقه:

د فعل ماضي ټولي څوارلس صيغي دي، د دوو صيغو يعني (ضَـــرَبَ) او (ضَرَبَتْ) څخه ماسيوا نوري ټولي صيغې فعل سره د فاعل دي يعني فاعل هيڅ كله نه ځني جلا كيږي، او د دوو صيغو حكم دا دی: كه په ابتداء كي راسي نو فاعل ئې هميشه اسم ظاهر وي لكه: ذَهَبَ اللّٰهُ، خَتَمَ اللّٰهُ، عَلِمَتْ نَفْسٌ.

او كه په وسط كي راسي نو په دوي كي فاعل هميشه ضميرمستتر وي، او د وسط ټول شپږ مقامه دي.

### د وسط مقامات:

**المقام الاول**: چي (فَعَلَ) يا (فَعَلَتْ) خبر د مبتدا واقع سوي وي لكه: زَيْدٌ ضَرَبَ، هِنْدٌ ضَرَبَتْ.

**المقام الثاني**: د موصوف صفت واقع سوي وي لكه: تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ.

Maktaba Tul Ishaat.com

(خَلَتْ) د ماضي صيغه ده د موصوف لپاره صفت واقع ده او په وسط کې ده نو خکه په ده کې (هِيَ) ضمير فاعل دی.

**المقام الثالث**: د موصول صله واقع وي لکه: رَبُّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ.

**المقام الرابع**: د ذوالحال لپاره حال وي لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ رَكِبَ.

**المقام الخامس**: معطوف وي پر يوه د دغو څلورو ځايو، د اول مثال لکه: عَلِيٌّ يَقْرَأُ وَيَكْتُبُ، د دوهم مثال لکه: رَأَيْتُ مُتَعَلِّماً قَدِ اجْتَهَدَ فِي الدُّرُوْسِ وَنَجَحَ فِي الْاَخْتِبَارِ، د دريم مثال لکه: اَلَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً، د څلورم مثال لکه: لِيَعْلَمَ أَنْ قَدْ أَبْلَغُوْا رِسَالَاتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَداً.

**المقام السادس**: د ماضي داسي صيغه راسي چې د ضمير مرجع ئې مخکې ذکر سوې وي (حقيقتاً يا حكماً) نو په هغه وخت کې دا په وسط کې بلل کيږي لکه: عَبَسَ وَتَوَلّٰى.

په (عَبَسَ) کې د ضمير مرجع مخکې مفهوم سوې ده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دی نو فاعل ئې ضمير دی.

**تنبيه**: د دغو شپږو ځايو لپاره يو عدمي شرط دی هغه دا دی چې تر دغو شپږو ځايو وروسته داسي ضمير نه وي چې راجع وي يوه ته د دغو شپږو ځايو که داسي وو نو بيا ئې فاعل اسم ظاهر واقع کيږي مثال ئې لکه: اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ، (ضَلَّ) فعل ماضي دی او په وسط کې دی ليکن تردې وروسته هم ضمير راغلی دی چې راجع دی (اَلَّذِيْنَ) ته، نو د (ضَلَّ) فاعل اسم ظاهر دی چې (سَعْيٌ) دی.

## د فعل ماضي د دوو صیغو د اجراء طریقه چي په ابتدا کي وي

**مثال:** خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ.

استاد: په دې اٰیت شریف کي فعل ماضي سته که یا که سته نو وئې ښیه.

شاگرد: هو سته (خَتَمَ) دی.

استاد: دا مبني دی که معرب؟

شاگرد: مبني دی.

استاد: ولي مبني دی؟

شاگرد: ځکه چي ماضي ده.

استاد: چي ماضي ده نو د دولسو ځخه ده که د دوو ځخه؟

شاگرد: د دوو ځخه ده.

استاد: په ابتداء کي ده که په وسط کي؟

شاگرد: په ابتداء کي ده..

استاد: قاعده ئې بیان کړه.

شاگرد: چي په ابتداء کي راسي نو قاعده دا ده چي فاعل ئې اسم ظاهر وي.

استاد: په دې اٰیت شریف کي ئې فاعل څه شی دی؟

شاگرد: فاعل ئې لفظ (اللّٰه) دی.

استاد: شاباش (اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ).

## د فعل ماضي د دوو صیغو د اجراء طریقه چي په وسط کي وي

**مثال:** رَبُّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاذ: په دې آيت شريف کې فعل ماضي سته که يا، که سته نو کومه ده؟

شاګرد: په دې آيت شريف کې ماضي سته هغه (خَلَقَ) دی.

استاد: د دوو څخه ده که د دولسو څخه ده.

شاګرد: د دوو څخه ده.

استاد: په ابتداء کې ده که په وسط کې؟

شاګرد: په وسط کې ده.

استاد: د وسط په شپږو مقاماتو کې کوم مقام دی؟

شاګرد: دريم ځای دی يعني صله د موصول ده.

استاد:قاعده ئې بيان کړه.

شاګرد: چې په وسط کې راسي نو قاعده دا ده چې فاعل ئې ضمير مستتر وي يعني (هُوَ) يا (هِيَ).

## د فعل ماضي د دوولسو صيغو د اجراء طريقه:

**مثال**: وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاساً.

استاد: په دې آيت شريف کې ماضي سته که نه او که سته نو معلومه ئې کړه؟

شاګرد: هو سته (جَعَلْنَا) دی.

استاد: د دوو څخه ده که د دولسو څخه؟

شاګرد: د دوولسو څخه ده.

استاد: د دولسو لپاره څه قاعده ده؟

شاګرد: د دوولسو لپاره قاعده داده چې هميشه فعل سره د فاعل وي.

استاد: دلته ئې فاعل څه شی دی؟

شاګرد: فاعل ئې (نا) ضميري دی.

## د فعل مضارع د اجراء طريقه:

د فعل مضارع د اجراء دوې طريقې دي:

١-د فاعل په اعتبار، چي فاعل ئې اسم ظاهر دی که ضمير.

٢-د اعراب په اعتبار.

## د فعل مضارع د اجراء طريقه د فاعل په اعتبار:


د فعل مضارع هم ټوله څوارلس صيغې دي، په نهو صيغو کي ئې فاعل همیشه ضميرِ مرفوع متصل بارز وي، او د پاته پنځو صيغو څخه ئې په دوو صيغو يعني (يَضْرِبُ، تَضْرِبُ) کي ضمير جائز الاستتار دی او په درو صيغو يعني (تَضْرِبُ، أَضْرِبُ، نَضْرِبُ) کي واجب الاستتار دی.

**فائده**: په کومو دوو صيغو کي چي ضمير جائز الاستتار دی يعني (يَضْرِبُ، تَضْرِبُ) د هغوي لپاره بعينه هغه طريقه او احکام دي کوم چي د فعل ماضي د دوو صيغو لپاره وه، او د معلوم او مجهول فرق هم نسته.

اوس د فعل مضارع د اقسامو نقشه ذکر کوو:

Maktaba Tul Ishaat.com

# د فعل مضارع د اقسامو نقشه



## د فعل مضارع د دوو صيغو د اجراء طريقه چي په ابتداء کي وي

**مثال**: لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلاَّ مَنْ ظُلِمَ.

استاد: په دې آيت شريف کي فعل مضارع سته که يا، که سته نو کوم دی؟

شاگرد: هو سته (يُحِبُّ) دي.

استاد: د نهو څخه ده که د پنځو څخه؟

شاگرد: د پنځو څخه ده.

استاد: د درو څخه ده که د دوو څخه؟

شاگرد: د دوو څخه ده.

استاد: په ابتداء کي ده که په وسط کي؟

شاگرد: په ابتداء کي ده.

استاد: قاعده ئې څه ده؟

شاگرد: قاعده ئې دا ده چي په ابتدا کي راسي فاعل ئې اسم ظاهر وي.

استاد: فاعل او مفعول ئې څه شی دی؟

شاگرد: فاعل ئې لفظ (اللّٰه) دی او مفعول ئې (اَلْجَهْرَ) دی.

استاد: د نهو څخه څه مراد دي؟

شاگرد: د نهو څخه مرا د نون والا صيغې دي.

استاد: د پنځو څخه کومي صيغې مراد دي؟

شاگرد: غير نون والا.

استاد: د درو څخه کومي صيغې مراد دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

شاگرد: د درو څخه هغه صيغې مراد دي چې ضمير ئې واجب الاستتار دی.

استاد: د دوو څخه کومې صيغې مراد دي؟

شاگرد: د دوو څخه هغه دوې صيغې مراد دي چې ضمير ئې جائز الاستتار دی.

## د فعل مضارع د اجراء طريقه د اعراب په اعتبار:

د فعل مضارع په څوارلس صيغو کې دوې صيغې يعني (يَضْرِبْنَ، تَضْرِبْنَ) مبني دي نو اعراب ئې محلي دی، پاته دوولس صيغې معرب دي، هغه بيا پر دوه قسمه دي: ۱-پنځه، بيله نوناتو، ۲-اوه، سره د نوناتو

## د فعل مضارع د پنځو (۵) صيغو اعراب:

دا پنځه صيغې پر دوه قسمه دي: ۱-صحيح، ۲-معتل.

**د صحيح اعراب**: رفع په ضمه سره نصب په فتحه سره او جزم په سکون سره د لام.

**مثال**: د رفع مثال لکه: هُوَ يَضْرِبُ د نصب مثال لکه: لَنْ يَضْرِبَ او د جزم مثال لکه: لَمْ يَضْرِبْ.

معتل پر دوه قسمه دی: ۱-معتل واوي و يايي، ۲-معتل الفي.

**د معتل واوي او يايي اعراب**: رفع په تقدير د ضمې، نصب په فتحهٔ لفظي سره او جزم په حذف سره د لام کلمې.

**مثال**: د رفع مثال په واوي کې: هُوَ يَغْزُوْ، او په يايي کې: هُوَ يَرْمِيْ، د نصب

مثال په واوي کي: لَنْ يَغْزُوَ، او په يايي کي: لَنْ يَرْمِيَ، د جزم مثال په واوي کي

يَغْزُ، او په يايي کي: لَمْ يَرْمِ.

**د معتل الفي اعراب**: رفع په تقدير د ضمې نصب په تقدير د فتحې

جزم ئې په حذف د لام.

**مثال**: د رفع مثال: هُوَ يَرْضٰى د نصب مثال: لَنْ يَرْضٰى او د جزم مثال: لَمْ

يَرْضَ.

## د فعل مضارع د اوو (۷) صيغو اعراب:

رفع ئې په اثبات سره د نون، نصب او جزم ئې په حذف سره د نون دی

يعني که صحيح وي که معتل واوي وي که يايي او که اَلفي.

**مثال**: د رفع مثال په صحيح کي: هُمَا يَضْرِبَانِ، په معتل واوي کي:

يَغْزُوَانِ، او په معتل يايي کي: هُمَا يَرْمِيَانِ، او په معتل الفي کي: هُمَا يَرْضَيَانِ

د نصب مثال په صحيح کي: لَنْ يَضْرِبَا، په معتل واوي کي: لَنْ يَغْزُوَا، په معتل

يايي کي: لَنْ يَرْمِيَا، په معتل الفي کي: لَنْ يَرْضَيَا.

د جزم مثال په صحيح کي: لَمْ يَضْرِبَا، په معتل واوي کي: لَمْ يَغْزُوَا، په معتل يايي

کي: لَمْ يَرْمِيَا، او په معتل الفي کي: لَمْ يَرْضَيَا.

## د فعل مضارع د اوو (۷) صيغو د اجراء طريقه:

**مثال**: لا يَرْفَعُكَ اِلاَّ عَمَلُكَ.

استاد: (يَرْفَعُ) د دوو ځخه دی که د دوولسو ځخه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

شاگرد: د دوولسو څخه دی.

استاد: په دوولسو کې د پنځو څخه دی که د اوو څخه؟

شاگرد: د پنځو څخه دی.

استاد: په پنځو کې صحیح دی که معتل، که معتل دی نو واوي دی که یائي که الفي دی؟

شاگرد: صحیح دی.

استاد: د صحیح اعراب څه شی دی؟

شاگرد: رفع په ضمه سره نصب په فتحه سره جزم په سکون سره د لام.

استاد: په کوم حالت کې دی او اعراب ئې څه شی دی؟

شاگرد: په حالت کې د رفع دی، اعراب ئې ضمه ده.

استاد: رفع څه شی ورکړې ده؟

شاگرد: رفع خلو ورکړې ده.

استاد: خلو څه شی ته وائي؟

شاگرد: خلو وایي خالي والی ته د مضارع د عامل ناصب او جازم څخه.

تنبیه: د معتل د صیغو اجراء د طوالت د خوف څخه نه ذکر کوو، پر ما قبل ئې قیاس ـ کیداي سي.

## د امر حاضر معلوم د اجراء طریقه:

د امر شپږ صیغې دي: په خلورو کې ئې ضمیر بارز دی،او په (اِضْرِبْ) کې

ضمير واجب الاستتار دی، او په (اِضْرِبِيْ) کي اختلاف دی: بعض وايي چي په (اِضْرِبِيْ) کي (يا) ضمير دی او بعض وايي چي (أَنْتِ) ضمير پکښي مستتر دی.

**مثال**: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا.

استاد: احمد الله ! ته ووايه (اِغْفِرْ) معرب دی که مبني؟

شاګرد: دا مبني دی ځکه چي مبني الاصل يعني امر دی.

استاد: د امر د شپږو صيغو څخه کومه صيغه ده او کوم ضمير دی پکښي؟

شاګرد: واحد مذکر امر حاضر دی او واجب الاستتار ضمير پکښي دی چي (أَنْتَ) دی.

## اسم متمکن

### د اسم متمکن د اقسامو خلاصه.

د اسم متمکن دوديرش (٣٢) اقسام پر دوه قسمه دي:

١-**منصرف**، ٢-**غير منصرف**

د غير منصرف ټول دري اقسام دي: ١-چي اعراب ئې لفظي وي لکه: جَاءَنِيْ أَحْمَدُ الخ ، (چي اعراب ئې تقديري وي هغه دوه دي)، ٢-اسم مقصور غير منصرف لکه: حُبْلٰى، ٣-اسم منقوص غير منصرف لکه: جَوَارٍ.

پاته نه ويشت اقسام د منصرف دي.

**منصرف پر دوه قسمه دی:**

۱-خاصه، ۲-عامه.

**خاصه**: هغه ته وايي چي تر مخصوصو الفاظو پوري خاص وي، او دا پر اته (۸) قسمه دي:

۱-اسماء سته چي مضاف وي و غير ته د (ياء) متكلم.

۲-اسماء سته چي مضاف وي معرف باللام ته.

۳- (كِلاَ) او (كِلْتَا) چي مضاف وي ضمير ته.

۴-(كِلاَ) او (كِلْتَا) چي مضاف وي اسم ظاهر ته.

۵- (اِثْنَانِ) او (اِثْنَتَانِ).

۶- (أُولُوْ).

۷- (عِشْرُوْنَ) تر (تِسعُوْنَ) پوري.

۸-لفظ د (فَمٌ) چي مضاف وي و (يا) ته د متكلم.

**عامه**: هغه دي چي تر مخصوصو الفاظو پوري خاص نه وي، او پاته يوويشت (۲۱) اقسام عامه دي.

**په عامه وو كي شپږ جمع دي**: ۱-جمع مكسر منصرف لكه: رِجَالٌ، ۲-جمع مؤنث سالم لكه: مُسْلِمَاتٌ، ۳-جمع مذكر سالم لكه: مُسْلِمُوْنَ، ۴-جمع مذكر سالم مضاف الى ياء المتكلم لكه: مُسْلِمِيَّ، ۵-جمع مؤنث سالم مضاف الى ياء المتكلم لكه: مُسْلِمَاتِيَّ، ۶-جمع مذكر سالم مضاف و معرف باللام ته لكه: مُسْلِمُو الْقَوْمِ.

**څلور تثنيې دي**: ۱-مثنى، ۲-مثنى مضاف الى ياء المتكلم لكه غلاماي، ۳-مثنى مضاف و معرف باللام ته لكه: مُسْلِمَا الْقَوْمِ، ۴-تثنيه چې په اعراب حكايي سره مشغول وي لكه: لَفْظُ أَبَوَاهُ مَرْفُوْعٌ فِيْ هٰذِهِ الآيَةِ: فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ (الآية).

**او مفرد دي**: ۱-مفرد منصرف صحيح، ۲-جاري مجري صحيح، ۳-غير د جمع او تثنيې چې مضاف وي و يا ته د متكلم لكه: غُلامِـــيْ، ۴-اسم منقوص چې مضاف وي و يا ته د متكلم لكه: قَاضِـــيَّ، ۵-اسم منقوص لكه قَاضِيْ، ۶-اسم مقصور لكه: مُوْسٰى، ۷-كلمهٔ مبنيه چې د يو چا نوم كېښېښول شي لكه: رُبَّ.

**څلور مشترک دي**: ۱-حركت اتباعيه لكه: وَاَرْجُلِكُمْ چې د (بِرُؤُوْسِكُمْ) اتباع په وجه مجرور دی، ۲-جر جوار لكه: اَلْحَمْدِ لِلّٰهِ چې دال ته لام د جوار په وجه جر وركول سوی دی، ۳-حالت وقف لكه: جَاءَ زَيْـــدْ، ۴-اعراب حكايي لكه: په (فَلِذٰلِكَ صُرِفَ أَرْبَعٍ فِيْ مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ أَرْبَعٍ) كي چې د (أَرْبَعٍ) اعراب په (صُرِفَ أَرْبَعٍ) كي اعراب حكايي دی. كه نه نو مرفوع به ويل كيداي.

## د اسم متمكن د اجراء طريقه:

د معرب د دوهم قسم (يعني اسم متمكن چې په تركيب كي واقع وي) اجراء:

**مثال**: وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

... عَظِیْمٌ.

استاد: (عَذَابٌ) د عامه وو څخه دی که د خاصّه وو څخه؟

شاگرد: د عامّه وو څخه دی.

استاد: عامّه څو دي؟

شاگرد: عامّه یوولس دي.

استاد: کوم کوم دي؟

شاگرد: ١-مفرد منصرف صحیح، ٢-مفرد منصرف جاري مجرى صحیح ٣-جمع مکسر، ۴-جمع مؤنث سالم، ۵-غیر منصرف، ۶-مثنی، ٧-جمع مذکر سالم، ٨-اسم مقصور، ٩-غیر د جمع مذکر سالم مضاف الی یاء المتکلم، ١٠-اسم منقوص، ١١-جمع مذکر سالم مضاف الی یاء المتکلم.

استاد: خاصه څو دي؟

شاگرد: خاصه پنځه دي.

استاد: کوم کوم دي؟

شاگرد: ١-اسماء سته مکبره، ٢-کِلَا و کِلْتَا، ٣-اِثْنَانِ وَاثْنَتَانِ، ۴-اُولُـوْ، ۵-

... تر تِسْعُوْنَ پوري.

استاد: (عَذَابٌ) د عامه وو څخه منصرف دی که غیر منصرف؟

شاگرد: منصرف دی.

استاد: د منصرف علامه ئې وښايه؟

شاگرد: علامه ئې دا ده چي دوه سببه يا يو سبب قائم مقام د سببينو نسته پکښي.

استاد: (عَذَابٌ) په منصرف كي د پنځو مفرداتو څخه دی يعني: ١-مفرد منصرف صحيح ٢-جاري مجرای صحيح ٣-اسم مقصور ۴-اسم منقوص ٥-غير د جمع مذكر السالم مضاف الي يا المتكلم، او كه د څلورو جمعو څخه دی يعني: ١-جمع مكسر منصرف، ٢-جمع مذكر سالم، ٣-جمع مؤنث سالم، ۴-جمع مذكر سالم مضاف الٰى ياء المتكلم، او كه د تثنيې څخه دی؟

شاگرد: د مفرداتو څخه دی او مفرد منصرف صحيح دی.

استاد: د مفرد منصرف صحيح اعراب څه شی دی؟

شاگرد: رفع په ضمه سره دی لفظاً نصب په فتحه سره لفظاً او جر په كسره سره لفظاً.

استاد: د عَذَابٌ حالت د اعراب څه شی دی او ولي دی؟

شاگرد: حالت ئې د رفع دی ځكه چي مبتدا واقع دی.

استاد: (عَظِيْمٌ) خاصه دی كه عامه؟

شاگرد: دا هم عامه دی.

استاد: دعامه څخه منصرف دی كه غير منصرف؟

شاگرد: منصرف دی.

استاد: د مفرداتو څخه دی كه د تثنيې يا جمع څخه دی؟

شاگرد: مفرد منصرف صحيح دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: د اعراب حالت ئې ووايه.

شاګرد: په حالت کې د رفع دی ځکه چې صفت د مبتدا دی.

**فائده:** چې هر کله معرب ثابت سي نو د څلورو شيانو سوال کيږي.

١-ولې معرب دی ٢-اعراب ئې څه شی دی ٣-محل د اعراب څه شی دی ٤-عامل ئې څه دی.

ليکن د محل اعراب سوال هغه وخت کيږي چې د معرب اعراب بالحرکت وي او که د معرب اعراب بالحرف وو بيا د محلِ اعراب سوال نه کيږي.

# د اسم تقسيمات

د اسم دري تقسيمات ذکر کوو: ۱-د عموم او خصوص په اعتبار سره، ۲-د جنس په اعتبار سره، ۳-د تعدد په اعتبار سره.

## د اسم اول تقسيم: (معرفه او نکره)

اسم په اعتبار د عموم او خصوص پر دوه قسمه دی ۱-معرفه، ۲-نکره. د هر يوه تعريف سره د اقسامو او علامتو ذکر کوو:

**د معرفه تعريف:** معرفه هغه اسم دی چي د معين شي لپاره استعمال سي لکه: زَيْدٌ (د معرفه څوارلس (۱۴) اقسام دي په ضوابطو کي يې وګورئ)

**د نکره تعريف:** نکره هغه اسم دی چي د غير معين شي لپاره استعمال سي لکه: رَجُلٌ فَرَسٌ (د نکره څلوريښت علامات دي په ضوابطو کي يې وګورئ)

## د معرفه اونکره د اجراء طريقه:

د دې اجراء بالکل اسانه ده څکه چي په مثال کي ګورو چي د معرفي د څوارلسو اقسامو څخه يو قسم سته که نه، که وو نو معرفه ده که نه وو نو نکره دی.

**مثال:** سُبْحَانَ الَّذِيْ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ

Maktaba Tul Ishaat.com

الأقصىٰ.

استاد: (سُبْحَانَ) معرفه دى که نکره؟

شاگرد: معرفه دى.

استاد: ولي معرفه دى؟

شاگرد: مضاف دى اسم موصول ته.

استاد: (اَلَّذِيْ) معرفه دى که نکره؟

شاگرد: معرفه دى.

استاد: ولي معرفه دى؟

شاگرد: ځکه چي اسم موصول دى.

استاد: (أسْرٰى) معرفه دى که نکره؟

شاگرد: نه معرفه دى نه نکره.

استاد: ولي؟

شاگرد: ځکه چي معرفه او نکره د اسم اقسام دي او دا فعل دى.

استاد: په (بِعَبْدِهٖ) کي (ب) معرفه ده که نکره؟

شاگرد: نه معرفه ده نه نکره ځکه چي دا حرف دى معرفه او نکره د اسم اقسام دي.

استاد: (بِعَبْدِهٖ) معرفه دى که نکره؟

شاگرد: معرفه دى ځکه مضاف دى.

استاد: (هَا) ضمير څه شى دى؟

شاګرد: معرفه دی ځکه چې د ضمائرو څخه دی.

استاد: (مِنْ) څه شی دی؟

شاګرد: (مِنْ) نه معرفه دی او نه نکره ځکه حرف دی.

**فائده**: هم داسي د هري کلمې په باره کي سوال وکړه سي.

## د اسم دوهم تقسيم: (مذكر او مؤنث)

اسم په اعتبار د جنس پر دوه قسمه دی: ۱-مذکر، ۲-مؤنث.

د هر یوه تعریف سره د علاماتو او اقسامو موږ مختصر ذکر کوو بیا ئې اجراء ذکر کوو:

**د مذکر تعريف**: مذکر هغه اسم دی چې علامه د تانيث نه لفظي وي پکښې او نه تقديري لکه: رَجُلٌ، فَرَسٌ.

**د مؤنث تعريف**: مؤنث هغه اسم دی چې علامه د تانيث وي پکښې لفظي يا تقديري لکه: اِمْرَأَةٌ، أَرْضٌ.

### علامات تانيث دري دي:

۱-( ة ) حقيقتا وي لکه: طَلْحَةُ يا حکما وي لکه: عَقْرَبُ، چې څلورم حرف ئې د تاء تانيث په حکم کي دی.

۲-الف مقصوره په دې شرط چې زائد وي او د مذکر لپاره هم نه وي مثال احترازي لکه: مُوْسٰی، او مثال مطابقي لکه: ضُرْبٰی

Maktaba Tul Ishaat.com

٣-الف ممدوده په دې شرط چې زائد وي مطابقي مثال ئې لکه: خَضْرَاءُ او احترازي مثال ئې لکه: مَاءٌ.

## د مؤنث تقسيمات

د مؤنث دوه تقسيمه دي: ١-په اعتبار د علامې،٢-په اعتبار د ذات.

## د مؤنث اول تقسيم: ( قياسي او سماعي )

١-مؤنث په اعتبار د علامې پر دوه قسمه دی: ١-قياسي، ٢-سَماعي.

**مؤنث قياسي**: هغه مؤنث ته وايي چې د تانيث علامت لفظاً پکښې موجود وي.

**مؤنث سماعي**: هغه مؤنث ته وايي چې علامه د تانيث پکښې مقدره وي او دې ته مؤنث معنوي هم وايي.(مؤنث سماعي څوارلس قسمه دي په ضوابطو کې ئې وګورئ)

## د مؤنث دوهم تقسيم ( حقيقي، لفظي )

مؤنث په اعتبار د ذات پر دوه قسمه دی: ١-حقيقي، ٢-لفظي.

**مؤنث حقيقي**: هغه مؤنث ته وايي چې په مقابل کې ئې حيوان مذکر وي لکه: اِمْرَاَةٌ، چې په مقابل کې ئې حيوان مذکر سته چې (رَجُلٌ) دی.

**مؤنث لفظي**: هغه مؤنث ته وايي چې په مقابل کې ئې حيوان مذکر نه وي

لكه: ظُلْمَةٌ او قُوَّةٌ، چي د دوي په مقابل كي حيوان مذكر نسته.

## د مذكر او مؤنث د اجراء طريقه:

**مثال**: سُبْحٰنَ الَّذِيْ أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصٰى.

استاد: (سُبْحٰنَ) مذكر دى كه مؤنث؟

شاگرد: په دواړو كي مشترك دى ځكه چي د مصادرو څخه دى.

استاد: (اَلَّذِيْ) مذكر دى كه مؤنث؟

شاگرد: د مذكر لپاره دى پخپله مذكر نه دى.

استاد: پخپله ولي مذكر نه دى؟

شاگرد: اسم پر دوه قسمه دى: ١-اسم ظاهر، ٢-اسم مضمر، او تقسيم د واحد يا تثنيه يا جمع، يا مذكر او مؤنث د اسم ظاهر لپاره وضع سوى دى، كله چي اسم مضمر ته راورسېدلو نو خالي لاس وو اوس كه هم داغه تقسيم په اسم مضمر كي هم جاري كړو نو خلاف د اصل وضع لازميږي نو ځكه موږ ضمائر، اشارات، موصولات د اسم ظاهر نائبين بللو سره وايو چي د واحد لپاره دي يا د مذكر يا مؤنث لپاره نه خود واحد يا مذكر يا مؤنث.

استاد: (أَسْرٰى) مذكر دى كه مؤنث؟

شاگرد: نه مذكر دى نه مؤنث ځكه مذكر او مؤنث د اسم اقسام دي او (أَسْرٰى) فعل دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: (ب) مذکر دی که مؤنث؟

شاگرد: (ب) نه مذکر دی نه مؤنث ځکه دا حرف دی.

استاد: (عَبْد) څه شي دی؟

شاگرد: مذکر دی ځکه چي علامه د تانيث نسته پکښي.

استاد: (ه) ضمير مذکر دی که مؤنث؟

شاگرد: مذکر دی.

استاد: (لَيْلاً) مذکر دی که مؤنث؟

شاگرد: مذکر دی ځکه چي علامه د تانيث نسته پکښي.

استاد: (مِنْ) څه شي دی؟

شاگرد: (مِنْ) نه مذکر دی نه مؤنث ځکه حرف دی.

استاد: (اَلْمَسْجِدْ) څه شي دی؟

شاگرد: مذکر دی ځکه چي علامه د تانيث نسته پکښي.

استاد: (اَلْاَقْصٰی) مذکر دی که مؤنث؟

شاگرد: مذکر دی.

استاد: په (اَلْاَقْصٰی) کي خو الف مقصوره علامه د تانيث موجود ده نو ځنګه مذکر دی؟

شاگرد: د الف مقصوره علامه د تانيث لپاره دوه شرطه دي: اول دا چي زائد به وي، دوهم دا چي د مذکر لپاره به نه وي، او دلته دواړه شرطونه مفقود دي.

(وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ)

## د اسم دريم تقسيم: (واحد، تثنيه او جمع)

اسم په اعتبار د تعدد پر درې قسمه دی: ۱-واحد، ۲-تثنيه، ۳-جمع

**د واحد تعريف**: واحد هغه اسم ته وايي چي پر يوه شی دلالت کوي لکه: رَجُلٌ، ضَارِبٌ.

**د تثنيې تعريف**: تثنيه هغه اسم ته وايي چي پر دوو دلالت کوي په سبب د لږ تغيير په مفرد کي، تغيير ئې دا دی چي د مفرد په أخر کي الف ما قبل مفتوح يا ياء ساکن ما قبل مفتوح او په أخر کي نون مکسور راوړل ، ي لکه: د (رَجُلٌ) څخه (رَجُلَانِ رَجُلَيْنِ) او د (ضَارِبٌ) څخه (ضَارِبَانِ ضَارِبَيْنِ).

**تثنيه پر دوه قسمه ده**: ۱-حقيقي، ۲-مجازي.

**تثنيه حقيقي**: تثنيه حقيقي هغه ته وايي چي لاندي څلور شرائط پکښي موجود وي:

۱-د ده د مادې څخه به مفرد راځي.

۲-معني به ئې د تثنيې وي.

۳-صورت به ئې د تثنيې وي يعني په أخر کي به ئې (الف) يا (يا) ما قبل مفتوح او په أخر کي نون مکسور وي.

۴-مختصرُ المثلين به وي يعني د المثلين څخه به مختصر وي لکه: رَجُلَانِ، رَجُلَيْنِ، چي د(رَجُلٌ وَرَجُلٌ)څخه مختصر سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

**تثنيه مجازي**: تثنيه مجازي هغه تثنيې ته وايي چې د تثنيه حقيقي څلور سره شرائط په هغه کې نه وي موجود، چې اول شرط نه وي موجود لکه: كِـلاَ وَكِلْتَا، چې دوهم شرط نه وي موجود لکه: صِنْوَانُ، چې دريم شرط نه وي موجود لکه ضمائر، اشارات او موصولات، چې څلورم شرط نه وي موجود لکه: قَمَرَيْنِ، أَبَوَيْنِ، شَيْخَيْنِ، صَاحِبَيْنِ، عُمَرَيْنِ.

**د جمع تعريف**: جمع هغه اسم ته وايي چې پر دروو يا پر زيات تر درو دلالت کوي په سبب د لږ تغيير په مفرد کې.

## د جمع تقسيمات

د جمع دوه تقسيمه ذکر کوو: ۱-اول تقسيم سالم او تکسير ته: دوهم قلت او کثرت ته.

## د جمع اول تقسيم: (سالم او مکسر)

جمع په اعتبار د لفظ پر دوه قسمه ده: ۱-سالم، ۲-مکسر

**جمع سالم**: هغه جمع ته وايي چې بناء د واحد پکښې سالم وي لکه: مُسْلِمُوْنَ.

**جمع سالم پر دوه قسمه ده**: ۱-مذکر سالم، ۲-مؤنث سالم

**جمع مذکرسالم**: هغه جمع ته وايي چې په حالتِ رفعي کې ئې واو ماقبل

مضموم او په اٌخر کي نون مفتوح وي او په حالت نصبي او جري کي ئې یاء ما
قبل مکسور او په اٌخر کي نون مفتوح وي لکه مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِيْنَ.

**جمع مؤنث سالم**: هغه جمع ته وايي چي په اٌخر کي ئې الف او تاء راسي
لکه مُسْلِمَاتٌ.

**جمع مکسر**: هغه جمع ته وايي چي بناء د واحد پکښي متغيره وي لکه
رِجَالٌ. (د تغيير پوره تفصيل په ضوابطو کي وګورئ)

**جمع مکسر پر دوه قسمه ده**: ۱-منتهی الجموع، ۲-غیر منتهی
الجموع.

**جمع منتهی الجموع**: هغه جمع مکسر ته وايي چي د هغه څخه بله
جمع مکسر نه جوړيږي.

د پيژندلو علامه ئې داده چي عموما اول دوه حرفه ئې مفتوح، دريم الف
علامه د تکسير، وروسته تر الف دوه حرفه وي يا دري وي خو اوسط ئې ساکن
وي لکه: دَرَاهِمُ او دَنَانِيْرُ. (د جمع منتهی الجموع ټولس اوزان دي په ضوابط کي ئې وګورئ)

## د جمع دوهم تقسيم: (قلت او کثرت)

جمع په اعتبار د معنی پر دوه قسمه ده: ۱-قلت، ۲-کثرت.

**جمع قلت**: هغه جمع ته وايي چي اطلاق ئې پر درو بيا تر لسو پوري
کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

**جمع كثرت**: هغه جمع ته وايي چې اطلاق ئې پر لسو يا زيات پر لسو كيږي.

## د جمع قلت اوزان ټوله څلور (۴) دي:

۱-أَفْعُلٌ لکه: أَكْلُبٌ ۲-أَفْعَالٌ لکه: أَقْوَالٌ

۳-أَفْعِلَةٌ لکه: أَعْوِنَةٌ ۴-فِعْلَةٌ لکه: غِلْمَةٌ

او همدارنگه جمع مذكر سالم او مؤنث سالم چې خالي وي د الف لام څخه، د دې څخه ماسيوا ټوله اوزان د جمع كثرت دي.

## د واحد، تثنيه او جمع د اجراء طريقه

**مثال**: أُولٰئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُوْنَ.

استاد: (أَصْحٰبُ) مفرد دی كه تثنيه يا جمع؟

شاگرد: (أَصْحٰبُ) جمع ده.

استاد: جمع سالم ده كه مكسر ده؟

شاگرد: جمع مكسر ده.

استاد: د جمع مكسر تعريف وكړه؟

شاگرد: جمع مكسر هغه جمع ته وايي چې بناء د واحد پكښې متغيره وي.

استاد: جمع مكسر خو پر دوه قسمه ده: ۱: منتهى الجموع ۲: غير منتهي الجموع، داكوم قسم دي؟

شاگرد: غير منتهى الجموع ده.

استاد: منتهى الجموع ولې نه ده؟

شاگرد: څکه چي د منتهى الجموع د اوزانو څخه پر يو وزن برابره نه ده

استاد: جمع قلت ده که جمع کثرت؟

شاگرد: جمع قلت ده.

استاد: څنگه درته معلومه سوه چي جمع قلت ده؟

شاگرد: د جمع قلت لپاره څلور اوزان دي دا د هغو څخه د (أَفْعَــالٌ) پر وزن برابره ده

استاد: خَلِدُوْنَ مفرد دی که تثنيه يا جمع دی؟

شاگرد: جمع ده.

استاد: جمع سالم ده که جمع مکسر؟

شاگرد: جمع سالم ده.

استاد: جمع سالم خو پر دوه قسمه ده: مذکر او مؤنث، دا کوم قسمه دی؟

شاگرد: جمع مذکر دی.

استاد: د جمع مذکر تعريف وکړه؟

شاگرد: جمع مذکر سالم هغه جمع ته وايي چي په حالت رفعي کي ئې په اخر کي واو ماقبل مضموم او نون مفتوح وي او په حالت نصبي او جري کي ئې په أخر کي ياء ماقبل مکسور او نون مفتوح وي.

استاد: جمع قلت ده که جمع کثرت؟

شاگرد: جمع قلت ده څکه چي جمع مذکر سالم او جمع مؤنث سالم چي دالف لام څخه خالي وي نو هغه جمع قلت وي او خَلِدُوْنَ هم داغه سي دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

# خلاصهٔ اجراءِ مفردات

۱-اول: په عبارت کي کلمات شمار کړئ.

۲-بيا اسم، فعل او حرف سره د علامو معلوم کړئ.

۳-بيا په معرب او مبني کي ۱-معرب معلوم کړئ، ۲-بيا دا معلوم کړئ چي اسم معرب دی که فعل معرب دی، ۳-که اسم معرب دی نو عامه دی که خاصه، او د خاصه څو اقسام دي، ۴-او که عامه دی نو بيا دا وپوښتل سي چي منصرف دی که غير منصرف دی، ۵-که منصرف دی نو د مفرداتو څخه دی که تثنيه يا جمع ده (د وضاحت لپاره تفصيل المفردات ته رجوع وکړی او په فهرست کي هم وګوری).

۴-بيا مبنيات معلوم کړئ، او په مبنياتو کي ۱-دا معلوم کړئ چي مبني الاصل دی که مشابه بالاصل، ۲-بيا په مشابه کي د اسم غير متمکن په اتو اقسامو کي کوم قسم دی، ۳-که ضمير دی نو بايد اولاً دا معلوم کړل سي چي مرفوع دی، منصوب دی او که مجرور دی، ۴-که مرفوع دی نو متصل دی که منفصل، ۵-که متصل دی نو بايد دا معلوم کړل سي چي بارز دی که مستتر، ۶-که مستتر دی نو واجب الاستتار دی که جائز الاستتار، ۷-او بيا د ضمير مرجع سره د ټولو اقسامو معلوم کړئ (تفصيل ئې په تفصيل المفردات کي وګوری).

۵-بيا معرفه او نکره معلوم کړئ که معرفه دی نو کوم قسم دی.

۶-بيا مذکر او مؤنث معلوم کړئ.

٧-بیا مفرد، تثنیه او جمع سره د اقسامو معلوم کړئ لکه څرنګه چې په تفصیل المفردات کې ذکر سوي دي.

٨-بیا ماضي او مضارع معلوم کړئ، که مضارع ده نو نون والا ده که غیر نون والا.

٩-که نون والا ده نو څه حکم ئې دی؟ او که غیر نون والا ده نو د درو څخه ده که د دوو څخه که د درو څخه ده نو حکم ئې څه شی دی او که د دوو څخه ده نو حکم ئې څه شی دی؟

١٠-او که ماضي ده نو د دوو څخه ده که د دوولسو څخه، که د دوولسو څخه ده نو حکم ئې څه شی دی، او که د دوو څخه ده نو په ابتدا کې ده که په وسط کې ده، که په ابتدا کې ده نو حکم ئې څه شی دی، او که په وسط کې ده نو حکم ئې څه شی دی او د وسط د شپږو مقاماتو څخه کوم مقام دی؟

١١-د فعل په باره کې دا پوښتني هم وسي چې معلوم دی که مجهول، لازم دی که متعدي، که متعدي دی نو متعدي یوه مفعول ته دی که دوو یا درو ته، که د وو ته دی نو اقتصار پر یوه جائز دی که یا؟ (کما یأتي في الضوابط)

١٢-د حروفو په باره کې دا سوال وسي چې عامل دی که غیر عامل، که عامل دی نو کوم قسم دی که غیر عامل دی نو کوم قسم دی، (د دې تفصیل موږ ذکر کوو إن شاء الله د فهرست څخه ئې پیدا کولای سي).

**فائده**: دا ټول سوالونه د یوه شاګرد څخه باید ونکړل سي بلکه د هر شاګرد څخه کم تر کمه یو یو سوال وسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

# تفصيل المركبات

مرکب پر دوه قسمه دی: ۱-مفید، ۲-غیر مفید.

## مرکب مفید

**تعریف**: مرکب مفید هغه مرکب ته وایي چي قائل پر هغه باندي سکوت وکړي نو سامع ته خبر یا طلب حاصل سي لکه: قَامَ زَیْدٌ یا اِضْرِبْ.

مرکب مفیدته جمله هم ویل کیږي.

## د جملې تقسیمات

د جملې درې تقسیمات ذکر کوو: ۱-تقسیم په اعتبار د ذات، ۲-تقسیم په اعتبار د صفت، ۳-تقسیم په اعتبار د اعراب محلي.

### د جملې اول تقسیم: (خبریه او انشائیه)

جمله په اعتبار د ذات پردوه قسمه ده: ۱-خبریه، ۲-انشائیه.

**جمله خبریه**: خبریه هغه جملې ته وایي چي قائل ته ئې صادق یا کاذب ویل کیدای سي لکه: زَیْدٌ قَائِمٌ.

**جمله انشائيه**: انشائيه هغه جملې ته وايي چي قائل ته ئې صادق يا كاذب نه سي ويل كيداي لكه: اِضْرِبْ.

**جمله خبريه پر څلور قسمه ده**: ١-اسميه، ٢-فعليه، ٣-ظرفيه، ٤-شرطيه.

**جمله اسميه**: هغه جملې ته وايي چي د مقصودي اجزاوو څخه ئې جزء اول اسم وي، جزء اول ته ئې مسند اليه او مبتدا او جزء ثاني ته ئې مسند او خبر ويل كيږي لكه: زيدٌ قائمٌ (د مبتدا او خبر علامات او احكام به ضوابطو كي وګورئ)

**جمله فعليه**: هغه جملې ته وايي چي د مقصودي اجزاوو څخه ئې جزء اول فعل وي، جزء اول ته ئې مسند او فعل او جزء ثاني ته ئې مسند اليه او فاعل ويل كيږي لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ (د فعل او فاعل علامات به ضوابطو كي وګورئ).

**جمله ظرفيه**: هغه جملې ته وايي چي د مقصودي اجزاوو څخه ئې جزء اول ظرف يا جار مجرور وي لكه: عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَماً، فِي الدَّارِ رَجُلٌ (د جار مجرور بحث هم به ضوابطو كي وګورئ).

**جمله شرطيه**: هغه جملې ته وايي چي د دوو جملو څخه مركب وي اول جزء ئې فعل سره د فاعل ـ شرط وي او دوهم جزء ئې فعل سره د فاعل ـ جزاء وي لكه: إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ.

**فائده**: په جملهٔ اسميه كي مبتدا و خبر او په جمله فعليه كي فعل و فاعل اجزاء مقصوده دي، د دې څخه ماسيوا اجزاء زائده دي.

**د جملې اجزاء زائده**

Maktaba Tul Ishaat.com

د جملې اجزاء زائده نهه (٩) دي:

١-مفعول مطلق، ٢-مفعول به، ٣-مفعول معه، ۴-مفعول له، ۵-مفعول فيه، ۶-حال، ٧-تمييز، ٨-مستثنٰى، ٩-جار و مجرور.

**جمله انشائيه پر درې قسمه ده:** ١-اسميه، ٢-فعليه، ٣-ظرفيه.

**جمله اسميه انشائيه:** هغه جملې ته وايي چې د مقصودي اجزاوو څخه ئې جزء اول اسم وي او علامه د انشاء پکښې وي لکه: هَلْ زَيْدٌ قَائِمٌ، لَيْتَ زَيْداً قَائِمٌ.

**جمله فعليه انشائيه:** هغه جملې ته وايي چې د مقصودي اجزاوو څخه ئې جزء اول فعل وي او علامه د انشاء پکښې وي لکه: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ.

**جمله ظرفيه انشائيه:** هغه جملې ته وايي چې د مقصودي اجزاوو څخه ئې جزء اول ظرف يا جار و مجرور وي او د انشاء علامه وي پکښې لکه: هَلْ فِي الدَّارِ رَجُلٌ (د انشاء علامات په ضوابطو کې وګورئ).

## د مرکب مفيد د اقسامو د اجراء طريقه:

**مثال** (١): اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ.

استاد: په دې أيت شريف کې مرکب مفيد څو دي او کوم کوم دي؟

شاګرد: په دې أيت شريف کې که د (اَلَّذِيْنَ) لپاره مبتدا محذوف راونيستل سي نو بيا مرکب مفيد پنځه دي، او که نه نو بيا څلور دي، د مبتداء د حذف په صورت کې مرکب مفيد: ١-(هُمُ اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ) دی، ٢-(يُؤْمِنُوْنَ) دی يوازي، ٣-

(يُقِيمُوْنَ) دي، ۴-(رَزَقْنٰهُمْ)، ۵-(يُنْفِقُوْنَ) دی.

استاد: د مرکب مفید کوم کوم قسم دي،جمله خبریه کومه ده او جمله انشائیه کومه ده؟

شاګرد: پنځه سره جملې ـ خبرېي دي.

استاد: (هُمُ الَّذِيْنَ) د جمله خبرېي کوم قسم دی؟

شاګرد: جملهٔ اسمیه ده.

استاد: د جملهٔ اسمیې جزء اول ته څه وايي او جزء ثاني ته ئې څه وايي؟

شاګرد: د جملهٔ اسمیې جزء اول ته مسند الیه او مبتدا او جزء ثاني ته ئې مسند او خبر وايي او ترکیبي نومان ئې مبتدا او خبر دي.

استاد: د مبتدا و خبر څو څلور عام او پنځه خاص علامات دي هغه پکښې جاري کړه؟

شاګرد: په (هُمُ الَّذِيْنَ) کې د خاصه وو څخه اوله علامه ده، هغه دا چې په ابتداء د کلام کې ضمیر مرفوع منفصل راسي، او علامات عامه ټوله سته پکښې.

استاد: (يُؤْمِنُوْنَ) د خبرېي کوم قسم دی؟

شاګرد: جملهٔ فعلیه ده.

استاد: د جملهٔ فعلیې جزء اول او جزء ثاني ته څه وايي؟

شاګرد: د جملهٔ فعلیې جزء اول ته فعل او ثاني ته فاعل وايي.

استاد: (يُقِيمُوْنَ) کوم قسم دی؟

شاګرد: (يُقِيمُوْنَ) او (رَزَقْنٰهُمْ) او (يُنْفِقُوْنَ) ټوله د (يُؤْمِنُوْنَ) په شان دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: په (يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ) كي اجزاء اصليه مقصوده كوم دي؟

شاگرد: په (يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ) كي (يُؤْمِنُـونَ) جزء اصلي دى او (واو) ضمير پكښي اصلي دى او جزء زائد پكښي (بِالْغَيْبِ) دى چي مفعول به غير صريحي هم ورته ويل كيږي.

استاد: په (يُقِيْمُوْنَ) كي اجزاء مقصوده او زائده كوم كوم دي؟

شاگرد: (يُقِيْمُ) او (واو) ضميري اجزاء اصليه دي او (الصَّلٰوة) جزء زائد دى.

استاد: په (رَزَقْنٰهُمْ) كوم كوم دي.

شاگرد: (رَزَقْ) او (نا) اصليه دي او (هُمْ) ضمير منصوب متصل جزء زائده دى.

استاد: په (يُنْفِقُوْنَ) كي اجزاء اصليه او زائده كوم كوم دي؟

شاگرد: (يُنْفِقُوْنَ) او (واو) ضمير مرفوع متصل اجزاء اصليه دي، او (مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ) جزء زائد دى چي متعلق ئي دى.

**مثال** (٢): فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ.

استاد: په دې أيت شريف كي مركب مفيد خو دي؟

شاگرد: يو دى هغه (فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ) دى.

استاد: كوم قسم ئي دى؟

شاگرد: جمله خبريه ده.

استاد: د جمله خبريې كوم قسم دى؟

شاگرد: جمله شرطيه ده.

استاد: ترکیب ئې وکړه؟

شاګرد: (فا) عاطفه (اذَا) شرطیه (فَرَغْتَ) فعل و فاعل شرط سو، (فا) جزائيه (انْصَبْ) فعل بافاعل جزاء لپاره د شرط، شرط سره د جزاء جمله خبریه شرطيه

**مثال** (٣): أَلَمْ نَجْعَلِ الأَرْضَ مِهَاداً.

استاد: په دې أيت شریف کي مرکب مفید څو دي؟

شاګرد: مرکب مفید یو دی هغه (نَجْعَلُ) دی سره د مفعولَینو.

استاد: جمله خبریه ده که انشائیه؟

شاګرد: جمله انشائیه ده.

استاد: د انشائي کوم قسم دی؟

شاګرد: فعلیه ده.

استاد: د انشاء کومه علامه ده پکښې؟

شاګرد: استفهام دی.

استاد: (لَمْ) خو جازم دی دلته ئې جزم ولي نه دی کړی؟

شاګرد: جزم ئې کړی دی بیا د التقاء ساکنین په وجه لام ته کسره ورکول سوي ده. (وَاللهُ أَعلَمُ بِالصَّوَاب)

## د مفعولات خمسه د اجراء طریقه:

د مفعولات خمسه د ټولو د اجراء طریقه یوه ده، د نمونې په ډول یو مثال ذکر کوو:

Maktaba Tul Ishaat.com

**مثال**: اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاءُ

استاد: (يَبْسُطُ) فعل دی په ابتداء کې دی که په وسط کې؟

شاګرد: په وسط کې دی.

استاد: د وسط شپږ مقامات دي داکوم مقام دی؟

شاګرد: خبر د مبتدا دی.

استاد: حکم ئې څه شی دی؟

شاګرد: حکم ئې دا دی چې فاعل په ده کې ضمير وي.

استاد: مفعول هم لري که يا؟

شاګرد: هو لري ئې (اَلرِّزْقَ) دی.

استاد: (اَلرِّزْقَ) کوم مفعول دی؟

شاګرد: مفعول بِه دی ځکه چې د فاعل فعل پر واقع سوی دی.

استاد: ترکيب ئې وکړه؟

شاګرد: لفظ د (الله) مبتداء (يَبْسُطُ) فعل، (هُوَ) ضمير ئې فاعل او (اَلرِّزْقَ) ئې مفعول به دی، فعل سره د خپل فاعل او مفعول به_جمله فعليه مرفوع محلا خبر لپاره د مبتداء، مبتدا سره د خبره جمله اسميه خبريه ده. (داچې کومه جمله محلي اعراب لري او کومه جمله ئې نه لري د جملو په اجراء کې ئې وګورئ)

**فائده**: د باقي مفعولاتو اجراء هم پر داغه قياس کړئ.

## د جملې دوهم تقسيم: (په اعتبار د صفت)

جمله په اعتبار د صفت پر نهه (۹) قسمه ده:

١-**مبینه**: هغه جملې ته ویل کیږي چې د مخکښې مجمل کلام وضاحت کوي لکه دا قول د الله تعالی: (هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَرَسُولِهِ).

٢-**معلله**: هغه جملې ته ویل کیږي چې علت وي لپاره د ماقبل لکه دا قول د الله تعالی: وَاسْتَغْفِرُوا اللهَ إِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ.

٣-**معترضه**: هغه جملې ته ویل کیږي چې د دوو کلامو په منځ کې بیله تعلقه راغلې وي لکه دا قول د فقهاؤ: قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: اَلنِّيَّةُ فِي الْوُضُوْءِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ.

٤-**استئنافیه**: هغه جملې ته ویل کیږي چې په منځ کې د کلام واقع سوي وي او د ماقبل څخه منقطع وي نوی کلام وی لکه: فَلاَ يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعاً.

٥-**نتیجیه**: هغه جملې ته ویل کیږي چې د کلام سابق څخه را پیدا کیږي لکه: اَلْجَزْمُ مُخْتَصٌّ بِالأَفْعَالِ وَالْخَفْضُ مُخْتَصٌّ بِالأَسْمَاءِ، فَلَيْسَ بِالأَفْعَالِ خَفْضٌ وَلاَ فِي الأَسْمَاءِ جَزْمٌ.

٦-**ابتدائیه**: هغه جملې ته وایي چې په اول کې د کلام راسي لکه: إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ.

٧-**المقطوعه**: هغه جملې ته وایي چې ذکر ئې په عدد سره سوی وي او بیله ربطه وي د بو شي سره لکه: اَلْبَابُ الأَوَّلُ فِي الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ الْقِيَاسِيَّةِ.

٨-**الحالیه**: هغه جملې ته وایي چې حال واقع وي لکه: لاَ يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْداً وَّلاَ شَرَاباً.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَكَّرَ وَقَدَّرَ.

## د جملې دریم تقسیم (په اعتبار د اعراب)

جمله په اعتبار د اعراب پردوه قسمه ده: ۱-چې محلي اعراب لري، ۲-چې محلي اعراب نه لري.

### هغه جمله چې محلي اعراب لري پر اووه (۷) قسمه ده:

۱-هغه جمله چې خبر واقع سوې وي نو که د مبتدا یا حروف مشبه بالفعل او یا د لا لنفي الجنس لپاره خبر وه نو محلا مرفوع ده مثال لکه: اَلْعِلْمُ يَرْفَعُ قَدْرَ صَاحِبِهِ، إِنَّ الْفَضِيْلَةَ تُحَبُّ، لاَ كَسُوْلَ سِيْرَتُهُ مَمْدُوْحَةٌ، او که د فعل ناقص لپاره خبر وه نو محلا منصوب ده مثال لکه دا قول د الله تعالی: أَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ.

۲-هغه جمله چې حال واقع سوې وي نو محلا منصوب ده لکه: وَجَآءُوْا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَّبْكُوْنَ.

۳-هغه جمله ده چې مفعول به واقع سوې وي، نو دا هم محلا منصوبه ده لکه: قوله تعالی: قَالَ إِنِّيْ عَبْدُ اللهِ.

۴-چې مضاف الیها واقع سوې وي نو محلا مجروره ده لکه قوله تعالی: هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ.

۵-چې جواب د شرط جازم واقع سوې وي او مقارن په (فا) یا په (اذا) فجائیه سره وي نو محلا مجزومه ده لکه دا قول د الله تعالی: وَمَنْ يُّضْلِلِ اللهُ فَمَالَهُ مِنْ هَادٍ

وقوله: وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ.

۶-چي صفت واقع سوې وي نو محل د اعراب ئې په اعتبار د موصوف وي لکه دا قول د الله تعالیٰ: وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ.

۷-چي تابع د داسي جملې وي چي هغې لره محلي اعراب وي لکه: عَلِيٌّ يَقْرَءُ وَيَكْتُبُ.

## هغه جمله چي محلي اعراب نه لري پر نهه (۹) قسمه ده.

۱-**ابتدائيه**: هغه جملې ته ويل کيږي چي په شروع کي د کلام وي لکه: إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ.

۲-**استئنافيه**: هغه جملې ته ويل کيږي چي په منځ کي د کلام واقع سوې وي او د ماقبل څخه منقطع وي، نوی کلام وي لکه دا قول د الله تعالیٰ: خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ تَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ.

۳-**تعليليه**: هغه جملې ته ويل کيږي چي علت واقع سوی وي لپاره د ماقبل لکه دا قول د الله تعالیٰ: صَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ.

۴-**اعتراضيه**: هغه جملې ته ويل کيږي چي په منځ کي د شيئينو متلازمينو واقع وي، لپاره د تقويت د کلام، شيئين متلازمين ـ لکه مبتدا و خبر، فعل و فاعل، فعل و مفعول، شرط و جواب، حال و ذو الحال، صفت و موصوف، حرف جر و متعلق، قسم و جواب، اختصاراً دوه مثالونه ذکر کوو لکه: فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ، وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۵- **صله**: هغه جمله چي صله لپاره د موصول وي لکه: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى

۶- **تفسيريه**: هغه جملې ته ويل کيږي چي تفسير واقع سوي وي د ماقبل لپاره لکه دا قول د الله تعالى: هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ * تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَرَسُولِهِ.

۷- **جواب د قسم**: هغه جمله چي جواب د قسم وي لکه دا قول د الله تعالى: وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ * إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ.

۸- **جواب د شرط**: هغه جمله چي جواب د شرط غير جازم وي لکه دا قول د الله تعالى: إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ وَ رَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِيْ دِيْنِ اللهِ أَفْوَاجًا فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ، و قوله تعالى: لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعًا.

**فائده**: حروف د شرط غير جازم اته دي: إِذَا، لَوْ، لَوْلَا، كُلَّمَا، لَوْمَا، كَيْفَ، كَيْفَمَا، لَمَّا.

۹- **هغه جمله**: چي تابع د داسي جملې وي چي هغې لره محل د اعراب نه وي لکه: قَامَ زَيْدٌ وَقَعَدَ عَمْرٌو.

## د جملو د اجراء مثال:

نِسَاءُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَ قَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ وَاتَّقُوا اللهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ.

استاد: (نِسَاءُكُمْ حَرْثٌ) لره محل د اعراب سته که یا؟

شاګرد: محل د اعراب نه لري ځکه چي جمله استئنافيه ده.

استاد: د (فَأْتُوا) لپاره محل د اعراب سته که یا؟

شاګرد: هو سته، ځکه چي جواب د شرط جازم واقع ده.

استاد: شرط خو نه معلوميږي.

شاګرد: په الفاظو کي نسته،بلکه مقدر دی (أَيْ إِنْ رَغِبْتُمْ فِيهِنَّ فَأْتُوْا).

استاد: د (قَدِّمُوْا) لپاره محل د اعراب سته که یا؟

شاګرد: هو سته، ځکه چي عطف پر داسي جملې ده چي محلي اعراب لري چي (فَأْتُوْا) دی.

استاد: (وَاتَّقُوا اللّٰهَ) محل د اعراب لري که یا؟

شاګرد: هو محل د اعراب لري ځکه چي دا هم پر (فَأْتُوْا) عطف ده.

استاد: د (وَاعْلَمُوْا) لپاره محل د اعراب سته که نه؟

شاګرد: نسته، ځکه چي جمله مستانفه ده.

استاد: د (أَنَّكُمْ مُلٰقُوْهُ) لپاره د اعراب محل سته که یا؟

شاګرد: سته، ځکه چي مفعول بِه دی د (وَاعْلَمُوْا).

استاد: د (وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ) لپاره محل د اعراب سته که یا؟

شاګرد: نسته، ځکه چي عطف پر داسي جملې ده چي محل د اعراب نه لري.

(وَاللّٰهُ تَعَالٰى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ)

Maktaba Tul Ishaat.com

# مرکب غیر مفید

**د مرکب غیرمفید تعریف**: مرکب غیرمفید هغه مرکب ته وایي چې قائل خبره خلاصه کړي او چپ سي نو سامع ته نه خبر حاصل سي او نه طلب

لکه: غُلامُ زَیْدٍ.

د خبر او طلب معنی: د خبر معنی دا ده چې متکلم د یو شي څخه حکایت کوي، او دطلب معنی دا چې متکلم د یو شي طلب کوي.

## د مرکب غیر مفید اقسام:

د مرکب غیر مفید اقسام ټول اووه (۷) دي:

۱-مرکب اضافي.

۲-مرکب توصیفي، دغو دوو ته مرکب تقییدي هم وایي.

۳-مرکب بنائي.

۴-مرکب منع صرف، چې مرکب مزجي هم ورته ویل کیږي.

۵-مرکب صوتي، دغو درو ته مرکب غیر تقییدي ویل کیږي، او بعض نحاتو د مرکب غیر مفید سره دوه نور هم یو ځای کړي دي چې هغه په لاندي ډول دي:

۶-مرکب بیاني.

۷-مرکب عطفي.

## د مرکب غیر مفید د اقسامو تعریفونه:

**مرکب اضافي**: مرکب اضافي هغه مرکب ته وايي چي د يو اسم اسناد بل ته سوی وي او دا بل قائم مقام د تنوين يا د نون تثنيه يا د نون جمع وي لکه: غُلَامُ زَيْدٍ، اول ته مضاف دوهم ته مضاف اليه ويل کيږي (د مرکب اضافي علامات او احکام په ضوابطو کي وګورئ)

**مرکب توصيفي**: مرکب توصيفي هغه مرکب ته وايي چي د موصوف او صفت څخه جوړ وي لکه: عَذَابٌ أَلِيْمٌ (د مرکب توصيفي علامات په ضوابطو کي وګورئ)

**مرکب بنائي**: مرکب بنائي هغه مرکب ته وايي چي دوه اسمونه يو سوي وي او دوهم اسم متضمن معنٰی لره د حرف وي او حيثيت د تاء تانيث لري (يعني لکه څرنګه چي تاء تانيث خپل ماقبل مبني بر فتحه ګرځوي داغه رنګه دغه دوهم اسم هم خپل ماقبل مبني بر فتحه ګرځوي) لکه: أَحَدَ عَشَرَ.

**مرکب بنائي پر دري قسمه دی**: ١- مرکب من العدد ٢- مرکب من الظروف ٣- مرکب من الاحوال.

**مرکب من العدد**: هغه مرکب ته وايي چي د عدد څخه مرکب وي لکه أَحَدَ عَشَرَ.

**مرکب من الظروف**: هغه مرکب ته وايي چي د ظروفو څخه مرکب وي لکه: صَبَاحَ، مَسَاءَ.

**مرکب من الاحوال**: هغه مرکب ته وايي چي د احوالو څخه جوړ وي لکه: تَسَاقَطُوْا أَخْوَلَ أَخْوَلَ أَيْ مُتَفَرِّقِيْنَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

**مرکب صوتي**: مرکب صوتي هغه مرکب ته وايي چي دوه اسمونه يو سوي وي او دوهم اسم متضمن معنی لره د حرف نه وي او اواز وي لکه: سِيْبَوَيْهِ، نِفْطَوَيْهِ، خَالَوَيْهِ.

**مرکب مزجي**: مرکب مزجي هغه مرکب ته وايي چي دوه اسمه يو سوي وي او دوهم متضمن معني لره د حرف نه وي او اواز هم نه وي لکه: بَعْلَبَكٌّ.

**مرکب بياني**: مرکب بياني پر دوه قسمه دی: ۱-توکيدي، ۲-بدلي.

**توکيدي**: هغه مرکب بياني ته وايي چي د مؤکَّد او مؤکِّد څخه جوړ وي لکه: ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ يا ضَرَبَ زَيْدٌ زَيْدٌ.

**بدلي**: هغه مرکب بياني ته وايي چي د بدل او مبدل منه څخه جوړ وي لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ أَخُوْكَ.

**مرکب عطفي**: هغه مرکب ته وايي چي د معطوف او معطوف عليه څخه جوړ وي لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو.

## د مرکب غير مفيد د اجراء طريقه:

د ټولو مخکي په عبارت کي وکتل سي چي مرکب غير مفيد څو دي؟

**مثال** (۱): ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَارَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ.

استاد: په دغه اٰيت شريف کي مرکب غير مفيد څو دي؟

**شاګرد:** درې دي.

**استاد:** کوم کوم دي؟

**شاګرد:** ١-ذٰلِكَ الْكِتَابُ، ٢-هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ، ٣-لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ.

**استاد:** د مرکب غير مفيد د اقسامو څخه کوم کوم قسم دي؟

**شاګرد:** درې سره موصوف او صفت دي.

**استاد:** په (ذٰلِكَ الْكِتَابُ) کې د موصوف او صفت کومه علامه ده؟

**شاګرد:** د موصوف او صفت څلورمه علامه ده.

**استاد:** بيان ئې کړه؟

**شاګرد:** د اسم اشارې وروسته معرف باللام اسم راغلی دی.

**استاد:** په (هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ) کې د موصوف او صفت کومه علامه ده؟

**شاګرد:** د موصوف او صفت اومه علامه ده.

**استاد:** بيان ئې کړه.

**شاګرد:** د نکرې وروسته جار مجرور راغلی دی.

**استاد:** په (لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ) کې کومه علامه ده؟

**شاګرد:** دريمه علامه ده.

**استاد:** بيان ئې کړه؟

**شاګرد:** د معرف باللام وروسته اسم موصول راغلی دی.

**مثال** (٢): خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: په دغه أیت شریف کې مرکب غیر مفید څو دي او کوم کوم دي؟

شاگرد: څلور دی ۱-قُلُوْبِهِمْ، ۲-سَمْعِهِمْ، ۳-اَبْصَارِهِمْ، ٤-عَذَابٌ عَظِیْم.

استاد: (قُلُوْبِهِمْ) د مرکب غیرمفید کوم قسم دی؟

شاگرد: مرکب اضافي دی.

استاد: د مرکب اضافي کومه علامه پکښې ده؟

شاگرد: پنځمه علامه ده.

استاد: تفصیل ئې وکړه؟

شاگرد: دوه اسمه دي اول د الف لام او تنوین څخه خالي دی او دوهم اسم ضمیر دی.

استاد: (سَمْعِهِمْ) د مرکب غیر مفید کوم قسم دی او کومه علامه ده پکښې؟

شاگرد: مرکب اضافي دی او پنځمه علامه ده پکښې.

استاد: (أَبْصَارِهِمْ) کوم قسم دی او کومه علامه ده پکښې؟

شاگرد: دا هم اضافي دی او هغه علامه ئې ده.

استاد: (عَذَابٌ عَظِیْمٌ) هم مرکب اضافي دی کومه علامه ئې ده؟

شاگرد: په دې کې د مرکب اضافي علامه نسته دا مرکب توصیفي دی.

استاد: د مرکب توصیفي کومه علامه ده پکښې بیان ئې کړه؟

شاگرد: دوهمه علامه ده، هغه دا چې دوه اسمونه دي او پر دواړو تنوین دی.

# عوامل

د نحومير د درو (٣) بابونو يعني باب اول حروف عامله، باب ثاني افعال عامله، باب ثالث اسماء عامله، يعني د مياشتو مياشتو سبقانو اجراء په پنځه دقيقي کي، تر هرڅه دمخه تعريف د عامل، بيا اقسام د عامل، بيا په هغه کي اجراء

**د عامل تعريف**: مَا بِهِ رَفْعٌ اَوْ نَصْبٌ اَوْ جَرٌّ اَوْ جَزْمٌ.

**عامل پر دوه قسمه دی**: ١-لفظي، ٢-معنوي

**د لفظي تعريف**: مَا يُعْرَفُ بِالْقَلْبِ وَيُتَلَفَّظُ بِاللِّسَانِ.

**د معنوي تعريف**: مَايُعْرَفُ بِالْقَلْبِ وَلاَ يُتَلَفَّظُ بِاللِّسَانِ.

عامل معنوي ټول دوه (٢) دي: ١-ابتدا په مبتدا کي ٢-خلو په مضارع کي د عامل ناصب او جازم څخه.

**عامل لفظي پر دوه قسمه دی**: ١-سماعي، ٢-قياسي.


**د سماعي تعريف**: مَايُمْكِنُ ضَبْطُهُ بِالْجُزْئِيَّاتِ، سماعي ټول (٩١) دي.

**د قياسي تعريف**: مَا لاَ يُمْكِنُ ضَبْطُهُ إلاَّ بِمَفْهُومٍ كُلِّيٍّ، قياسي ټول (٧) دي.

نو (٢) معنوي سوه، (٩١) سماعي سوه، او (٧) قياسي سوه، نو ټول (١٠٠) سوه چي په راتلونکي نقشه کي ذکر دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

# د عواملو نقشه



# د عواملو د اجراء طريقه:

**مثال:** هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيْعاً ثُمَّ اسْتَوٰى إِلَى السَّمَاءِ فَسَوّٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ.

استاد: په دغه آيت شريف کي عوامل معنوي سته که نه؟

شاګرد: سته، دوه دي.

استاد: معلوم ئې کړه؟

شاګرد: ۱-په (هُوَالَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ) کي دی، ۲-(هُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ) دي.

استاد: ابتداء ده پکښي که خلو؟

شاګرد: په دواړو کي ابتداء ده.

استاد: ابتداء څه ته وايي؟

شاګرد: خالي والی د اسم د عامل لفظي څخه.

استاد: په دې آيت شريف کي حروف عامله معلوم کړه؟

شاګرد: حروف عامله څلور دي: ۱-په (لَكُمْ) کي (لام) دی، ۲-(فِيْ) دی، ۳-(إِلٰى) دی، ۴-په (بِكُلِّ) کي (ب) ده.

استاد: دا (لام) پر اسم داخل دی که پر فعل؟

شاګرد: پر اسم داخل دی.

استاد: په داخل پر اسم کي داخل پر مفرد دی که داخل پر جمله؟

شاګرد: داخل پر مفرد دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: په داخل پر مفرد کي کوم قسم دی؟

شاګرد: د حروف جاره وو څخه دی.

استاد: حروف جاره څه عمل کوي؟

شاګرد: حروف جاره خپل مدخول ته جر ورکوي.

استاد: دلته خو جر نه معلومیږي؟

شاګرد: دلته ئې مدخول مبني دی او د مبني اعراب محلي وی.

استاد: په ترکیب کي دې ته څه وایي؟

شاګرد: ظرف ورته وایي.

استاد: دا ظرف لغو دی که مستقر؟

شاګرد: ظرف لغو دی.

استاد: د ظرف لغو تعریف وکړه؟

شاګرد: ظرف لغو هغه جار و مجرور ته وایي چي متعلق ئې په عبارت کي مذکور وي.

استاد: متعلق ئې څه شی دی؟

شاګرد: متعلق ئې (خَلَقَ) دی؟

استاد: (فِيْ) څه شی دی یعني داخل پر اسم دی که داخل پر فعل؟

شاګرد: دا هم بعینه د (لام) په شان دی.

استاد: (إلی) څرنګه دی؟

شاګرد: (إلی) هم د (لام) په شان دی.

استاد: په (بِكُلِّ) كې (ب) څرنګه ده؟

شاګرد: دا هم بعينه د (لام) په شان ده.

استاد: په دغه مثال كې افعال عامله معلوم كړه؟

شاګرد: په دې مثال كې افعال عامله درې دي: ١-(خَلَقَ) ، ٢-(اِسْتَوٰى) ، ٣-(فَسَوّٰهُنَّ).

استاد: (خَلَقَ) تام دى كه قاصر؟

شاګرد: تام دى.

استاد: په تام كې متصرف دى كه غير متصرف؟

شاګرد: متصرف دى.

استاد: په متصرف كې عام دى كه خاص؟

شاګرد: خاص دى.

استاد: په خاص كې معلوم دى كه مجهول؟

شاګرد: معلوم دى.

استاد: لا زمي دى كه متعدي؟

شاګرد: متعدي دى.

استاد: متعدي بِالواسطه دى كه بِلا واسطه؟

شاګرد: بِلا واسطه.

استاد: په بلا واسطه كې متعدي و يوه مفعول ته دى كه دوو يا درو ته؟

شاګرد: دا متعدي يوه مفعول ته دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: (اِسْتَوٰی) څه شی دی؟ د دې اجراء خپله وکړه.

شاګرد: دا هم تام دی، په تام کې متصرف دی، په متصرف کې خاص دی، په خاص کې معلوم دی، په معلوم کې متعدي بالواسطه دی، او متعدي یوه مفعول ته دی.

استاد: (فَسَوّٰهُنَّ) تام دی که قاصر؟

شاګرد: تام دی.

استاد: باقي اجراء ئې هم وکړه.

شاګرد: په تام کې متصرف دی، په متصرف کې خاص، په خاص کې معلوم دی، په معلوم کې متعدي بلاواسطه دی، په متعدي کې متعدي بدو مفعول دی او اقتصار ئې جائز دی (د زیات تفصیل لپاره په ضوابطو او د عواملو په نقشه کې وګورئ)

استاد: په دې آیت شریف کې اسماء عامله څو دي؟

شاګرد: اسماء عامله څلور دي: ۱-(سَبْعَ)، ۲-(بِكُلِّ)، ۳-(عَلِیْمٌ)، ۴-(جَمِیْعًا).

استاد: (سَبْعَ) کوم اسم عامل دی؟

شاګرد: مضاف دی.

استاد: مضاف څه عمل کوي؟

شاګرد: مضاف خپل مضاف الیه ته جر ورکوي.

استاد: (بِكُلِّ) څه شی دی؟

شاګرد: دا هم مضاف دی.

استاد: (عَلِیْمٌ) کوم قسم دی؟

شاګرد: صفت مشبه دی.

استاد: صفت مشبه څه عمل کوي؟

شاګرد: د خپل فعل په شان عمل کوي، یعني فاعل ته رفع ورکوي او مفعول به ته حاجت نه لري، ځکه چي صفت مشبه د مصدرِ لازم څخه مشتق وي، او مفعول به د فعل متعدي لپاره وي، او د صفت مشبه فاعل که ضمیر وو نو هیڅ شرط نسته، او که ئې فاعل اسم ظاهر وو نو د هغه لپاره څلور شرائط دي:

۱-په معتمدات سته وو کي ماسیوا د موصول څخه په پاته پنځو کي به ئې پر یوه اعتماد وي.

**معتمدات سته**: ۱-مبتدا، ۲-موصوف، ۳-موصول، ۴-ذوالحال، ۵-همزهٔ استفهام، ۶-حرف نفي.

۲-مصغر به نه وي.

۳-موصوف به نه وي.

۴-مضمر به نه وي یعني داسي ضمیر به نه وي چي صفت مشبه ته راجع وي

(تَمَّتْ إِجْرَاءُ الْعَوَامِلِ بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالٰی)

Maktaba Tul Ishaat.com

# معمولات

## د معمولاتو د اجراء طريقه:

د عواملو او معمولاتو د اجراء لپاره بايد يو مثال پيش سي:

۱-د عواملو او معمولاتو د اجراء لپاره بايد يو مثال پيش سي:
۲-په هغه کي عوامل معنوي معلوم کړه سي:
۳-لفظي او د هغه دري اقسام معلوم کړه سي:
۴-بيا د معمولاتو طرف ته رجوع وسي، نو مرفوعات، منصوبات او مجرورات معلوم کړه سي، بس د معمولاتو اجراء وسوه.

اوس د معمولاتو نقشه ذکر کوو:

# د معمولا تو نقشه

## معمولات

### مرفوعات

(۱) مبتداء

(۲) خبر

(۳) فاعل

(۴) نائب فاعل

(۵) خبر د حروف مشبه بالفعل

(۶) خبر د لاء نفي جنس

(۷) اسم د ما ولا المشبهتان بليس

(۸) اسم د افعال ناقصه وو

(۹) اسم د افعال مقاربه وو

### منصوبات

(۱) مفعول به

(۲) مفعول له

(۳) مفعول معه

(۴) مفعول مطلق

(۵) مفعول فيه

(۶) حال

(۷) تميز

(۸) اسم د حروف مشبه بالفعل

(۹) خبر د ما ولا المشبهتان بليس

(۱۰) خبر د افعال مقاربه ؤ

(۱۱) خبر د افعال ناقصه ؤ

(۱۲) اسم د لاء نفي جنس

(۱۳) مستثنیٰ

### مـ

(۱) مدخول دحر

(۲) مضاف اليه

Maktaba Tul Ishaat.com

**مثال**: هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيْعاً ثُمَّ استَوٰى إِلَى السَّمَاءِ فَسَوّٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّ هُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ.

استاد: په دې أيت شريف کې د معمولاتو څخه اول معمول څه شی دی؟

شاګرد: اول معمول (هُوَ) دی.

استاد: د مرفوعاتو څخه دی که د منصوباتو څخه؟

شاګرد: د مرفوعاتو څخه دی.

استاد: کوم مرفوع دی؟

شاګرد: مبتدا ده.

استاد: (اَلَّذِيْ) کوم قسم دی؟

شاګرد: دا هم د مرفوعاتو څخه دی.

استاد: د مرفوعاتو څخه کوم یو دی؟

شاګرد: خبر دی.

استاد: بل معمول معلوم کړه؟

شاګرد: بل معمول د (خَلَقَ) ضمیر دی.

استاد: دا کوم معمول دی؟

شاګرد: دا هم مرفوع دی فاعل دی.

استاد: حکمت الله ! ته پسې معمول وښیه؟

شاګرد: (كُمْ) دی، د مجروراتو څخه دی، او مجرور په حرف جر سره دی.

استاد: بل معمول څه شی دی؟

شاګرد: (مَا) دی، منصوب او مفعول به دی.

استاد: شپږم معمول څه شی دی؟

شاګرد: (اَلْأَرْضِ) دی، د مجروراتو څخه دی او مجرور په حرف جر سره دی

استاد: اوم معمول کوم يو دی؟

شاګرد: (جَمِيْعاً) دی په منصوباتو کې حال دی.

استاد: اتم معمول څه شی دی؟

شاګرد: د (اِسْتَوٰى) ضمير دی، مرفوع او فاعل دی.

استاد: نهم معمول سته که یا؟

شاګرد: سته، (اَلسَّمَاءِ) دی، مجرور په حرف جر سره دی.

استاد: بل معمول څه شی دی؟

شاګرد: د (فَسَوّٰاهُنَّ) ضمير دی، مرفوع دی، فاعل دی، او بل معمول (هُنَّ) دی، د منصوباتو څخه دی او مفعول به دی.

استاد: عبدالله ! ته بل معمول معلوم کړه؟

شاګرد: بل (سَمٰوٰتٍ) دی، او مجرور دی، مضاف اليه دی.

استاد: محمد ! بل معمول ته راوښيه؟

شاګرد: په (بِكُلِّ) کې (كُلِّ) دی، د مجروراتو څخه دی او مدخول د حرف جر دی.

استاد: عبدالجليل ! يو معمول ته معلوم کړه؟

شاګرد: (شَيْءٍ) دی د مجروراتو څخه مضاف اليه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

استاد: نصيب الله ! ته بل معلوم کړه؟

شاګرد: (عَلِيْمٌ) دی، د مرفوعاتو څخه دی، خبر دی.

استاد: ټوله ووایاست بل معمول سته که یا؟

شاګرد: هو سته په (عَلِيْمٌ) کې ضمير دی، د مرفوعاتو څخه دی، فاعل دی.

(تَمَّتْ إِجْرَاءُ النَّحْوِ بِعَوْنِ اللهِ تَعَالٰی)

# مشوره

(۱) استاد محترم دي طالبانو ته نوی درس تر هغه وخته نه ورکوي تر څو د وړل سوي درس اجراء په مکمله توګه نه وي سوې او هر طالب د هري پوښتني جواب فوراً ور نه کړي

(۲) که یو طالب د کتاب ټوله سبقان یاد کړي وي نو استاد کولای سي چې په یوه مثال کې مکمله اجراء ورسره وکړي.

# بعض مهم ضوابط

## مبتدا او خبر

**تعريف**: هُمَا اسْمَانِ مُجَرَّدَانِ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ، اَحَدُهُمَا مُسْنَدٌ إِلَيْهِ وَيُسَمَّى الْمُبْتَدَأُ، وَالثَّانِيْ مُسْنَدٌ بِهِ، وَيُسَمَّى الْخَبَرُ نَحْوُ: زَيْدٌ قَائِمٌ. وَالْعَامِلُ فِيهِمَا مَعْنَوِيٌّ وَهُوَ الابْتِدَا.

**علامات**:

د مبتدا او خبر نهه (۹) علامات دي: څلور عامه دي او پنځه خاصه دي.

**د علامات عامه تعريف**: عامه هغه ته وايي چي هر ځاى مبتدا و خبر موجود سي نو عامه څلور سره علامات هلته موجود وي.

**علامات عامه**:

١-د چا په باره کي چي خبره کيږي هغه مبتدا وي او کومه خبره چي کيږي هغه خبر وي.

٢-مبتداء ذات وي او خبر وصف وي.

٣-د مبتدا څخه خبره شروع کيږي نيمګ وي او پر خبر پوره کيږي لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ.

۴-د مبتدا او خبر چي په پښتو ترجمه وسي نو په أخر کي ئې لفظ د (دی) با

Maktaba Tul Ishaat.com

(نه دي) راځي لکه : زَيْدٌ قَائِمٌ، زيد ولاړ دی او زَيْدٌ لَيسَ بِقَائِمٍ، زيد ولاړ نه دی.

**د علامات خاصه تعریف**: خاصه هغه علاماتو ته وايي چي يوه يوه موجوده وي ټوله نه وي موجود.

## علامات خاصه:

١-چي په ابتداء کي د کلام ضمير مرفوع منفصل راسي لکه: هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ

٢-چي د اسماء اشاراتو وروسته معرف باللام اسم وي لکه: ذٰلِكَ الْكِتَابُ.

**فائده**: د اسماء اشاراتو وروسته چي معرف باللام راسي د هغه نور ترکيبونه هم کيداي سي.

٣-د جار و مجرور وروسته يو اسم نکره راسي لکه: وَعَلٰى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ

٤-چي په ابتداء د کلام کي موصوف او صفت، يا حال او ذو الحال وي يا صله او موصول، يا مضاف او مضاف اليه وي، لکه: وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ، زَيْدٌ رَاكِبًا حَسَنٌ، اَلَّذِيْ اَكْرَمْتُهُ اُسْتَاذِيْ، مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ.

٥-چي يو اسم په ابتداء کي د کلام راسي لکه: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

## احکام د مبتدا:

مبتدا لره پنځه احکام دي:

**اول**: رفع ئې واجب ده، او کله کله مجرور راځي.

## څلور ځايه مبتدا لفظاً مجرور واقع کيږي:

١-چي تر (مِنْ) زائده وروسته وي، ليکن په دوو شرطو سره:

(١) مدخول د (مِنْ) به نكره وي (٢) ما قبل د (مِنْ) په نفي، يا نهي، يا استفهام وي لكه: هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ

٢-چي (با) زائده پر مبتدا داخل وي لكه: بِحَسْبِكَ اللهُ.

٣-(رُبَّ) چي پر كوم اسم داخل وي هغه مبتدا مجرور وي لكه: رُبَّ قَـائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إلاَّ السَّهَرُ.

٤-چي (واو) په معني د (رُبَّ) پر داخل سوى وي لكه: وَعَالِمٍ يَّعْمَلُ بِعِلْمِهِ، ليكن دا ځلور سره مرفوع دي محلاً.

**دوهم**: مبتدا به معرفه وي لكه: مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ، يا به نكره مخصصه وي چي نكره مفيده هم ورته ويل كيږي لكه: مَجْلِسُ عِلْمٍ يُّنْتَفَعُ بِهِ خَيْرٌ مِّنْ عِبَادَةِ سَبْعِيْنَ سَنَةً.

## نكره مفيده گرځي په يوه د څوارلسو (١٤) شرائطو:

١-په اضافت سره لفظا لكه: خَمْسُ صَلَوَاةٍ كَتَبَهُنَّ اللهُ يا معنًى لكه: كُلٌّ يَّمُوْتُ، قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ اَيْ كُلُّ اَحَدٍ.

٢-په صفت سره لفظا لكه: وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ، يا تقديرا لكه: شَرٌّ أَهَرَّ ذَانَابٍ أيْ شَرٌّ عَظِيْمٌ، يا معنًى هغه داسي چي مصغر وي لكه: رُجَيْلٌ عِنْدَنَا أيْ رَجُلٌ حَقِيْرٌ.

٣-چي خبر ئې ظرف يا جار و مجرور مقدم وي لكه: وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ، وَلِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ.

٤-چي وروسته تر نفي، استفهام، (لَوْلاَ) ، يا (إِذَا) الفجائيه راغلي وي لكه: مَا أَحَدٌ عِنْدَنَا، أَإِلٰهٌ مَّعَ اللهِ، لَوْلاَ اصْطِبَارٌ لَأَوْدٰى كُلُّ ذِيْ مِقَةٍ، خَرَجْتُ فَإِذَا أَسَدٌ رَابِضٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

۵-چي مبتدا عمل کونکي وي لکه: اَمْرٌ بِمَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ، په دغه مثال کي جار و مجرور تعلق نیسي تر (اَمْرٌ) پوري نو مفعول به غیر صریحي ئې سو (كذا في جامع الدروس)

۶-چي د مبهماتو څخه وي لکه: اسماء شرط، اسماء استفهام، (ما) تعجبیه او (کَمْ) خبریه لکه: مَن يَّجْتَهِدْ يُفْلِحْ، مَن مُجْتَهِدٌ؟، مَا اَحْسَنَ الْعِلْمَ، كَم مَأْثُرَةٍ لَكَ.

۷-چي دعا افاده کوي، د خیر وي او که د شر لکه: سَلَامٌ عَلَيْكُمْ او وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ.

۸-چي قائم مقام د موصوف وي لکه: عَالِمٌ خَيْرٌ مِّنْ جَاهِلٍ يَعْنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ

۹-چي په اول کي د جملهٔ حالیې واقع وي لکه: وَكُلَّ يَوْمٍ تَرَانِيْ مُدْيَةٌ بِيَدِيْ، (مُدْيَةٌ) مبتدا، (بِيَدِيْ) خبر، بیا ټول جمله حال ده د ضمیر منصوب څخه د (تَرَانِيْ).

۱۰-چي په دې سره تفصیل او تقسیم مراد وي لکه قول د امْرِئِ الْقَيْسِ:

فَاَقْبَلْتُ زَحْفاً عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ فَثَوْبٌ لَبِسْتُ وَثَوْبٌ اَجُرُّ.

۱۱-چي دا نکره وي عطف وي پر معرفه او یا معرفه وي عطف وي پر نکره د لکه: خَالِدٌ وَرَجُلٌ يَتَعَلَّمَانِ النَّحْوَ، رَجُلٌ وَّخَالِدٌ يَّتَعَلَّمَانِ الْبَيَانَ.

۱۲-چي عطف وي پر نکرهٔ موصوفه او یا ئې عکس وي لکه: قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَا اَذًى، طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ.

۱۳-چي په دې سره حقیقت د جنس مراد وي ـ نه یو فرد ـ لکه: تَمْرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ جَرَادَةٍ، او رَجُلٌ اَقْوٰى مِنِ امْرَأَةٍ.

۱۴-چي جواب واقع سي لکه: رَجُلٌ په جواب کي د هغه چا چي ووایي: مَنْ

عِنْدَكَ؟

**دريم**: د مبتدا حذف جائز دی که پر هغه باندې يو دليل وو لکه چې ووېل سي: كَيْفَ سَعِيْدٌ؟ نو په جواب کې ئې ووېل سي: مُجْتَهِدٌ يَعْنِيْ هُوَ مُجْتَهِدٌ، مَنْ عَمِلَ صَالِحاً فَلِنَفْسِهِ أَيْ فَعَمَلُهُ لِنَفْسِهِ، وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا أَيْ إِسَائَتُهُ عَلَيْهَا، سُوْرَةٌ أَنْزَلْنَاهَا أَيْ هٰذِهِ سُوْرَةٌ.

**څلورم**:

## پنځه ځايه د مبتدا حذف واجب دی:

۱-چې خبر د مبتدا مخصوص د نعم او بئس وي او وروسته وي تر دوي لکه: نِعْمَ الْفَاتِحُ صَلَاحُ الدِّيْنِ، بِئْسَ الْخُلُقُ خُلْفُ الْوَعْدِ.

۲-چې خبر د مبتدا نعت مقطوع وي د خپل متبوع څخه او د مدح يا ذم يا ترحم لپاره وي لکه: رَحِمَ اللهُ عُمَرَ الْعَادِلُ أَيْ هُوَ الْعَادِلُ، أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ أَيْ هُوَ الرَّجِيْمُ، تَصَدَّقْ عَلَى الْفَقِيْرِ الْمِسْكِيْنُ أَيْ هُوَ الْمِسْكِيْنُ.

۳-چې جواب د قسم ولاړ وي پر ځاي د مبتدا لکه: فِيْ ذِمَّتِيْ لَأَفْعَلَنَّ أَيْ فِيْ ذِمَّتِيْ يَمِيْنٌ.

۴-چې خبر ئې مصدر مرفوع نائب د فعل وي لکه: صَبْرٌ جَمِيْلٌ أَيْ صَبْرِيْ صَبْرٌ جَمِيْلٌ.

۵-وروسته تر لاسيما چې مستثنٰی بها ئې مرفوع وي لکه: أَكْرِمِ الزُّعَمَاءَ لَاسِيَّمَا سَعْدٌ أَيْ هُوَ سَعْدٌ.

### د مبتدا او د خبر مرتبه:

**پنځم**: اصل په مبتدا کې تقديم دی ځکه محکوم عليه دی، او اصل په خبر

Maktaba Tul Ishaat.com

کې تأخير دی څکه محکوم به دی، کله د مبتدا او کله د خبر تقديم واجب وي،
او کله دواړه مساوي وي نو څکه

## شپږ ځايه د مبتدا تقديم پر خبر واجب دی:

۱-چې مبتدا د هغه اسماوو څخه وي چې تقاضا د صدارت کوي لکه: اسماء الشرط مثال: وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يُفْلِحْ، اسماء الاستفهام لکه: مَنْ جَاءَ؟، او (مـا) تعجبيه لکه: مَا أَحْسَنَ الْفَضِيْلَةَ! او کم خبريه لکه: كَمْ كِتَابٍ عِنْدِيْ!

۲-چې مبتدا مشابه د اسم شرط سره وي لکـه: اَلَّذِيْ يَجْتَهِدُ فَلَهُ جَائِزَةٌ، دلتـه مبتدا مشابه ده د اسم شرط سره په عموم کې او په استقبال کې د فعل، وروسته تر دې، او په کيدلو کې د سبب د مابعد لپاره، نو دا مثال پـه قـوت کـې د دې قـول دی چې: مَنْ يَجْتَهِدْ فَلَهُ جَائِزَةٌ.

۳-چې مبتدا مضاف وي داسې اسم لـره چې تقاضـا د صـدارت کـوي لکـه: غُلَامُ مَنْ مُجْتَهِدٌ؟

۴-چې مقترن په لام د ابتدا وي لکه: لَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ.

۵-چې هر يو د مبتدا او خبر څخه معرفه يا نکره وي او پر تعيين د يوه قرينه نه وي لکه: أَخُوْكَ عَلِيٌّ ، که اخبار د (أخ) څخه اراده وي يا (عَلِيٌّ أَخُوْكَ)، که اخبـار د علي څخه اراده وي، أَسَنُّ مِنْكَ أَسَنُّ مِنِّيْ کله چې ستا قصد اخبار د هغه چا څخه وي چې هغه اسن وي تر مخاطب ستا، يا أَسَنُّ مِنِّيْ أَسَنُّ مِنْكَ دا هغه وخت چې ستا اراده د اخبار د هغه چا وي چې هغه اسن وي تر تا خپله.

۶-چې مبتدا محصور وي په خبر کې او هغه داسې چې خبر مقترن په

(الاَّ)سره وي لفظا لكه: وَمَا مُحَمَّدٌ إلاَّ رَسُوْلٌ، يا معناً لكه: إنَّمَا اَنْتَ نَذِيْرٌ.

## اقسام د مبتدا:

مبتدا دري قسمه ده: ١-صريح لكه: اَلْكَرِيْمُ مَحْبُوْبٌ ٢-ضمير منفصل لكه: اَنْتَ مُجْتَهِدٌ ٣-مؤول لكه: اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ.

**فائده**: مبتداء هميشه اسم وي.

**اعتراض**: ضَرَبَ فِعْلٌ، مِنْ حَرْفٌ، زَيْدٌ قَائِمٌ جُمْلَةٌ.

په دغه مثالو كې مبتدا يا فعل دى لكه: ضَرَبَ، يا حرف دى لكه: مِنْ يا جمله ده لكه: زَيْدٌ قَائِمٌ.

**جواب**: اسم پر دري قسمه دى: ١-حقيقي، ٢-حكمي، ٣-تأويلي.

**اسم حقيقي**: هغه اسم ته وايي چي په اصل وضع كي اسم وي او دا لس (١٠) دي:

١-اسم جامد، ٢-اسم مصدر، ٣-اسم فاعل، ٤-اسم مفعول، ٥-صفت مشبه، ٦-اسم تفضيل، ٧-اسم اٰله، ٨-اسم ظرف، ٩-اسم مبالغه، ١٠-اسم منسوب.

**اسم حكمي**: هغه اسم ته وايي چي په تأويل د مصدر وي په حروف مصدريه وو سره لفظا لكه: ءَأَنْذَرْتَهُمْ، حروف مصدريه شپږ دي: مَا، أَنْ، أَنَّ، كَيْ، لَوْ، هَمْزَةُ التَّسْوِيَةِ. يا تقديرا لكه: تَسْمَعُ بِالْمُعَيْدِيِّ خَيْرٌ مِّنْ أَنْ تَرَاهُ أَيْ سَمَاعُكَ. په تقدير د (أَنْ) (جامع الدروس).

Maktaba Tul Ishaat.com

**اسم تاويلي:** هغه فعل، حرف او جملې ته وايي چي د هغه ښخه مراد لفظ وي نه معنیٰ، نو په تأويل د (هٰذَا اللَّفظُ) يا په تأويل د (هٰذَا التَّرْكِيبُ) اسم تأويلي بلل کيږي او هم داسي هر لفظ چي په تأويل د اسم وي لکه: تَسْمَعُ بِالْمُعَيْدِيِّ خَيْرٌ مِنْ اَنْ تَرَاهُ اَيْ سَمَاعُكَ.

**خلاصهٔ جواب:** نو په مذکور مثال کي د (ضَرَبَ، مِنْ او زَيْدٌ قَائِمٌ) ښخه مراد الفاظ دي، نو دا تأويلي اسماء دي.

## احکام د خبر:

د خبر لپاره اوه (٧) احکام دي:

**اول:** رفع د خبر واجب ده.

**دوهم:** اصل په خبر کي دا دی چي نکره مشتقه وي او کله جامد هم راځي لکه: هٰذَا حَجَرٌ.

**دريم:** وجوب د مطابقت د ده دی د مبتدا سره.

## د خبر مطابقت د مبتدا سره:

د خبر مطابقت د مبتدا سره ضروري دی افراداً، تثنيةً، جمعاً، تذکيراً، تانيثاً ـ لیکن که لاندي ذکر سوي اته شرائط موجود وه، يعني که دا اته شرائط وه نو مطابقت ضروري دی که نه وه نو مطابقت ضروري نه دی.

## د مطابقت اته شرائط:

١-مبتدا و خبر به دواړه اسم ظاهر وي احترازي مثال: هِيَ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ.

**فائده:** احترازي مثال هغه ته وايي چي دشرط څخه مخالف وي.

۲-خبر به مشتق وي احترازي مثال: اَلْكَلِمَةُ لَفْظٌ.

۳-خبر به حامل د ضمير د مبتدا وي احترازي مثال: زَيْنَبُ وَمَاهُ مُمْتَنِعٌ.

۴-خبر به اسم تفضيل مستعمل په (مِنْ) سره نه وي احترازي مثال: اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ.

۵-خبر به لفظ مشترک بين المذکر و المؤنث نه وي احترازي مثال: اَلْمَرْأَةُ جَرِيْحٌ وَصَبُوْرٌ.

۶-خبر به لفظ مختص بالمؤنث نه وي احترازي مثال: أَنْتِ طَالِقٌ

۷-خبر به د اسماء متوغله في الابهام (يعني چي زيات ابهام وي پکښي) څخه نه وي احترازي مثال لکه: غَيْرُ وَشِبْهُهُ.

۸-خبر به د مبالغې صيغه نه وي احترازي مثال لکه: زَيْدٌ عَلاَّمَةٌ.

**څلورم:** حذف د خبر جائز دی که يو دليل وو پر حذف ئې لکه: خَرَجْتُ فَاِذَا الأَسَدُ أَيْ فَإِذَا الأَسَدُ حَاضِرٌ، او چي ته ووايې: مَنْ مُجْتَهِدٌ؟ په جواب کي ووېل سي: زُهَيْرٌ أَيْ زُهَيْرٌ مُجْتَهِدٌ، او هم داسي دا قول د الله تعالى: أُكُلُهَا دَائِمٌ وَّظِلُّهَا أَيْ وَظِلُّهَا كَذَالِكَ.

## پنځم:

## څلور ځايه د خبر حذف واجب دی:

۱-چي دلالت کوي پر صفت مطلقه باندي يعني دلالت کوي پر وجود عام باندي، او دا په دوو ځايو کي راځي:اول: چي ظرف يا جار ومجرور تعلق ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com

ونيسي لكه: اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الأُمَّهَاتِ اَيِ الْجَنَّةُ كَائِنَةٌ يا مَوْجُوْدَةٌ، اَلْعِلْمُ فِي الصُّدُوْرِ اَيْ كَائِنٌ. دوهم: چي وروسته تر (لَوْلاَ) يا (لَوْمَا) راسي لكه: لَوْلاَ الدِّيْنُ لَهَلَكَ النَّاسُ اَيْ لَوْلاَ الدِّيْنُ مَوْجُوْدٌ، لَوْمَا الْكِتَابَةُ لَضَاعَ اَكْثَرُ الْعِلْمِ اَيْ لَوْمَا الْكِتَابَةُ مَوْجُوْدَةٌ.

۲-چي خبر وي د مبتداء صريح په قَسَم كي لكه: لَعَمْرُكَ لأَفْعَلَنَّ اَيْ لَعَمْرُكَ قَسَمِيْ.

۳-چي مبتدا مصدر يا اسم تفضيل مضاف وي مصدر ته او وروسته تر دوي داسي حال وي چي د صلاحيت د خبر نه لري بلكه صلاحيت د سد مسد د خبر لري، اول لكه: تَأْدِيْبِي الْغُلاَمَ مُسِيْئًا. دوهم لكه: اَفْضَلُ صَلاَتِكَ خَالِياً مِمَّا يَشْغَلُكَ.

۴-چي خبر وروسته تر (واو) په معنٰى د (مَعَ) وي لكه: كُلُّ امْرِءٍ وَمَا فَعَلَ اَيْ مَعَ فعلِهِ مُقْتَرِنَانِ.

**شپږم**: د خبر تعدد جائز دى او مبتدا يو وي لكه: خَلِيْلٌ كَاتِبٌ، شَاعِرٌ، خَطِيْبٌ.

**اوم**: اصل په خبر كي تأخير دى تر مبتدا او كله ئي تقديم جائز او كله واجب وي.

## څلور ځايه تقديم د خبر پر مبتدا واجب دى:

**اول**: چي مبتدا نكره غير مفيده او مخبر عنها په ظرف يا جار و مجرور سره وي لكه: عِنْدَكَ ضَيْفٌ، وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ، عَلٰى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ.

**دوهم**: چي خبر اسم استفهام يا مضاف اسم استفهام ا ر ـ ري لكه: كَيْفَ حَالُكَ؟، اِبْنُ مَنْ اَنْتَ؟

**دريم**: چې په مبتدا پورې ضمير د خبر متصل وي لکه: اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا.

**څلورم**: چې خبر محصور وي په مبتدا کې او هغه داسې چې مبتدا مقترن په (اِلاَّ) سره وي لفظاً لکه: مَا خَالِقٌ اِلاَّ اللهُ يا معنًى لکه: اِنَّمَا مَحْمُوْدٌ مَنْ يَجْتَهِدُ.

## د خبر اقسام:

خبر د مبتدا پر دوه قسمه دی: ١-مفرد ٢-جمله.

**الخبر المفرد**: هغه دی چې غير د جملې څخه وي که څه هم تثنيه يا جمع وي لکه: اَلْمُجْتَهِدُ مَحْمُوْدٌ، اَلْمُجْتَهِدَانِ مَحْمُوْدَانِ، اَلْمُجْتَهِدُوْنَ مَحْمُوْدُوْنَ.

**الخبر الجملة**: هغه دی چې جمله وي لکه:اَلْخُلُقُ الْحَسَنُ يُعْلِيْ قَدْرَ صَاحِبِهٖ، اَلْعَامِلُ خُلُقُهٗ حَسَنٌ.

**فائده**: جمله چې خبر واقع سي نو شرط دا دی پکښې چې دا به مشتمله وي پر رابط (عائد) باندې چې د مبتدا سره ئې ربط راولي.

## عائد:

خبر جمله هم واقع کيږي خو عائد پکښې ضروري دی او عائد پر شپږ قسمه دی يوازې ضمير نه دی.

## عائد پر شپږ (۶) قسمه دی:

١-ضمير، بارز وي لکه: زَيْدٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ، يا مستتر وي لکه: اَلْحَقُّ يَعْلُوْ، او يا مقدر وي لکه: اَلْفِضَّةُ الدِّرْهَمُ بِقِرْشٍ اَيْ اَلدِّرْهَمُ مِنْهَا.

٢-الف لام لکه: نِعْمَ الرَّجُلُ اَبُوْبَكْرٍ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳- ذکر کیدل د اسم ظاهر پر ځاي د ضمیر لکه: اَلْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ.

۴-خبر مفسر وي لکه: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ.

۵-خبر اسم اشاره وي لکه: وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ.

۶-چي خبر عینِ مبتدا وي خو فرق ئې په اجمال او تفصیل کي وي لکه: مَا قُلْتُهُ أَنَا وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ قَبْلِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ (الحدیث)

## پر خبر د (فاء) داخلیدل:

په اتو (۸) صورتو کي پر خبر (فا) داخلیږي:

۱-چي مبتدا اسم موصول او صله ئې جمله فعلیه وي لکه: مَا أَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيْكُمْ.

۲-چي مبتدا اسم موصول او صله ئې جملهٔ ظرفیه وي لکه: مَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ.

۳-چي مبتدا اسم موصوف او صفت ئې موصول په فعل سره وي لکه: قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلٰقِيْكُمْ.

۴-چي مبتدا اسم موصوف او صفت ئې جمله ظرفیه وي لکه: لَبِيْبٌ تَحْتَ رِعَايَتِكَ فَلَا يَخِيْبُ.

۵-چي مبتدا نکره وي او موصوف وي په جمله فعلیه سره لکه: كُلُّ رَجُلٍ يَأْتِيْنِيْ فَلَهُ دِرْهَمٌ.

۶-چي مبتدا داسي نکره وي چي موصوف وي په جمله ظرفیه سره لکه: كُلُّ رَجُلٍ فِي الْمَسْجِدِ فَلَهُ دِرْهَمٌ.

٧-چي مبتدا داسي اسم وي چي داسي نکرې ته مضاف وي چي صفت ئې جمله فعليه وي لکه: كُلُّ غُلَامِ رَجُلٍ يَأْتِيْنِيْ فَلَهُ دِرْهَمٌ.

٨-چي د داغه مضاف اليه صفت جمله ظرفيه وي لکه: كُلُّ غُلَامِ رَجُلٍ فِـي الدَّارِ فَلَهُ دِرْهَمٌ.

**ضابطه**: او که مبتدا وروسته تر (أَمَّا) راسي نو دخول د فا واجب دی لکه: وَأَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَباً.

## فعل او فاعل

### د فعل او فاعل علامې:

١-د کوم شي يا شخص څخه چي يو شی صادر وي هغه شی يا شخص فاعل دی، او کوم شی چي صادر وي هغه فعل دی مثال لکه: فَوَكَزَهُ مُوْسٰى.

٢-پر کوم شي چي فعل واقع وي پر طريقه د قيام هغه فاعل دی او واقع سوي شی فعل دی لکه: مَاتَ زَيْدٌ.

### څلور ځايه فاعل مجرور وي:

١-چي مصدر مضاف سي فاعل ته لکه: ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرواً.

٢-کله چي (مِنْ) زائده پر داخل سي لکه: مَاجَاءَ نَا مِنْ بَشِيْرٍ.

٣-کله چي (با) زائده پر داخل سي لکه: كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْداً.

٤-کله چي (لام) زائده پر داخل سي لکه: هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## پنځه ځایه تانیث د فاعل جائز دی:

۱-کله چي فصل واقع وي په منځ کي د فاعلِ ظاهر مؤنث حقیقي او عامل حیل، بغیر د (إلاّ) او (غَیر) او (سِوا) ځخه لکه: حَضَرَ یا حَضَرَتِ الْیَوْمَ فَتَاةٌ.

۲-کله چي فاعل ظاهر مؤنث مجازي وي لکه: طَلَعَ یا طَلَعَتِ الشَّمْسُ.

۳-کله چي فاعل ضمیر د جمع مکسر عاقل وي لکه: اَلتَّلَامِیْذُ اِجْتَهَدَتْ یا اِجْتَهَدُوْا.

۴-کله چي فاعل جمع تکسیر د مذکر یا د مؤنث وي او یا اسم جمع یا شبه جمع وي لکه: جَاءَ یا جَاءَتِ الْعُلَمَاءُ، قَامَ یا قَامَتِ الْجَوَارِيْ، حَضَرَ یا حَضَرَتْ النِّسَاءُ، وَرَقَ یا وَرَقَتِ الشَّجَرُ.

۵-کله چي فاعل مؤنث وروسته تر فعل جامد راسي لکه: نِعْمَ یا نِعْمَتِ الْفَتَاةُ سُعَادُ، بِئْسَ یا بِئْسَتِ الْمَرْأَةُ هِنْدٌ.

## درې ځایه د عاملِ فاعل تانیث منع دی:

۱-چي فاعل مفصول په (إلاّ) سره وي لکه: مَا حَضَرَ إلاّ سُعَادُ.

۲-فاعل ئې مؤنث وي لفظا، مذکر وي معنًى لکه: طَلْحَةُ.

۳-چي فاعل جمع مذکر سالم وي نَصَرَ الْمُسْلِمُوْنَ.

## درې ځایه فاعل پر مفعول دمخه کیږي:

۱-چي اعراب د دواړو خفي وي لکه: أَهَانَ اَبِيْ عَمِّيْ.

۲-چي فاعل ضمیر متصل وي لکه: اَحْبَبْتُ الْوَطَنَ.

۳- چې مفعول محصور وي لکه: مَا فَهِمَ اَحَدٌ اِلاَّ سَلِيْماً.

## درې ځايه د مفعول تقديم پر فاعل واجب دی:

۱- فاعل محصور په (اِنَّمَا) يا په (اِلاَّ) سره وي لکه: اِنَّمَا هَذَّبَ النَّاسَ الدِّيْنُ الْقَوِيْمُ، مَا هَذَّبَ النَّاسَ اِلاَّ الدِّيْنُ الْقَوِيْمُ.

۲- چې مفعول ضمير متصل وي او فاعل اسم ظاهر وي لکه: كَافَأَنِي الْأَمِيْرُ.

۳- کله چې په فاعل پورې ضمير د مفعول متصل وي لکه: كَلَّمَ عَلِيًّا صَاحِبُهُ.

## درې ځايه تقديم د مفعول پر فعل او فاعل دواړو واجب دی:

۱- چې مفعول لره صدر د کلام وي لکه: مَنْ رَأَيْتَ؟، فَأَيَّ آيَاتِ اللهِ تُنْكِرُوْنَ.

۲- چې مفعول به ضمير منفصل وي او مقصد ځنې تخصيص وي لکه: إِيَّاكَ نَعْبُدُ.

۳- چې فعل وروسته تر فاءِ جزائيه راسي او د فعل لپاره بل مفعول مقدم نه وي لکه: وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، فَأَمَّا الْيَتِيْمَ فَلاَ تَقْهَرْ.

## څلور ځايه عاملِ فاعل مؤنث راوړل واجب دي:

۱- چې فاعل ضمير متصل راجع مؤنث لره وي لکه: سُعَادُ حَضَرَتْ، اَلنَّارُ اشْتَعَلَتْ.

۲- چې فاعل اسم ظاهر مؤنث حقيقي متصل په خپل فعل متصرف پورې وي لکه: تَعَلَّمَتِ الْفَتَاةُ، تَنُوْحُ الْحَمَامَةُ.

۳- چې فاعل ضمير مستتر راجع وي جمع تکسير د مؤنث او يا هم جمع

Maktaba Tul Ishaat.com

مؤنث سالم لره لکه: اَلْفَوَاطِمُ فَرِحَتْ، اَلْفَاطِمَاتُ فَرِحْنَ.

۴-چي فاعل ضمير راجع وي جمع تکسير د مذکر غير عاقل لره لکه: اَلأَيَّامُ ... انْتَهَجَتْ.

## په دوو صورتو کي د فعل تانيث واجب دی:

۱-چي فاعل ئې مؤنث حقيقي بيله فاصل وي لکه: قَامَتْ هِنْدٌ.

۲-چي فاعل ئې ضمير مؤنث وي لکه: هِنْدٌ قَامَتْ.

## فعل لازم:

**تعريف**: فعل لازم هغه دی چي پر فاعل تام سي مفعول ته محتاج نه وي.

**علامات**: د فعل لازم علامات شپږ (٦) دي:

۱-کوم فعل چي پر حدوث د ذات دلالت کوي لکه: حَدَثَ عَمْرٌو، عَرَضَ صَفَرٌ.

۲-چي د صفتِ حسيه پر حدوث دلا لت کوي لکه: طَالَ اللَّيلُ.

۳-چي پر عرض دلا لت کوي لکه: مَرِضَ زَيْدٌ.

۴-چي پر وزن د اِنْفَعَلَ، تَفَعْلَلَ، اِفْعَلَّ، اِفْعَالَّ، اِفْعَنْلَلَ، اِفْعَلَلَّ وي.

۵-چي د شَرُفَ کَرُمَ پر وزن وي.

۶-هغه فعل چي صفت ئې د فعيل پر وزن راځي لکه: ذَلَّ ذَلِيْلٌ سَمِنَ سَمِيْنٌ.

## فعل متعدي:

**تعريف**: فعل متعدي هغه دی چي معنی ئې په فاعل سره نه تاميږي

ـمفعول ته محتاج وي.

علامات: د فعل متعدي علامات دوه دي:

د فعل متعدي علامات دوه دي:

۱-چي ضمیرِ غیرِ مصدر او غیرِ خبر پوري متصل كيدلاي سي لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْراً.

۲-چي بيله واسطې د حرف جر ـ متعدي كيږي لكه:

**فعل متعدي پر څلور (۴) قسمه دی:**

۱-متعدي يوه مفعول ته لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْراً.

۲-متعدي دوو مفعولو ته اقتصار پر يوه جائز لكه: أَعْطَيْتُ زَيْداً دِرْهَماً.

۳-متعدي دوو مفعولو ته اقتصار پر يوه ناجائز او هغه افعال قلوب دي.

۴-متعدي درو مفعولو ته لكه: أَعْلَمَ، أَرٰي، أَنْبَأَ، أَخْبَرَ ، خَبَّر، نَبَّأَ، حَدَّثَ لكه:

أَعْلَمَ اللهُ زَيْداً عَمْرواً فَاضِلاً.

## جار او مجرور

حرف جر چي پر كوم اسم داخل سي هغه ته مجرور وايي او دغه جار او مجرور ته ظرف هم وايي.

ظرف پر دوه قسمه دی: ۱-حقيقي، ۲-مجازي.

**ظرف حقيقي**: ظرف زمان او مكان دي.

**ظرف مجازي**: جار او مجرور دي.

او ظرف متعلق غواړي كه متعلق مذكور وو نو ظرف ته ظرف لغو وايي او كه

Maktaba Tul Ishaat.com

متعلق مذكور نه وو نو ظرف ته ظرف مستقر وايي.

## په (فِي الدَّارِ زَيْدٌ) كي درې تركيبه دي:

۱-جار و مجرور د (ثَابِتٌ) متعلق، خبر مقدم، (زَيْدٌ) مبتدا مؤخر.

۲-جار و مجرور متعلق د (ثَبَتَ)، (زَيْدٌ) ئې فاعل.

۳-جار و مجرور قائم مقام د (ثَبَتَ) يا (ثَابِتٌ)، (زَيْدٌ) ئې فاعل.

## د معرفه څوارلس (۱۴) اقسام دي

۱-مضمرات.

۲-اعلام شخصي لكه: زَيْدٌ.

۳-اعلام جنسي لكه: أُسَامَةُ.

۴-هغه اوزان د كومو څخه چي موزونات مراد وي نو دا د عَلَم په حكم كي معرفه دي لكه: فَعْلاَنُ الَّذِيْ مُؤَنَّثُهُ فَعْلاَنَةٌ مُنصَرِفٌ.

۵-لفظ وويل سي همداغه لفظ مراد سي نو دا هم د عَلَم په حكم كي معرفه وي لكه: رَجُلٌ ثُلاَثِيٌّ.

۶-لفظ د (فُلاَنٌ)او (فُلاَنَةٌ) د عَلَم په حكم كي معرفه دي څكه (فُلاَنَةٌ)غير منصرف دی.

۷-اسماء اشارات.

۸-اسماء موصولات.

۹-معرف باللام لكه: اَلرَّجُلُ.

۱۰-د عدد څخه چي کله عدد مراد وي معدود مراد نه وي لکه: سِتَّةُ ضِعْفُ ثَلَاثَةٍ.

۱۱-يو اسم چي مضاف وي و يوه ته د دغو لسو شيانو لکه: غُلَامُ زَيْدٍ الخ.

۱۲-معرفه په نداء سره لکه: يَا رَجُلُ.

۱۳-اسماء افعال او اسماء مختومه په (وَيْهِ) سره، په اٰخر کي ئې عدم تنوين علامه د تعريف ده لکه: صَهْ، او مَرَرْتُ بِسِيْبَوَيْهِ وَسِيْبَوَيْهِ آخَرَ.

۱۴-کله چي نکره د معرفه سره جمع سي نو حکماً معرفه گرځي لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ وَزَيْدٌ ضَاحِكَيْنِ.

## د نکره شپاړس (۱۶) علامات دي

۱-چي د معرفه د اقسامو څخه يو قسم نه وي لکه: رَجُلٌ

۲-د اعلام څخه ماسيوا په کوم اسم متمکن کي چي تنوين راسي لکه: رَجُلٌ فَرَسٌ، دغه تنوين د تمکّن او تنکير د دوارو لپاره کيداي سي، ليکن که په (رَجُلٌ) سره يو سړی مسمّی کړو نو تنکير ئې زائليږي او يوازي د تمکّن لپاره گرځي.

۳-چي پر اسماء افعال او سماءِ اصوات تنوين راسي لکه: صَهٍ، او مَرَرْتُ بِسِيْبَوَيْهِ وَسِيْبَوَيْهِ آخَرَ.

۴-پر کوم اسم چي (مِنْ) استغراقيه داخل وي لکه: مَا جَاءَنِيْ مِنْ أَحَدٍ.

۵-جمله په حکم کي د نکرې ده.

۶-پر کوم معرفه چي (رُبَّ) داخل وي لکه. رُبَّ سُعَادٍ وَزَيْنَبٍ لَقِيْتُهُمَا

۷-پر کوم عَلَم چي (كُلّ) افرادي داخل وي لکه: كُلُّ فُعْلَانٍ حُكْمُهُ كَذَا.

Maktaba Tul Ishaat.com

۸-د كوم علم ځخه چي تثنيه يا جمع جوړه سي لكه: زَيْدَانِ، زَيْدُوْنَ.

۹-چي د علم د افرادو ځخه يو فرد غير معين مراد سي لكه: جَاءَنِيْ عُمَرُ وعُمَرٌ آخَرُ.

۱۰-ضمير مبهم لكه: نِعْمَ رَجُلاً، بِئْسَ رَجُلاً.

۱۱-ضمير شأن لكه: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ.

۱۲-هر هغه ضمير چي مرجع ئې واجب التنكير لفظ وي لكه: رُبَّ شَاةٍ وَسَخْلَتِهَا.

۱۳-علم وويل سي صفتِ مشهور ئې مراد كړل سي لكه: لِكُلِّ فِرْعَوْنٍ مُوْسٰى.

۱۴-هغه نكره منادٰى چي په مشاهده سره ئې تعين نه كيږي لكه: يَا رَجُلاً خُذْ بِيَدِيْ، كله چي ړوند ووايي.

۱۵-لفظ د (غَيْرُ، مِثْلُ، شَبِيْهُ، نَظِيْرُ، نَحْوُ، شَانُ،او سِوٰى) دغه اسماء د اضافت الٰى المعرفه سره سره هم نكره وي لكه: إِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ، مگر كه د دوي د مضاف اليه ضد فقط يو شی وي نو بيا معرفه گرځي لكه: عَلَيْكَ بِالْحَرَكَةِ غَيْرَ السُّكُوْنِ، په مذكوره مثال كي د مضاف اليه يعني د سكون ضد فقط يو شی دی چي حركت دی.

۱۶-كوم ظرف چي مضاف و جملې ته وي هغه هميشه نكره وي او هغه درې كلمي دي: إِذْ، إِذَا، حيث او كوم ظروف چي د شرط په معنى وي او همدارنگه كوم ظروف چي متضمن وي معنى لره د استفهام او هغه ظروف مبهم چي مضاف وي معرفه ته دا ټول نكره دي.

# د مرکب اضافي څوارلس (١٢) علامات دي

١-دوه اسمه وي پر اول الف لام او تنوين نه وي پر دوهم الف لام وي لکه: رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ.

٢-درې اسماء وي پر اول او دوهم الف لام او تنوين نه وي پر دريم اسم الف لام داخل وي لکه: مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ.

٣-څلور اسماء وي پر اولو درو الف لام او تنوين نه وي پر أخري اسم الف لام وي لکه: نُوْرُ وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ.

٤-دوه اسمه وي اول خالي د الف لام او تنوين څخه وي دوهم ضمير وي لکه: رَبُّهُمْ.

٥-درې اسماء وي اول او دوهم خالي د الف لام او تنوين څخه وي دريم اسم ضمير وي لکه: لِقَاءَ رَبِّهٖ.

٦-څلور اسماء وي اول درې خالي د الف لام او تنوين څخه وي څلورم اسم ضمير وي لکه: ذِكْرُ رَحْمَةِ رَبِّكَ.

٧-دوه اسمونه وي، اول خالي د الف لام او تنوين څخه وي، دوهم علَم وي لکه: غُلَامُ زَيْدٍ.

٨-درې اسماء وي اول او دوهم خالي د الف لام او تنوين څخه وی او دريم علَم وي لکه: اِبْنُ غُلَامِ زَيْدٍ.

٩-څلور اسمونه وي اول درې خالي د الف لام او تنوين څخه وي څلورم اسم

Maktaba Tul Ishaat.com

... علم وي لکه: مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ

۱۰-دوه اسمونه وي، اول خالي د الف لام او تنوين څخه وي،دوهم اسم اسم ... اشاره وي لکه: رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ

۱۱-دوه اسمونه وي اول خالي د الف لام او تنوين څخه وي دوهم اسم عدد ... وي لکه: تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ

۱۲-اسم عدد مضاف وي خپل تميز ته لکه: مِائَةَ عَامٍ

۱۳-دوه اسمونه وي اول خالي د الف لام او تنوين څخه وي دوهم اسم ... موصول وي لکه: غُلَامُ الَّذِيْ جَاءَنِيْ

۱۴-هغه اسماء چي لازم الاضافت دي

## لازم الاضافت اسماء:

لازم الاضافت اسماء پر دوه قسمه دي:

۱-لازم الاضافت الى المفرد ۲-لازم الاضافت الى الجمله.

## لازم الاضافت الى المفرد

لازم الاضافت الى المفرد بيا پر دوه قسمه دي:

اول: هغه چي قطع د اضافت ئې مطلقا نه ده جائز، نه لفظا او نه معنًى، هغه په ... لاندي ډول دي:

عِنْدَ، لَدٰى، لَدُنْ، بَيْنَ، وَسَطَ، (دا ظروف دي) شِبْهٌ، مِثْلٌ، نَظِيْرٌ، قَابٌ، كِلَا، كِلْتَا، سِوٰى (بالضم والكسر)، غَيْرٌ، ذُوْ، ذَاتٌ، ذَوُوْا، ذَوَاتٌ، اُولُوْا، اُلَاتٌ، قُصَارٰى، حُمَادٰى، سُبْحَانَ، مَعَاذَ، وَحْدَ، سَائِرَ، اُولٰى، لَبَّيْكَ، سَعْدَيْكَ، حَنَانَيْكَ، دَوَالَيْكَ،

لَعَمْرُ، (دا غير ظروف دي)

دوهم: هغه چي قطع ئې د اضافت څخه جائز ده لفظا _ نه معنًی، هغه په لاندي ډول دي:

اوّلُ، دُوْنُ، فَوْقَ، تحْتَ، يَمِيْنُ، شِمَالُ، امَامُ، قُدّامُ، خَلْفَ، وَرَاءَ، تِلْقَاءَ، تُجَاهَ، إزاءَ، حِذاءَ، قَبْلُ، بَعْدُ، مَعَ، (دا ظروف دي) كُلّ، بَعْض، غَيْر، جَمِيْع، حَسْبُ، اَيٌّ (دا غير ظروف دي).

## لازم الاضافت الى الجمله:

إذْ، إذَا، حَيْثُ، لَمَّا، مُذْ، مُنْذُ.

**فائده:** د بعض اسماوو اضافت منع دی لکه: ضمائر، اسماء الاشاره، او اسماء الموصوله (مگر (أيّا) مضافيږي) اسماء الشرط، اسماء الاستفهام.

او بعض اسماء صالح د اضافت او افراد يعني عدم اضافت دواړو دي لکه: غُلَامٌ، كِتَابٌ، حِصَانٌ وغيره.

## د مركب توصيفي اته (٨) علامات دي

١-دوه اسمونه وي پر دواړو الف لام وي لکه: اَلصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ

٢-دوه اسمونه وي دواړه منوّن وي لکه: عَذَابٌ اَلِيْمٌ.

٣-د اسم اشاره وروسته معرف باللام وي غالباً لکه: ذٰلِكَ الْكِتَابُ.

٤-د معرف باللام وروسته اسم موصول وي غالباً لکه: لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ.

٥-دوه اسمونه وي اول اسم مضاف ضمير ته وي او دوهم اسم موصول وي لکه: اُمَّهَاتُكُمُ الّتِيْ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦-د فعل يا شبه فعل مخکي غير معرف باللام اسم وي لکه: أَناسٌ يَتَطَهَّرُوْنَ

٧-ترجار و مجرور مخکي اسم نکره وي لکه: اَلْأَدَبُ جُنَّةٌ لِلنَّاسِ.

٨-د اسم علم څخه وروسته _ اسم _ مضاف وي معرف باللام ته لکه:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د اسم علامات

### د اسم علامات ټول شپږشپيته (٦٦) دي:

د اسم علامات پر دوه قسمه دي: ١-لفظيه، ٢-معنويه.

### علامات لفظيه:

لفظيه پر دري قسمه دي: ١-چي په ابتداء کې د کلمې وي، ٢-چي په اخر کې د کلمې وي، ٣-چي د مجموعه کلمې سره ئې تعلق وي:

### هغه علامات چي د کلمې په ابتداء کې راځي (١٤) دي:

١-د کومي کلمې په ابتداء کي چي الف لام وي لکه: اَلْحَمْدُ.

٢-د کومي کلمې په ابتداء کي چي حرف جر وي لکه: بِزَيْدٍ.

٣-د کومي کلمې په ابتداء کي چي ميم زائد وي لکه: مَضْرُوْبٌ.

٤-د کومي کلمې په ابتداء کي چي حرف نداء وي لکه: يَا اَللهُ.

٥-د کومي کلمې په ابتداء کي چي (لَوْلَا) امتناعيه وي لکه: لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ.

٦-د کومي کلمې په ابتداء کي چي واو حاليه راسي لکه: وَلَا تَقْتُلُوا

الصَّيْدُ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ.

۷- د کومي کلمې په ابتداء کې چې (أمّا) تفصیلیه راسي لکه: فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ.

۸- د کومي کلمې په ابتداء کې چې (لَاتَ) راسي لکه: لَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ

۹- د کومي کلمې په ابتداء کې چې حرف مشبه بالفعل راسي لکه: إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ

۱۰- د کومي کلمې په ابتداء کې چې ما و لا المشبهتان بليس راسي لکه: مَا زَيْدٌ قَائِماً.

۱۱- د کومي کلمې په ابتداء کې چې لاء نفي جنس راسي لکه: لَارَيْبَ فِيْهِ

۱۲- د کومي کلمې په ابتداء کې چې د افعال ناقصه وو څخه يو راسي لکه: كَانَ زَيْدٌ قَائِماً.

۱۳- د کومي کلمې په ابتداء کې چې د افعال مقاربه ؤ څخه يو راسي لکه: عَسَى زَيْدٌ أَن يَّخْرُجَ.

۱۴- د کومي کلمې په ابتداء کې چې د افعال مدح و ذم څخه يو راسي لکه: نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ.

## هغه علامات چې د کلمې په اخر کې راځي هغه هم څوارلس (۱۴) دي:

۱- د کومي کلمې په اٰخر کې چې تنوين راسي لکه: رَجُلٌ.

۲- تثنيه: هغه کلمه ده چې الف يا (يا) ماقبل مفتوح او په اٰخر کې ئې نون مکسور وي، ليکن شرط دادی چې په ابتداء کې ئې حرف اتين نه وي ماسيوا د

(اَضْرِبَانِ، يَزِيْدَانِ، نَرْجِسَانِ، تَغْلِبَانِ) څخه احترازي مثال: يَضْرِبَانِ، اتفاقي مثال:
ضَارِبَانِ، ضَارِبَتَيْنِ.

۳-ملحق بالتثنيه لکه: كِلاَ و كِلْتَا، اِثْنَانِ و اِثْنَتَانِ.

۴-جمع مذکر سالم: هغه کلمه ده چې واو ساکن ماقبل مضموم يا (يا) ساکن ماقبل مکسور او په اٰخر کې ئې نون مفتوح وي، په دې شرط چې په ابتداء کې ئې حرف اتين نه وي ماسيوا د اَضْرِبُوْنَ څخه احترازي مثال: يَضْرِبُوْنَ، اتفاقي مثال: ضَارِبُوْنَ.

۵-ملحق بالجمع: لکه: اُولُوْ وَعِشْرُوْنَ تر تِسْعُوْنَ پورې.

۶-جمع مؤنث سالم: هغه کلمه ده چې په اٰخر کې ئې (الف) او (تاء) زائده وي لکه: مُسْلِمَاتٌ.

۷-منسوب لکه: بَغْدَادِيٌّ.

۸-(تاء) متحرکه تنوينې چې د کلمې په اٰخر کې راځي لکه: ضَارِبَةٌ، قَائِمَةٌ.

۹-الف مقصوره، هغه دادی چې د کلمې په اٰخر کې الف راسي او وروسته ئې همزه نه وي لکه: ضُرْبٰى.

۱۰-الف ممدوده، هغه دا دی چې د کلمې په اٰخر کې الف راسي او وروسته ئې همزه وي لکه: حَمْرَاءُ

۱۱-د کومې کلمې په اٰخر کې چې تنوين مقدر وي لکه: اَضْرِبُ.

۱۲-اسم منقوص: هغه دادی چې د کلمې په اٰخر کې (يا) ماقبل مکسور وي، په دې شرط چې په اول کې ئې حرف اتين نه وي احترازي مثال اِضْرِبِيْ، اتفاقي

مثال: قَاضِيْ

۱۳-هغه کلمه چي په اٰخر کي ئې کسره راسي لکه: غُلَامِ، هٰؤُلَاءِ

۱۴-هغه کلمه چي په اٰخر کي ئې ترخيم وسي لکه: يَا مَالُ، چي اصل ئې يا مَالِكُ دى.

## هغه علامات چي د مجموعه کلمې سره تعلق لري هغه نولس (۱۹) دي:

۱-د يو ذي روح يا غير ذي روح شي نوم وي لکه: زَيْدٌ، نَخْلَةٌ

۲-تصغير: هغه دا دى چي د کلمې اول حرف ئې مضموم، دوهم مفتوح او دريم ځاى (ياء) ساکنه وي لکه: قُرَيْشٌ.

۳-مکبر: مکبر هغه کلمې ته وايي چي، تصغير ئې راتلاي سي لکه: ضَارِبٌ و ضَارِبَةٌ.

۴-جمع مکسر لکه: رِجَالٌ.

۵-جمع اقصى لکه: مَصَابِيْحُ (د جمع اقصى بحث د جمع په بحث کي مستقل ذکر سوى دى، فهرست ته مراجعه وکړئ).

۶-چي فعل يا حرف ووېل سي يوازي لفظ مراد سي نه معنى، نو دا هم اسم دى لکه: عَلٰى حَرْفُ جَرٍّ يا ضَرَبَ فِعْلٌ مَاضٍ.

۷-هر هغه کلمه چي د يو ضمير مرجع وگرځي لکه: مَا اَحْسَنَ زَيْداً، دلته (ما) تعجبيه د (اَحْسَنَ) د ضمير مرجع ده نو ځکه اسم دى، يا په (جَاءَ الضَّارِبُ) کي د (ضَارِبٌ) د ضمير مرجع ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

٨-هغه کلمه چي تشريح ئې په اسم صريح سره وسي لکه: كَيْفَ زَيْدٌ صَحِيْحٌ اَمْ سَقِيْمٌ، د (كَيْفَ) تشريح په اسم صريح سره وسوه نو ځکه (كَيْفَ) اسم دی.

٩-ضمير لکه: اَنْتَ، هُوَ، اَنَا.

١٠-اسماء اشارات لکه: ذٰلِكَ الْكِتَابُ.

١١-اسماء موصولات لکه: اَلَّذِيْ.

١٢-اسماء افعال لکه: هَيْهَاتَ، رُوَيْدَ.

١٣-اسماء اصوات لکه: اُحْ، اُفْ

١٤-اسماء ظروف لکه: إِذْ إِذَا.

١٥-اسماء کنايات لکه: كَمْ ،كَذَا، كَيْتَ ذَيْتَ.

١٦-مرکب بنائي لکه: اَحَدَ عَشَرَ.

١٧-مرکب منع صرف لکه: بَعْلَبَكُّ.

١٨-مرکب صوتي لکه: سِيْبَوَيْهْ.

١٩-هغه کلمه چي د (فَعَالِ) مبني پر وزن وي لکه: حَضَارِ، نَزَالِ.

## علاما معنويه:

هغه علامات چي معنويه دي هغه هم نولس (١٩) دي:

١-اضافت لکه: غُلَامُ زَيْدٍ

٢-موصوف: دا هغه دی چي دوه اسمونه وي اول چي څنګه وي دوهم هم هماغسي وي مثلاً که اول نکره وو نو دوهم به هم نکره وي لکه: رَجُلٌ عَالِمٌ، که اول معرفه وو نو دوهم به هم معرفه وي لکه: اَلرَّجُلُ الْعَالِمُ، اول ته موصوف او

دوهم ته صفت وبل کیږي او موصوف همیشه علامه د اسم وي
۳-مسند اليه: هغه دا دی چي تا حکم پر کړی وي په یو شی سره لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ، زَيْدٌ لَيْسَ بِقَائِمٍ.
۴-هغه کلمه چي مجرور بالتبعيت وي هغه هم غالبا د اسم علامه وي لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ كَرِيْمٍ.
۵-فاعل لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ.
۶-مفعول لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرواً.
۷-ذوالحال لکه: جَاءَ زَيْدٌ رَاكِباً.
۸-تمییز لکه: طَابَ زَيْدٌ نَفْساً.
۹-مستثنیٰ لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ إلاَّ زَيْداً.
۱۰-مستثنیٰ منه لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ إلاَّ زَيْداً.
۱۱-منصرف لکه: رَجُلٌ.
۱۲-غیر منصرف لکه: حُبْلٰی، سَكْرَانُ.
۱۳-معرفه لکه: اَلرَّجُلُ.
۱۴-نکره لکه: رَجُلٌ.
۱۵-مذکر لکه: زَيْدٌ.
۱۶-مؤنث لکه: طَلْحَةُ.
۱۷-مضاف اليه لکه: غُلَامُ زَيْدٍ.
۱۸-هغه کلمه چي د (عَلِمْتُ) مفعولِ اول واقع وي لکه: عَلِمْتُ زَيْداً فَاضِلاً.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۹-هغه کلمه چي د (أَعْلَمْتُ) مفعول ثاني واقع وي لکه: أَعْلَمَ اللهُ زَيْداً عَمْرواً فاضِلاً.

# د فعل علامات

د فعل ټول اووه ويشت (۲۷) علامات دي:

د فعل علامات پر څلور قسمه دي:

۱-د فعل ماضي سره خاص علامات.

۲-د فعل مضارع سره خاص علامات.

۳-د امر سره خاص علامات.

۴-په درو سرو کي مشترک علامات.

## د فعل ماضي سره خاص علامات:

د ماضي علامات اووه (۷) دي:

۱-هغه کلمه چي په أخر کي ئې فتحه بېله عامله راسي لکه: ضَرَبَ، نَصَرَ

۲-هغه کلمه چي په أخر کي ئې (تاء) تانيث ساکنه راسي لکه: ضَرَبَتْ.

۳-هغه کلمه چي په أخر کي ئې (تاء) د فاعل راسي لکه: ضَرَبْتَ، ضَرَبْتِ، ضَرَبْتُ.

۴-هغه کلمه چي په أخر کي ئې (تُمَا) ضميري راسي لکه: ضَرَبْتُمَا.

۵-هغه کلمه چي په أخر کي ئې (تُمْ) ضميري راسي لکه: ضَرَبْتُمْ.

۶-هغه کلمه چي په أخر کي ئې (تُنَّ) ضميري راسي لکه: ضَرَبْتُنَّ.

۷-هغه کلمه چې په آخر کې ئې (نا) ضميري راسي لکه: ضربْنا.

## د فعل مضارع سره خاص علامات:

د مضارع علامات اته (۸) دي:

۱-د کومې کلمې په ابتداء کې چې حرف اتين راسي هغه غالبا د فعل علامه ده لکه: يَضْرِبُ، تَضرِبُ، اَضرِبُ، نَضرِبُ.

۲-د کومې کلمې په ابتداء کې چې (س) د استقبال راسي لکه: سَيَقُوْلُ.

۳-د کومې کلمې په ابتداء کې چې لفظ د (سَوْفَ) راسي لکه: سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ.

۴-د کومې کلمې په ابتداء کې چې حرف جازم راسي لکه: لَمْ يَضْرِبْ.

۵-د کومې کلمې په ابتداء کې چې حرف ناصب راسي لکه: لَنْ يَضْرِبَ.

۶-د کومې کلمې په ابتداء کې چې (اَنْ) مقدر راسي لکه: مَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ.

۷-د کومې کلمې مخکې چې (اِنْ) سره د شرط مقدر وي او د دې تول اووه مقامه دي: امر، نهي، استفهام، تمني، عرض، تحضيض او دعا، د دوي په جواب کې چې مضارع بېله (ف) راسي نو (اِنْ) سره د شرطه مقدر وي لکه: فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللهُ لَكُمْ اَيْ اِنْ تَفْسَحُوْا.

۸-د کومې کلمې په ابتداء کې چې لا نفي راسي لکه: لاَ يَضْرِبُ.

## د امر سره خاص علامه يوه (۱) ده:

۱-چې پر طلب دلالت کوي په صيغه سره او (يا) د مؤنثه مخاطبه قبلوي لکه:

Maktaba Tul Ishaat.com

اِسْتَهْدِيْ.

## مشترک علامات:

مشترک علامات یوولس (۱۱) دي:

۱- د کومي کلمې په ابتداء کې چې لفظ د (قَدْ) راسي لکه: قَدْ يَكُوْنُ،

۲- د کومي کلمې په أخر کې چې (نون) ثقيله يا خفيفه راسي لکه: اِضْرِبَنْ،

اِضْرِبَنْ.

۳- د کومي کلمې په أخر کې چې (الف) ضميري راسي لکه: ضَرَبَا، اِضْرِبَا.

۴- د کومي کلمې په أخر کې چې (واو) ضميري راسي لکه: ضَرَبُوْا، اِضْرِبُوْا.

۵- د کومي کلمې په أخر کې چې (نون) ضميري راسي لکه: ضَرَبْنَ، يَضْرِبْنَ،

اِضْرِبْنَ.

۶- کومه کلمه چې (يا) د خطاب قبوله کړي لکه: قُوْمِيْ، تَضْرِبِيْنَ.

۷- د کومي کلمې په ابتداء کې چې (لَوْ) شرطيه راسي دا هم غالبا د مشترکه

علامه ده لکه: لَوْ كَانَ، لَوْ تَمْلِكُوْنَ،

۸- د کومي کلمې په ابتداء کې چې (اِنْ) شرطيه راسي لکه: اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ

اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ.

۹- د کومي کلمې په ابتداء کې چې د (اسماء شرطيه) څخه يو راسي لکه:

اَيْنَمَا تَجْلِسْ اَجْلِسْ.

۱۰- د کومي کلمې څخه چې د ماضي او مضارع گردان راتلای سي لکه:

قَامَ، يَقُوْمُ.

١١-چې مُخبَرٌ به راتلای سي او مُخبَرٌ عَنْهُ نه سي راتلای لکه: ضَرَبْتُ، نَضْرِبُ.

## د حرف علامات

د حرف علامات دوه (٢) دي:

١-په کومه کلمه کې چې د اسم او فعل علامه نه وي.

٢-هغه کلمه چې په هغه کې د مسند او مسند اليه کېدلو صلاحيت نه وي. لکه: مِنْ، اِلى.

## د جمله انشائيه علامات

دجمله انشائيه علامات پنځلس (١٥) دي:

| | |
|---|---|
| ١-امر | لکه: اِضْرِبْ. |
| ٢-نهي | لکه: لاَ تَضْرِبْ. |
| ٣-استفهام | لکه: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ. |
| ٤-تمني | لکه: لَيْتَ زَيْداً حَاضِرٌ. |
| ٥-ترجي | لکه: لَعَلَّ عَمْرواً غَائِبٌ. |
| ٦-عقود | لکه: بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ. |
| ٧-نداء | لکه: يَا اَللهُ. |
| ٨-عرض | لکه: اَلاَ تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْراً. |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | |
|---|---|
| -قسم | لکه: وَاللهِ لَاَ ضْرِبَنَّ زَيْداً. |
| ١-تعجب | لکه: مَا اَحْسَنَهُ وَاَحْسِنْ بِهِ. |
| ١-افعال مدح او ذم | لکه: نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ، بِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ. |
| ١-جملهٔ دعائيه | لکه: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. |
| ١-افعال مقاربه | لکه: عَسٰى اَنْ يَكُوْنَ. |
| ١-رُبَّ | لکه: رُبَّ كَاسِيَاتٍ عَارِيَاتٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. |
| ١-كم خبريه | لکه: كَمْ اَهْلَكْنَا. |

## د مبني اقسام

مبنيات ټول پنځه دېرش (٣٥) دي:

١-ټول حروف.

٢-فعل ماضي معلوم او مجهول.

٣-امر حاضر معلوم بې لام، دغو درو ته مبني الاصل هم وايي.

٤-د فعل مضارع هغه صيغې چې نونات د جمع مؤنث غائبات، يا مخاطبات
ون تاكيد ثقيله يا خفيفه ورسره موجود وي لكه: يَضْرِبْنَ، تَضْرِبْنَ، لِيَضْرِبَنَّ،
ضْرِبَنْ.

٥-هغه اسم متمكن چې په تركيب كې واقع نه وي مع عامله لكه: اسماء عدد
اسماء معدوده مثال: وَاحِدٌ، اِثْنَانِ، او زَيْدٌ، كِتَابٌ، قَلَمٌ.

٦-هغه اسم متمكن چې مركب مع غير العامل وي لكه: غُلَامُ زَيْدٍ.

٧-جمله مِن حيثُ الجمله.

٨-مضمرات.

٩-اسماء اشارات.

١٠-اسماء موصولات.

١١-اسماء افعال. (د اسماء افعالو نور تفصيل د شرايطو په اخر کي وګورئ)

١٢-اسماء اصوات.

١٣-هغه ظروف چي هميشه مبني مستعمليږي لکه: إذْ، إذَا، مَتٰى وغيره.

١٤-هغه ظروف چي د درو حالاتو څخه په يوه حالت کي مبني وي لکه. قَبْلُ، بَعْدُ وغيره.

١٥-هغه ظروف مكان مبهم چي د يو مبني وطرفته مضاف وي.

١٦-هغه ظروف زمان مبهم چي د يو مبني وطرفته مضاف وي.

١٧-اسماء كنايات.

١٨-مركب بنائي مِن الاعداد.

١٩-مركب من الظروف لكه: زُرْنِيْ صَبَاحَ مَسَاءَ.

٢٠-مركب من الاحوال لكه: تَسَاقَطُوْا اَخْوَلَ اَخْوَلَ ايْ مُتَفَرِّقِيْنَ.

٢١-اسماء شرطيه.

٢٢-اسماء استفهام.

٢٣-اسم د لاء نفي جنس چي كله مفرد نكره وي لكه: لَارَجُلَ فِي الدَّارِ.

٢٤-منادٰى مفرد معرفه.

٢٥-مركب صوتي لكه: سِيْبَوَيْهٖ.

Maktaba Tul Ishaat.com

مرکب منع صرف جزء اول لکه: حَضْرَمَوْتْ.

۲۶-د مرکب

۲۷-هغه علم چې په اصل کې مرکب تام وي لکه: تَأَبَّطَ شَرًّا.

۲۸-فَعَالِ امري لکه: نَزَالِ په معنی د اُنْزِلْ.

۲۹-فَعَالِ علمي لکه: قَطَامِ طَمَارِ.

۳۰-فَعَالِ صفتي لکه: فَسَاقِ په معنی د فَاسِقَةٌ.

۳۱-فَعَالِ مصدري لکه: فَجَارِ په معنی د اَلْفُجُوْرُ.

۳۲-مَنْ موصوفه، مَا موصوفه، مَا تامه او مَا صفتیه.

۳۳-لَاغَیْرُ، لَیْسَ غَیْرُ، حَسْبُ، اَوَّلُ، عَلٰی، قَطُّ، قَدْ په معنی د حَسْبُ.

۳۴-لفظ د (مِثْلُ) او د (غَیْرُ) کله چې مضاف وي د داسي جملې وطرفته چې په ابتدا کې ئې مَا یا (اَنْ) مخففه یا مثقله وي لکه: مِثْلَ مَا اَنَّکُمْ تَنْطِقُوْنَ.

۳۵-تر مَا او مَنْ استفهامیه وروسته لفظ د (ذَا) په معنی د (اَلَّذِيْ)، او لفظ د (ثَمَّ، هُنَا، هِنَا، هٰهُنَا، هُنَاكَ).

## د اسم غیر متمکن اقسام

د مبني په اقسامو کې د مضمراتو څخه تر پایه پوري اته ویشت (۲۸) اقسام د اسم غیر متمکن هم دي.

## د مبني الاصل سره د مشابهت اقسام

د مبني الاصل سره د اسم مشابهت پر لس (۱۰) قسمه دی:

۱-**شبه افتقاري**: چې یو اسم د حرف سره په احتیاج کې مشابه وي لکه:

ضمائر.

۲-**شبه وضعي**: چي يو اسم د حرف سره په وزن کي مشابه وي يعني حروف ئې تر درو کم وي لکه: په (ضَرَبْتُ) کي (تُ).

۳-**شبه معنوي**: چي يو اسم متضمن وي معنى لره د حرف لکه: اسماء شرط.

۴-**شبه استعمالي**: چي يو اسم عامل کيداي سي معمول نه سي کيداي لکه: اسماء افعال.

۵-**شبه اهمالي**: چي يو اسم نه عامل راتلاي سي نه معمول لکه: اسماء اصوات.

۶-**شبه نِيابتي**: چي يو اسم نائب د مبني وي لکه: نَزَالِ د اُنْـزِلْ پر ځاى واقع دى.

۷-**شبه جمودي**: چي يو اسم تثنيه او جمع نه سي راتلاي لکه: قَطُّ عَوْضُ.

۸-**شبه وقوعي**: چي يو اسم د مبني الاصل پر ځاى واقع وي لکه: په (يَا زَيْدُ) کي (زَيْدُ) واقع دى پر ځاي د کاف اسمي چي هغه بيا د کاف حرفي سره مشابهت لري چي مبني الاصل دى.

۹-**شبه شبه وقوعي**: چي يو اسم د (نَزَالِ) سره په وزن کي مشابهت لري لکه: فَجَارِ.

۱۰-**شبه اضافتي**: چي يو اسم مضاف وي جملې ته يا (اِذْ) ته نو د هغه بنا پر فتحه جائز ده لکه: يَوْمَئِذٍ اصل ئې (يَوْمَ اِذْ کَانَ کَـذَا) وو، اوس دلته (يَـوْمَ)

Maktaba Tul Ishaat.com

مضاف دی (اِذْ كَانَ كَذَا) ته او هغه مبني دی نو (يَوْمَ) هم مبني سو، او لكه: يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ.

## ضمير او مرجع

**تعريف**: ضمير هغه اسم جامد ته وائي چي دلالت كوي پر متكلم، مخاطب يا داسي غائب چي د هغه ذكرمخكي سوی وي، او دغه مخكي ذكر سوي كلمي ته مرجع وائي.

### د مرجع اقسام:

مرجع پر دري قسمه ده: ۱-لفظي، ۲-معنوي، ۳-حكمي.

**مرجع لفظي**: هغه مرجع ته وايي چي په لفظ كي ذكر وي

مرجع لفظي پر دوه قسمه ده: ۱-حقيقي، ۲-تقديري

**مرجع حقيقي**: هغه مرجع ته وايي چي لفظاً او رُتبتاً مخكي ذكر سوی وي لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ.

**مرجع تقديري**: هغه مرجع ته وايي چي لفظا وروسته وي رتبتا مخكي وی لكه: ضَرَبَ غُلَامَهُ زَيْدٌ.

**مرجع معنوي**: هغه مرجع ته وايي چي لفظاً نه وي ذكر معناً ذكر وي او دا هم پر دوه قسمه دی ۱-خاص كلام، ۲-سياق كلام

**خاص كلام**: د خاص كلام دا معنی چي د يو خاص لفظ څخه فهميږد (عدل) د (اِعْدِلُوْا) څخه فهميږي لكه: اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى، دلته (عدل) د (اِعْدِلُوْا) څخه فهميږي.

**سياق كلام**: سياق كلام دا معني چي د مقام څخه فهميږي لکه: وَلاَ بَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ، د (هـ) ضمير (ميت) ته راجع دی، او لکه: وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ، د (اِسْتَوَتْ) ضمير (سَفِيْنَةٌ) ته راجع دی.

**مرجع حكمي**: هغه مرجع ته وايي چي اول ضمير وي، وروسته تر دغه ضمير د ده تفسير وي، اوس نو که دغه مفسِّر مفرد وو نو ضمير ته ضميرِ مبهم وايي لکه: نِعْمَ زَعِيْماً سَعْدٌ.

او که مفسِر جمله وه نو که ضمير د مذکر وو نو ضمير شان بلل کيږي لکه: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ او که ضمير د مؤنث وو نو ضمير قصه بلل کيږي لکه: إِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ.

**فائده**: ضمير منصوب متصل، او مجرور متصل د واحد مذکر غائب: که تر کسرې وروسته واقع سي، نو په کسرهٔ اشباعي (ولاړ زېر) سره ويل کيږي لکه: بِهِ، اِرْمِهِ.

او که تر ياء ساکنه وروسته راغلې وي بيا په کسره سره ويل کيږي لکه: عَلَيْهِ.

او که تر حرف صحيح ساکن، واو ساکن، يا الف وروسته راسي نو په ضمه سره ويل کيږي لکه: وَمَنْ نُعَمِّرْهُ، أَنْزَلْنَاهُ، خُذُوْهُ، عَنْهُ.

او که تر ضمې فتحې وروسته راسي نو په ضمهٔ اشباعي (چپه پېښ) سره ويل کيږي لکه: يَضْرِبُهُ، لَهُ.

البته د دې په خلاف هم کله کله راځي خو هغه قليل دی لکه: وَمَا أَنْسَانِيْهُ، وَيَخْلُدْ فِيْهِ مُهَاناً.

Maktaba Tul Ishaat.com

## د (ذا) اقسام

(ذَا) پر درې قسمه دی:

۱-د اسماء سته وو څخه په معنٰی د صاحب، لازم الاضافت الٰی غیر یاء المتکلم لکه: شَاهَدْتُ ذَا عِلْمٍ.

۲-د اسماء اشاراتو څخه، او د قریب لپاره راځي، مبني پر سکون دی لکه: ذَا هِرٌ.

۳-د اسماء موصولاتو څخه دی په درو شرائطو سره:

(۱) چي د اشارې لپاره به نه وي، (۲) محکي به نه وي (مَنْ) یا (مَا) استفهامیه وي، (۳) د هم دغه (مَنْ) یا (مَا) سره به ـ یو اسم نه وي جوړ سوی لکه: مَاذَا صَنَعْتَ اَخَیْرٌ اَمْ شَرٌّ؟

## مؤنث سماعي څوارلس قسمه (۱۴) دي

۱-د انسان ټول اعضاء مکرره غیر د (حَاجِبَیْنِ، خَدَّیْنِ، صُدْغَیْنِ او مِرْفَقَیْنِ) څخه، لکه: یَدَیْنِ، رِجْلَیْنِ، کَتِفَیْنِ، عَضُدَیْنِ، وَرِکَیْنِ، قَدَمَیْنِ، عَقِبَیْنِ، سَاقَیْنِ، جَنَاحَیْنِ، عَیْنَیْنِ، اُنْثَیَیْنِ، فَخِذَیْنِ، کَعْبَیْنِ وغَیْرِهَا.

۲-د ښځو اعلام لکه: مَرْیَمْ.

۳-د ښځو صفات خاصه لکه: حَائِضْ، طَالِقْ، وَدُوْدْ، وَلُوْدْ وَغَیْرِهَا.

۴-د کوم لفظ صفت چي مؤنث راسي لکه: جَهَنَّمُ الَّتِيْ.

۵-کوم لفظ چي د مؤنث اسم اشاره مشار الیه وي لکه: هٰذِهٖ جَهَنَّمُ.

۶-د کوم لفظ حرف رابع چي قائم مقام د تاء تانيث وي لکه: عَقْرَبٌ، زَيْنَبُ.

۷-د جنگو نومان لکه: اَلْحَرْبُ، اَلْهَرْجُ، اَلْغَارَةُ الشَّعْوَاءُ، اَلْهَيْجَاءُ او داسي نور.

(فقه اللغة وسرُّ العربية)

۸-د جهنم د طبقاتو نومان لکه: جَهَنَّمُ، لَظٰى، اَلْحُطَمَةُ، اَلسَّعِيْرُ، سَقَرُ، اَلْجَحِيْمُ، اَلْهَاوِيَةُ.

۹-د هواوو نومان لکه: اَلْعَاصِفُ، اَلإِعْصَارُ، اَلزَّفْزَافَةُ، اَلْهُجُوْمُ، اَلزَّعْزَاعُ، اَلْحَاسِبَةُ، اَلْهَبْوَةُ، اَلسَّمُوْمُ. (فقه اللغة وسرُّ العربية)

۱۰-د لمر نومان لکه: اَلشَّمْسُ، اَلْغَزَالَةُ، اَلْعَيْنُ. (فقه اللغة وسرُّ العربية)

۱۱-د شرابو نومان لکه: اَلْخَمْرُ، اَلصَّهْبَاءُ، اَلْخُرْطُوْمُ، اَلرَّاحُ، اَلْخَنْدَرِيْسُ، اَلرَّحِيْقُ، اَلْحُمَيَّا، اَلْعُقَارُ، اَلطِّلَاءُ او داسي نور. (فقه اللغة وسر العربية)

۱۲-د کوم لفظ په تصغير کي چي تا راسي لکه: أَرْضٌ او قَدَمٌ، چي تصغير ئې أُرَيْضَةٌ او قُدَيْمَةٌ دی.

۱۳-د کوم لفظ طرفته چي ضمير د مؤنث راجع وي لکه: وَالسَّمَاءَ بَنَيْنٰهَا، اَلنَّارُ أُعِدَّتْ.

۱۴-يو شمېر نور الفاظ دي لکه: سُوْق، دَار، حَال، نَار، نَفْس، اَلسَّمَاء، اَلشَّمْس، اَلأَرْض، اَلنَّعْل، اَلْعَقْرَب، اَلدَّار، اَلْحَرْب، اَلْحَدِيْد، اَلرِّيْح، اَلدَّلْو، اَلذَّنُوْب (بالفتح) اَلْقَوْس، اَلنَّحْل، اَلْعَنْكَبُوْت، اَلنَّفْس، اَلرُّوْح، اَلإِصْبَع، اَلْكَف، اَلْفِرْدَوْس، اَلْغَوْل، اَلْعَصَا، الفُلْك، اَلإِسْت، اَلْقَرُوْض (بالفتح ستون خر)، اَلسِّن، اَلذِّرَاع، اَلثَّعْلَب، اَلْمِلْح، اَلْمَنْجَنِيْق، اَلأَرْنَب، اَلْبِيْر، اَلْيَنْبُوْع، اَلدِّرْع، اَلْكَبِد، اَلْكِرْش، اَلأَفْعٰى، اَلضَّبُع، اَلْفَرَس، اَلْكَأْس، اَلْمُوْسٰى (چاړه)، اَلضُّحٰى، اَلسِّلَاح، اَلْقَفَا، اَلرَّحِم،

Maktaba Tul Ishaat.com

...كُنْ، اَلسُّلْطَانُ، اَلْقُدَّام، اَلْوَرَاء، اَلأَمَام، اَلْقُبُل، اَلْعَيْن، اَلسِّلْم، اَلْعَنْز، اَلإِبِل، اَلْحَال او ...سي نور.

## د مذكر او مؤنث په منځ كي يو ويشت (۲۱) شيان مشترك دي

۱-د ښارو نومان.

۲-د قبيلو نومان.

۳-حروف تهجي.

۴-حروف عامله او غير عامله.

۵-مصادر.

۶-هغه كلمه چي پر وزن د (فَعُوْلٌ) په معنٰى د (فَاعِلٌ) وي لكه: اِمْرَأَةٌ صَبُوْرٌ، رَجُلٌ صَبُوْرٌ.

۷-هغه كلمه چي پر وزن د (فَعِيْلٌ) په معنٰى د (مَفْعُوْلٌ) وي لكه: اِمْرَأَةٌ جَرِيْحٌ، رَجُلٌ جَرِيْحٌ.

۸-اسم تفضيل مستعمل په (مِنْ) سره لكه: زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

۹-هغه كلمه چي د (مِفْعَلٌ) پر وزن وي لكه: مِغْشَمٌ په معنٰى د غښتلي.

۱۰-هغه كلمه چي د (مَفْعَلٌ) پر وزن وي لكه: مَضْرَبٌ.

۱۱-هغه كلمه چي د (مِفْعِيْلٌ) پر وزن وي لكه: مِنْطِيْقٌ، لِلرَّجُلِ الْبَلِيْغِ وَالْمَرْأَةِ الْبَلِيْغَةِ.

۱۲-هغه كلمه چي پر وزن د (مِفْعَالٌ) وي لكه: مِفْتَاحٌ.

۱۳-هغه کلمه چې پر وزن د (فَعَالٌ)وي لکه: جَبَانٌ، لِلْمَرْاَةِ وَالرَّجُلِ.

۱۴-هغه کلمه چې پر وزن د (فِعَالٌ) وي لکه: نَاقَةٌ دِلَاثٌ، اَيْ سَرِيْعَةٌ.

۱۵-اسم فاعل، کله چې د نسبت لپاره وي لکه: اِمْرَاَةٌ رَامِحٌ، اَيْ ذَاتُ رُمْحٍ، رَجُلٌ رَامِحٌ،اَيْ ذُوْ رُمْحٍ، د مؤنث لپاره د (ذَاتْ) او د مذکر لپاره د (ذُوْ) و طرفته منسوب وي.

۱۶-کوم لفظ چې همیشه په (تا) سره مستعمليږي لکه: لفظ د (نسئة).

۱۷-کوم لفظ چې همیشه بیله (تا) مستعمليږي لکه: لفظ د (بُرْغُث).

۱۸-لفظ وويل سي او مراد هم داغه لفظ وي، نو په تأويل د لفظ مذکر دی او په تأويل د کلمې مؤنث دی لکه: مِنْ حَرْفُ جَرٍّ.

۱۹-کله جمع په تأويل د (جَمَاعَةٌ) مؤنث راځي لکه: اَلرِّجَالُ قَامَتْ، اَيْ جَمَاعَةُ الرِّجَالِ قَامَتْ.

۲۰-(مَنْ) او (مَا) د مذکر او مؤنث دواړو لپاره مستعمليږي.

۲۱-مضاف کله د مضاف اليه څخه تأنيث حاصلوي او کله تذکير لکه: جَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ، دلته (كُلُّ) تانيث حاصل کړي دی د (نَفْس) څخه، او لکه: اِنَّ رَحْمَةَ اللهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ، دلته (رَحْمَةٌ) د لفظ (الله) څخه تذکير حاصل کړي دی.

## د جمع منتهی الجموع نولس (۱۹) اوزان دي

(۱،۲) فَعَالِلُ فَعَالِيْلُ لکه: دَرَاهِمُ او دَنَانِيْرُ.

(۳،۴)أَفَاعِلُ أَفَاعِيْلُ لکه: أَنَامِلُ او أَضَابِيْرُ.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۵،۶) تَفَاعِلُ، تَفَاعِيْلُ لکه: تَحَارِبُ او تَسَابِيْحُ.

(۷،۸) مَفَاعِلُ، مَفَاعِيْلُ لکه: مَسَاجِدُ او مَصَابِيْحُ.

(۹،۱۰) يَفَاعِلُ، يَفَاعِيْلُ لکه: يَحَامِدُ او يَحَامِيْمُ.

(۱۱،۱۲) فَوَاعِلُ، فَوَاعِيْلُ لکه: خَوَاتِمُ او طَوَاحِيْنُ.

(۱۳،۱۴) فَيَاعِلُ، فَيَاعِيْلُ لکه: صَيَارِفُ او دَيَاجِيْرُ.

(۱۵) فَعَائِلُ لکه: صَحَائِفُ.

(۱۶) فَعَالٰی لکه: عَذَارٰی.

(۱۷) فعالِ لکه: ثَرَاقِ.

(۱۸) فُعَالٰی لکه: سُکَارٰی.

(۱۹) فَعَالِيُّ لکه: کَرَاسِيُّ او قَمَارِيُّ.

د مذکوره اوزانو څخه ماسیوا ټوله اوزان د غیر منتهی الجموع دي.

## د تغییر بیان

**فائده**: په جمع تکسیر کي چي کوم تغییر ذکر سوی دی د اجراء په بحث کي هغه تغییر پر دوه قسمه دی: ۱-حقیقي، ۲-حکمي.

### تغییر حقیقي:

د تغییر حقیقي لپاره څو صورته دي.

۱-صورت دا دی چي تغییر یوازي په زیادت سره سوی وي لکه: صِنْوَانٌ جمع د صِنْوٌ ده.

۲-صورت دا دی چي تغییر یوازي په کمي سره سوی وي لکه: تُخَمٌ جمع د تُخَمَةٌ ده.

۳-صورت دا دی چي تغییر یوازي په صورت کي راغلی وي کمي او زیادت نه وي پکښي سوي لکه: أُسْدٌ جمع د أَسَدٌ ده.

۴-صورت دا دی چي تغییر هم په کمي سره راسي او هم په صورت سره لکه: رُسُلٌ جمع د رَسُوْلٌ ده.

۵-صورت دا دی چي تغییر هم په زیادت سره راسي او هم په صورت سره لکه: رِجَالٌ جمع د رَجُلٌ ده.

۶-صورت دا دی چي تغییر هم په کمي او زیادت سره راسي او هم په صورت سره راسي لکه: غِلْمَانٌ جمع د غُلَامٌ ده.

**تغییر حکمي**: هغه تغییر ته وایي چي په لفظ کي نه وي صِرف فرضي وي لکه: فُلْكٌ چي واحد ئې هم فُلْكٌ دی او جمع ئې هم فُلْكٌ ده.

## د (فُلْكٌ) د واحد او جمع د پیژندلو طریقي:

۱-که فُلْكٌ پر وزن د قُفْلٌ سي نو مفرد او که پر وزن د أُسْدٌ سي نو جمع ده.

۲-که ضمیر د مذکر ورته راجع وو نو مفرد دی او که ضمیر د مؤنث ورته راجع وو نو جمع ده.

۳-که ئې صفت مذکر وو نو واحد دی او که ئې صفت مؤنث وو نو جمع ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

# اسماء افعال

اسماء افعال په اعتبار د زمان پر درې قسمه دي:

۱-چي په معنٰی د ماضي وي لکـه: هَيْهَاتَ (بَعُدَ) بُطَانَ (أَبطَأ) سُرْعَانَ، شَكَانَ (سَرُعَ) شَتَّانَ (اِفْتَرَقَ).

۲-چي په معنٰی د مضارع وي لکـه: آهِ، أَوَّهْ (أَتَوَجَّعُ) أُفِّ (أَتَضَجَّرُ) وَا، وَاهَا، وَيْ (أَتَعَجَّبُ) زِهْ، بَخْ (أَستَحْسِنُ) بَجَلْ، قَدْ، قَطُّ (يَكْفِيْ).

۳-چي په معنٰی د امر وي لكـه: صَهْ (أُسْكُتْ) مَهْ (أُكْفُفْ) رُوَيْدَ (أَمْهِلْ) هَا، هَاءَ، هَاكَ، دُوْنَكَ، عِنْدَكَ (خُذْ) عَلَيْكَ، نَفْسَكَ، بِنَفْسِكَ (اِلْزَمْهَا) إِلَيْكَ عَنِّيْ (تَنَحَّ وَتَبَاعَدْ) إِلَيْكَ الْكِتَابَ (خُذْهُ) إِيْهِ (اِمْضِ فِيْ حَدِيْثِكَ - أَوْ زِدْنِيْ مِنْهُ) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ (أَقْبِلْ عَلَيْهَا) حَيَّهَلِ الأَمْرَ (اِئْتِهِ) عَلَى الأَمْرِ (أَقْبِلْ عَلَيْهِ) إِلَى الأَمْرِ (عَجِّلْ إِلَيْهِ) بِالأَمْرِ (عَجِّلْ بِهِ) هَيَّا، هَيْتَ (أَسْرِعْ) آمِيْنَ (اِسْتَجِبْ) مَكَانَكَ (اُثْبُتْ) أَمَامَكَ (تَقَدَّمْ) وَرَائَكَ (تَأَخَّرْ) هَلُمَّ (تَعَالَ).

(تَمَّتِ الضَّوَابِطُ بِعَوْنِ اللهِ تَعَالٰى)

# د لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ نهه (۹) تراکيب

د تراکيبو څخه مخکي دوې مقدمې پيژندل ضروري دي.

**اوله مقدمه**: کلمه د (إِلاَّ) پر دوه قسمه ده: ۱-إِلاَّ استثنائيه ۲-إِلاَّ په معنی د (غَيْرُ)، (إِلاَّ) استثنائيه بالاتفاق حرف دی او مبني علي السکون دی، لاَ مَحَلَّ لَـهُ مِنَ الأَعْرَابِ، ليکن (إِلاَّ) په معنی د (غَيْرُ) کي اختلاف دی ،د جمهورو په نزد حرف دی مبني علي السکون دی، لاَ مَحَلَّ لَهُ مِنَ الإِعْرَابِ، او د بعض نحاتو په نزد اسم دی ليکن اعراب ئې عاريتاً پر مابعد جاري کيږي.

**دوهمه مقدمه**: يوازي إِلاَّ صفت نسي جوړيداي ځکه چي حرف دی، او نه يوازي لفظ د (اَللّٰهُ) صفت واقع کيداي سي ځکه چي عَلَم دی.

د جمهورو په نزد مجموعه (إِلاَّ اللّٰهُ) صفت دی لپاره د (إِلٰـه) عَلَی الْقَول المشهور، عند البعض عطف بيان دی.

## اول ترکيب:

(لاَ) نفی جنس (إِلٰهَ) مبنی بر فتحه مبدل منه (إِلاَّ) ستثنا ئيه، لفظ د (اَللّٰهُ) مرفوع لفظا بدل البعض دی مبدل منه سره د خپل بدل اسمَ دی د (لاَ) خبر يې (مَوْجُوْدٌ) محذوف دی.

ترجمه: هيڅ معبود موجود نه دی بيله الله تعالیٰ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## دوهم ترکیب:

(إِلٰهَ) موصوف (إلاّ) په معنی د (غیر) مضاف، لفظ د (اَللّٰهُ) مرفوع لفظا مجرور تقدیرا مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه صفت سو،موصوف سره د صفته اسم د لا دی، خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) محذوف دی.

ترجمه: هیڅ داسي معبود چي د الله څخه غیر وي موجود نه دی.

## دریم ترکیب:

(إِلٰهَ) مبیّن (إلاّ اللّٰهُ) په معنی د (غَيْرُاللّٰهِ) عطف بیان خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) محذوف دی.

ترجمه: نسته هیڅ معبود یعنی (غَيْرُ اللّٰهِ) موجود.

## څلورم ترکیب:

دا د مخکي ترکیب په شان دی البته (إلاّ اللّٰهُ) په معنی د (غَيْرُ اللّٰهِ) بدل الکل دی د محل څخه د اسم د (لاَ).

ترجمه: هیڅ اله غیر الله موجود نه دی.

## پنځم ترکیب:

دا د اول ترکیب په شان دی البته خبر ئې (مُسْتَحِقٌّ لِلْعِبَادَةِ) محذوف دی نو عبارت داسی سو: لاَ إِلٰهَ مُسْتَحِقٌّ لِلْعِبَادَةِ إلاّ اللّٰهُ.

ترجمه: هیڅ اله د عبادت وړ نسته بیله الله څخه.

## شپږم ترکیب:

(إلاَّ اللهُ) په معنی د (غَيْرُ اللهِ) خبر دی نو عبارت داسی دی: لاَ إِلٰهَ غَيْرُ اللهِ.

## اووم ترکیب:

(لاَ إِلٰهَ) خبر مقدم دی او (إلاَّاللهُ) مبتدا مؤخر دی، او (إلاَّ) په معنٰی د (غَيْرُ) دی او دا قضیه معدولة الطرفین ده، نو عبارت داسی سو: غَيْرُ اللهِ لاَ مَعْبُوْدٌ، په معنی د: اَللهُ مَعْبُوْدٌ، لکه غَيْرُ الْحَيِّ لاَ عَالِمٌ، په معنی د: اَلْحَيُّ عَالِمٌ.

## اتم ترکیب:

د بنو تمیم په نزد (لاَ) په معنی د (اِنْتَفٰی) دی (إِلٰهَ) موصوف (إلاَّاللهُ أَيْ غَيْرُ اللهِ) صفت، بیا موصوف سره د خپل صفت مرفوع محلا فاعل د (اِنْتَفٰـــی) دی نو عبارت سو: اِنْتَفٰی إِلٰهٌ غَيْرُ اللهِ.

ترجمه: نسته داسي اِله چي غیر الله دی.

## نهم ترکیب:

د اتم ترکیب په شان دی البته (إلاَّ اللهُ) عطف بیان دی.

ترجمه: نسته اِله یعني غیر الله.

Maktaba Tul Ishaat.com

# د سلو (۱۰۰) مشکلو کلماتو تراکیب

## ۱-انِفاً:

دغه لفظ اسم فاعل دی علٰی غیر القیاس، او یا په تجرید د فعل د ده د زوائدو څخه، ځکه چي فعل ثلاثي ئې نه دی اوریدل سوی بلکه (اِستَأنَفَ) او (اِئْتَنَفَ) ئې مسموع دی او دی (اِسْمٌ لِلسَّاعَةِ الَّتِيْ قَبْلَ سَاعَتِكَ الَّتِيْ اَنْتَ فِيْهَا، مِنَ الأَنْفِ بِمَعْنَى الْمُتَقَدِّمِ) دی.

د دې لفظ دوه ترکیبه کیداې سی:

۱-مفعول فیه جوړیږي د ظرف زمان کیدلو په وجه لکه: مَاذَا قَالَ اٰنِفاً.

۲-د (مُؤْتَنِفاً) په معنی سره د حال واقع کیدلو احتمال لري لکه: مَاذَا قَالَ اٰنِفاً.

۳-او په عامو حالاتو کي د ده اعراب په اعتبار د عامل وي لکه: عُدْ إِلَى الْكَلَامِ الأٰنِفِ الذِّكْرِ.

## ۲-أبَدًا:

دا لفظ ظرف زمان مفعول فیه وي لکه: وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَداً.

## ۳-إجْمَاعاً:

مفعول مطلق د فعل محذوف لپاره چي (أَجْمَعُوْا) دی لکه په دې مثال کي: إِجْمَاعاً عَلٰى شَرَافَةِ الْعِلْمِ.

## ۴-إذْ ذَاكَ:

دا د (إذْ) ظرف زمان مفعول فيه او د (ذَا) اسم اشاره او (كاف خطاب) څخه مركب دى، او په تركيب كي مرفوع محلا مبتدا، خبر ئې محذوف وي غالبا لكه:

هَلْ تَرْجِعَنَّ لَيَالٍ قَدْ مَضَيْنَ لَنَا ... وَالْعَيْشُ مُنْقَلِبٌ إذْ ذَاكَ أَفْنَانَا؟

والتقدير: إذ ذاك كذلك.

## ۵-أصْلاً:

دا ظرف زمان مفعول فيه وي تر ماضى منفى وروسته، په معنى د ، (قَطُّ) او تر مضارع منفي وروسته په معنى د (أبَداً) راځي.

## ۶-اَلْبَتَّةَ:

دا كلمه په تركيب كي مفعول مطلق واقع كيږي د فعل محذوف (بَتَّ) لپاره، او دا لفظ مصدر دى په معنى د (قَطْعٌ) ، دا لفظ هلته ذكر كيږى چي د تردد معنى ليري كول او د يقين معنى پيدا كول مقصود وي، او سره د الف لام او بغير د الف لام مستعمليږي.

## ۷-اَللّهُمَّ إلاَّ أنْ يُقَالَ:

د دې په تعلق درې تحقيقات ضروري دي: صيغوي، تركيبي، او معنوي:

### صيغوي تحقيق:

د صيغې د اصل په تعلق ئې دوه قوله دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

**اول قول:** (اَللّٰهُمَّ) په اصل کې (يَـا اَللهُ) وو، حرف ندا په سبب د کثرت استعمال حذف کړل سو په عوض کې ئې په اٰخر کې ميم مشدد راوړل سو، نو (اَللّٰهُمَّ) سو.

**دوهم قول:** د بعض په نزد ئې اصل (يَا اللهُ اُمَّ لِيْ بِخَيْرٍ) وو، (يعني يا الله زما د خير قصد وکړه) بيا د کثرت استعمال په وجه حرف ندا حذف کړل سو، او (اُمَّ) صيغه د امر ده همزه وصلي ئې په درج کلام کې د راتلو په وجه حذف سو نو (اَللّٰهُمَّ) سو. بياميم مشدد په منزله کې د جزء وګرځيدی.

## ترکيبي تحقيق:

(أَنْ يُقَالَ) په تأويل د مصدر يعني (قَوْلٌ) ، په حذف د مضاف، چې (وَقْـتَ) دی ـ مستثنٰی مفرغ ـ مفعول فيه دی د (حَاصِلٌ) شبه فعل لپاره، او تر (اَللّٰهُمَّ) د مخه مستثنٰی منه مقدره اوعامه ده، تقدير د عبارت داسي دی: هٰذَا الأَمْرُ حَاصِـلٌ فِيْ كُلِّ وَقْتٍ اَللّٰهُمَّ إِلاَّ وَقْتَ قَوْلِه كَذَا، او (اَللّٰهُمَّ) په حذف د حرف نداء جملهٔ ندائيه معترضه ده.

## معنوي تحقيق:

١- د نداء حقيقي لپاره راځي لکه: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا.

٢- په جواب کې د سائل راځي د دې لپاره چې جواب په ذهن کې د مخاطب راسخ سي لکه: چې ووېل سي: أَ قَامَ زَيْدٌ؟ په جواب کې ووېل سي: اَللّٰهُمَّ نَعَمْ.

٣- (اَللّٰهُمَّ) مخکې تر استثناء راځي په دې شرط چې مستثنٰی نادر الوقوع او امرِ غريب وي، نو د دغه مستثنٰی د ثابتولو لپاره په (اَللّٰهُمَّ) ويلو سره د الله تعالى

ښخه مدد طلب کيږي يا اولاً دا امر الله ته سپارل کيږي او بيا په صورت د استثناء ثابتيږي.

۴-د قليل الوقوع امر پر قلت باندي د تنبيه ورکولو لپاره هم مستعمليږي که حقيقتاً قليل وي او که د ماقبل په اعتبار سره قليل وي.

## ٨-إِمَّا:

دا د شرط او د تفصيل حرف دی، او د پنځو معنٰی وو لپاره راځي:

١-د شک لپاره لکه: جَاءَنِيْ إِمَّا حَسَنٌ وَّإِمَّا حُسَيْنٌ.

٢-د ابهام لپاره لکه: وَآخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ.

٣-د تخيير لپاره لکه: إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُوْنَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقٰى.

۴-د اباحت لپاره لکه: جَالِسْ إِمَّا الْحَسَنَ وَإِمَّا ابْنَ سِيْرِيْنَ.

۵-د تفصيل لپاره لکه: إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيْلَ إِمَّا شَاكِراً وَّإِمَّا كَفُوْراً.

## ٩-أَنَّ زَيْدٌ كَرِيْمٍ:

(أَنَّ) حرف مشبه بالفعل نه دی بلکه فعل ماضی ده د (أَنِيْنٌ) ښخه ماخوذ دی په معنٰی د ښگيروي، (زَيْدٌ) ئې فاعل دی او لفظ د (كَرِيْمٍ) مرکب دی د کاف تشبيه ـ حرف جر ـ او لفظ د (رِيْمٌ) ښخه چي په معنٰی د هوسی د بچي دی، نو معنی ئې داسي سوه: زيد د هوسی د بچي په شان ښگيروئ وکړی.

## ١٠-أَوَّلاً وَّبِالذَّات:

لفظ د (أَوَّلاً) بنا بر ظرفيت ـ منصوب مفعول فيه دی ـ په معنٰی د (قَبْلُ)، او په

دغه وخت کي منصرف دی او وصفيت نسته پکښي نو ځکه تنوين پر داخل سوی دی، سره له دې چي افعل التفضيل دی په اصل کي، په دليل د (اَلْأَوْلٰى وَالْأَوَائِلُ) لکه: اَلْفُضْلٰى وَالْأَفَاضِلُ، او په (بِالذَّاتِ) کي (با) د (فِي) په معنٰى سره ده او دا معطوف دی پر (أَوَّلاً) باندي (أَيْ فِي الذَّاتِ) معنٰى ئې ده: بلاواسطه.

## ١١-أَهْلاً وَّسَهْلاً:

دا دواړي کلمې د ښه راغلي لپاره ويل کيږي، په ترکيب کي مفعول به وي د فعل محذوف لپاره، اصل عبارت داسي دی: أَتَيْتَ أَهْلاً وَوَطَئْتَ سَهْلاً.

## ١٢-أَيْضاً:

دا مصدر د (أَضَ يَئِيضُ) دی او د (أَضَ) اصل (أَيَضَ) وو لکه: د (بَاعَ) اصل چي (بَيَعَ) دی ، (ياء) متحركه ماقبل ئې مفتوح په الف بدله سوه.

او دا لفظ په هغه دوو شيئينو کي استعماليږي چي د دوي تر منځ توافق وي او هر يو د هغه بل څخه اغناء راولي، نو (جَاءَ زَيْدٌ أَيْضاً) نه دی جائز.

دا لفظ په ترکيب کي مفعول مطلق واقع کيږی د فعل محذوف (أَضَ) لپاره، بيا دا _ جمله فعليه خبر يه معترضه وي.

## ١٣-اَيْمُنُ اللهِ:

(اَيْمُنُ) مفرد مشتق دی (يُمْنُ) څخه په معنٰى د برکت.

او د بعضو په نزد (اَيْمُنُ) جمع د (يَمِيْنُ) ده، په معنٰى د راسته لاس، (اَيْمُنُ اللهِ) ... لموضع سوی دی، ترکيب ئې داسي دی: (اَيْمُنُ) مضاف، لفظ (الله)

مضاف اليه، مضاف او مضاف اليه مبتدا، خبر ئې محذوف دی چې (قَسَمِيْ) دی، نو تقدير ئې داسي دی: اَيْمُنُ اللهِ قَسَمِيْ، يعني په الله زما قسم دی، په دې کې نور لغات هم سته لکه: اَيْمُ اللهِ، اِيْمُ اللهِ، هَيْمُ اللهِ، اَمِ اللهِ، اِمُ اللهِ، مُنِ اللهِ، مُ اللهِ، لَيْمُ اللهِ، لَيْمُنُ اللهِ.

د (اَيْمُنُ) په ټولو لغاتو کي همزه ـ وصلي ده.

## ۱۴-اَلاٰنَ، آلْئٰنَ:

دا مبني بر فتحه، ظرف زمان، مفعول فيه جوړيږي لکه: آلْئٰنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ، دا مفعول فيه د فعل محذوف (أَتُؤْمِنُ) لپاره دی.

## ۱۵-اَلآيَةُ:

دا لفظ هلته راځي چې د آيت يوه حصه ذکر سي نوره پاته وی، په ترکيب کي ئې درې احتماله دي:

۱-مرفوع وي بنا بر ابتدائيت، خبر ئې محذوف وي، تقدير ئې داسي دی: اَلآيَةُ مَعْلُوْمَةٌ فَلاَحَاجَةَ اِلٰى ذِكْرِهَا تَامَّةً.

۲-مجرور په حذف د مضاف تقدير ئې دا سي دی: بَاقِي الآيَةُ مَعْلُوْمَةٌ.

۳-منصوب أيْ اِقْرَأْ الآيَةَ.

## ۱۶-اَلإعْرَابُ لُغَةً اَلإظْهَارُ:

(اَلإعْرَابُ) په حذف د مضاف (أيْ مَعْنَى الإعْرَابِ) مميز دی او (لُغَةً) ئې تميز دی، مميز سره د خپل تميز مبتدا، (اَلإظْهَارُ) خبر د مبتدا دی، يا (لُغَةً) مفعول له د

فعل محذوف دی، (أيْ قُلْنَا ذَالِكَ لأَحَلِ اللُّغَةِ) ، او دا د مبتدا او خبر په منځ کې جمله معلله معترضه ده.

## ١٧-بِخِلاَفٍ:

د دې دوه ترکيبه دي:

١-(بِخِلاَفٍ)جار ومجرور ظرف مستقر تعلق لري تر (ثَابِتٌ) يا (مُتَلَبِّسٌ)پورې، او دا خبر سو د مبتدا محذوف چې: هٰذَا الْحُكْمُ دی، أيْ هٰذَا الْحُكْمُ ثَابِتٌ بِخِلاَفٍ.

٢-(خِلاَفٍ) خبر دی د مبتدا محذوف او (با) زائده ده الخ.

## ١٨-بَغْتَةً:

په معنی د (فُجَاءَةً) منصوب دی بنا بر حاليت يا مفعول مطلق د فعل محذوف لپاره يعنی (بَغَتَ) البته افضل حال دی لکه: حَتّٰى إِذَا جَائَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً.

## ١٩-بِلاَ سَبَبٍ:

د دې دوه ترکيبه دي:

١-(لاَ) په معنی د غير مضاف، او (سَبَبٍ) مجرور لفظاً مضاف اليه.

٢-(سَبَبٍ) اسم د (لاَ)او خبر ئې د محل سره مناسب محذوف دی.

## ٢٠-بِنَاءً:

د دې درې ترکيبه کيداي سي:

١-مفعول مطلق وي د فعل محذوف لپاره يعني: بَنَيْنَا بِنَاءً.

٢-مفعول له وي د فعل محذوف لپاره، يعني: قُلْنَا ذَالِكَ بِنَاءً، يا فَعَلْنَا ذَالِكَ بِنَاءً.

٣-په معنی د (بَانِياً) حال د فاعل څخه دی يعني: قُلْتُ ذَالِكَ بَانِياً، يا په معنی د (مُبْنِياً) حال د مفعول څخه دی يعني: قُلْتُ ذَالِكَ مُبْنِياً.

## ٢١-بَيْدَ:

دا لفظ (مَيْدَ) هم ويل کيږي.

دا اسم لازم الاضافت دی و (أَنَّ) او صلې د (أَنَّ) ته، او په دوو معنی وو سره راځي:

١-په معنی د (غَيْرُ)او هم دغه اکثر دی، او په ترکيب کي مستثٰی منقطع منصوب يا حال وي لکه دغه قول د نبي عليه السلام: نَحْنُ الآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا.

٢-په معنی د (مِنْ أَجْلِ) راځي لکه دغه قول د نبي عليه السلام: أَنَا أَفْصَحُ مَنْ نَطَقَ بِالضَّادِ بَيْدَ أَنِّيْ مِنْ قُرَيْشٍ وَاسْتَرْضِعْتُ فِيْ بَنِيْ سَعْدِ بْنِ بَكْرٍ.

## ٢٢-بَيْنَ:

دا د اسماء ظروف معربه وو څخه دی او لازم الاضافت دی، چي کله منصوب وي نو مفعول فيه جوړيږي لکه: لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ.

او کله د ظرفيت څخه وزي او د نورو اسماوو په دول فاعل وغيره واقع کيږي

لكه قوله تعالى: لَقَدْ تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ (فِيْ قِرَاءَةٍ بِضَمِّ النُّوْنِ).

## ٢٣-بَيْنَمَا:

مركب دى د (بَيْنَ) ظرفيه زمانيه څخه، او (مَا) زائده يا مصدريه څخه.

(بَيْنَ) مضاف وى ورروسته جملې ته كه چيري (مَا) زائده وي، يا مصدر مؤل ته مضاف وي كه (مَا) مصدريه وي، مثال لكه: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ.

تركيب ئې داسي دى: (بَيْنَ) ظرف، زمان، منصوب ـ تعلق تر (طَلَعَ) پوري لري، (مَا) مصدريه، (نَحْنُ) مبتدا، (عِنْدَ) مضاف، (رَسُوْلُ اللهِ) مضاف اليه، مضاف او مضاف اليه تعلق تر (جُلُوْسٌ) پوري لري چي مقدر دى، (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) جملهٔ دعائيه ده لا محل لها من الاعراب، (ذَاتَ) نائب د ظرف زمان څخه تعلق تر (جُلُوْسٌ) پوري لري او مضاف دى (يَوْمَ) ته، (إِذْ) حرف فجائت، (طَلَعَ) فعل ماضي (عَلَيْنَا) جار و مجرور تعلق تر (طَلَعَ) پوري لري (رَجُلٌ) ئې فاعل دى.

## ٢٤-بَيِّنُوْا تُوْجَرُوْا:

دا قول د فقهاوو څخه د فتوى غوښتلو وروسته ذكر كيږي.

(بَيِّنُوْا) صيغه د امر ده (تُوْجَرُوْا) په اصل كي (تُوْجَرُوْنَ) وو، (نون) د حرف شرط مقدر په وجه ساقط سوى دى، تقدير ئې داسي دى: إِنْ بَيَّنْتُمْ تُوْجَرُوْا.معنٰى ئې ده: تاسي بيان كړئ اجر به دركول سي.

## ٢٥-تَارَةً:

دا لفظ ظرف زمان د ماقبل لپاره مفعول فيه وي لكه: اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً أُخْرٰى.

## ۲۶-تَرَاكِ:

دا په معنٰى د (أُتْرُكْ) دی څکه چي دا پر وزن د (فَعَالِ) په معنٰى د امر دی لکه: تَرَاكِ زَيْداً.

## ۲۷-جِدًّا:

اسم معرب دی په معنٰى د (كَثِيْراً)، په ترکیب کي مفعول مطلق واقع کيږي لكه: أُحِبُّ الْعِلْمَ جِدًّا.

## ۲۸-جَمِيْعاً:

دا لفظ چي منصوب وي نو عموما حال واقع کيږی لكه: اِهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعاً أيْ مُجْتَمِعِيْنَ مِنْهَا.

## ۲۹-حَقًّا:

(حَقًّا) چي عامل ئې ذکر وي نو اعراب ئې على حسب العوامل دی لکه دا قول د الله تعالٰى: وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ.

او که ئې عامل نه وي ذکر وي او منصوب وي نو مفعول مطلق وي د فعل محذوف لپاره لکه دا قول د الله تعالٰى: اِنْ تَرَكَ خَيْرَا نِ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۳۰-حِيْنَئِذٍ:

دا مرکب دی د (حِيْنَ) او (اِذْ) څخه لکه: زُرْتُكَ وَكُنْتَ حِيْنَئِذٍ خَارِجَ الْقَرْيَةِ،
(حِيْنَ) ظرف زمان مبني علی الفتح دی ـ تعلق تر (زُرْتُ) پوري لري، او مضاف دی و (اِذْ) ته، (اِذْ) ظرف زمان مبني پر سکون مقدر دی څکه چي محل ئي په تنوين د عوض سره مشغول دی او محلا مجرور دی په اضافت سره،او تنوين په (اِذْ) کي تنوين د عوض دی چي نائب دی د جملهٔ محذوفي څخه، تقدير ئي داسي دی: وَكُنْتَ حِيْنَ اِذْ زُرْتُكَ خَارِجَ الْقَرْيَةِ.

## ۳۱-اَلْحَقِيْقَةُ مَابِهِ الشَّيْءُ هُوَ هُوَ:

(اَلْحَقِيْقَةُ) مبتدا، مابعد ئي خبر دی (مَـا) موصوله، (ب) سببيه، او مرجع د ضمير مجرور (مَا) موصوله دی، او (بِهِ الشَّيْئُ) صله ده، دا متفق عليه دی ليکن د (بِهِ الشَّيْئُ هُوَ هُوَ) په ترکيب کي دوه قوله دي.

۱-اَلشَّيْئُ مبتداء، او ضميرِ اول ضمير فصل، دوهم ضمير خبر دی، او (بِهِ) جارو مجرور تعلق تر نسبت پوري لري کوم چي په منځ کي د مبتدا او خبر دی.

۲-اصل عبارت داسي دی: (مَا يَكُوْنُ بِهِ الشَّيْئُ هُوَ هُـوَ)، پدي کي جاراو مجرور تعلق تر (يَكُوْنُ) محذوف پوري لري، اول (هُوَ) لپاره د فصل دی او دوهم ضمير منصوب محلا خبر د (كَانَ) دی.

**ضابطه**: ضمير مرفوع منفصل او منصوب منفصل يو د بل پر ځای مجازا استعماليږي.

## ۳۲-خَاصَّةً:

د دې ترکيب د (حقًا) په شان دی لکه: إِنَّ الْكِتَابَةَ خَاصَّةٌ بِجِنْسِ الإِنْسَانِ دُوْنَ الطُّوْلِ، او لکه: زَعَمَ الْفَرَّاءُ أَنَّ لاَتَ تَسْتَعْمَلُ حَرْفاً جَاراً لأَسْمَاءِ الزَّمَانِ خَاصَّةً كَمَا أَنَّ مُذْ وَمُنْذُ كَذٰلِكَ.

## ۳۳-خِلاَفاً:

ددې لفظ دوه ترکيبه کيدايسي:

۱-(خِلاَفاً) مصدر مفعول مطلق دی د (خَالَفَ) فعل محذوف لپاره.

۲-په معنی د (مُخَالِفًا) د (قَالَ) يا (أَقُوْلُ) _ محذوف _ د فاعل څخه حال دی، او تر ده وروسته جار و مجرور راځي هغه ظرف مستقر، د (خِلاَفاً) لپاره صفت وي لکه: اَلْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ لاَ يُطَهِّرُ الأَحْدَاثَ خِلاَفاً لِمَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُمَا اللهُ.

## ۳۴-دَائِماً:

د دې درې ترکيبه کيداي سي:

۱-صفت وي د (زَمَاناً) يا (وَقْتاً) محذوف لپاره، موصوف سره د صفت مفعول فيه دی.

۲-يا صفت د مصدرِ محذوف دی، بيا موصوف او صفت مفعول مطلق جوړېږي.

۳-د ماقبل څخه حال وي.

## ۳۵-دُوْنَ:

Maktaba Tul Ishaat.com

دا په معنٰی د (أَمَام، وَرَاء، فَوْق) راځي، او د اضدادو څخه دی، او په معنٰی د (غَيْر) هم راځي لکه: دا قول د الله تعالٰی: ءَ أَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَأُمِّيَ إِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللهِ أَيْ غَيْرَ اللهِ تَعَالٰی.

دا د اسماء ظروف معربه وو څخه دی او لازم الاضافت دی، چې کله منصوب وي نو مفعول فيه جوړېږي لکه: يَقْرَءُ عَلَيْهِ دَائِماً كِتَابَ سِيْبَوَيْهِ.

## ٣٦-ذَاتَ يَوْمٍ:

د دې ترکیب د (بَيْنَمَا) په ترکیب کې وګورئ.

## ٣٧-رَأْساً:

دا ظرف زمان مفعول فيه وي تر ماضی منفی وروسته، په معنٰی د، (قَطُّ) او تر مضارع منفي وروسته په معنی د (أَبَداً) راځي او هم په معنٰی د (رَئِيْسٌ) راځي نو اعراب ئې علٰی حسب العامل دی لکه: كَانَ رَأْسًا فِيْ مَعَانِيْ الْقُرْآنِ.

## ٣٨-رَجُلاً:

(رَ) واحدمذكر مخاطب امر حاضردی او (جُلاً) مفعول به دی.

## ٣٩-سُبْحَانَ اللهِ:

(سُبْحَانَ) مصدر مضاف، لفظ الله مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه مفعول مطلق د (سَبَّحْتُ) يا (أُسَبِّحُ) محذوف فعل لپاره.

## ٤٠-سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ:

**ترجمه**: أُسَبِّحُ اللهَ تَعَالٰى وَأنَا مُتَلَبِّسٌ بِحَمْدِهٖ، يعني په كوم وخت كي چي زه د الله تعالٰى پاكي بيانوم په همدغه وخت كي د الله تعالٰى حمد هم بيانوم.

**تركيب**: (سُبْحَانَ) مصدر مضاف، لفظ الله مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه مفعول مطلق د (سَبَّحْتُ) يا (أُسَبِّحُ) محذوف فعل لپاره، د (أُسَبِّحُ) ضمير ذو الحال (واو) حاليه، (ب) تعلق تر (مُتَلَبِّساً) پوري لري.

**مهمه فائده**: دغه كلمه په ساده طريقه هم ويل كيداي سواي چي (سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ) دی، يعني د الله تعالٰى ذات بېعيبه دی او زه د هغه تعريف كوم، ليكن په دغه ترجمه كي لږ شبه پاته كيږي هغه دا چي د الله تعالٰى داسي تعريف كول چي دی بېعيبه دی ـ د الله تعالٰى د علو شان په لحاظ ډېر كم دی ځكه چي د يو شريف انسان لپاره يوازي دومره ويل چي په ده كي عيب نسته، هغه وخت كيږي چي زيات تعريف كول ئې مقصود نه وي، هم داسي د الله تعالٰى په باره كي صرف دا ويل چي د الله تعالٰى په ذات كي هيڅ عيب نسته، دا د كمي درجې تعريف دی، كه څه هم وروسته وويل سي چي (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)، يعني زه د الله تعالٰى تعريف كوم، ځكه چي دا مستقله جمله ده، نو ځكه دا ښه نه دی چي الله تعالٰى ته بېعيبه خو وويل سي ليكن د هغه صفت كمال بيان نه كړل سي، نو ځكه دوهمه جمله په (واو) حاليه او (با) د تلبس سره ـ پوري ملحق سوه، چي حاصل د معنٰى ئې داسي سو: زه د الله تعالٰى تسبيح بيانوم او خاص په همدغه وخت كي د الله تعالٰى حمد هم بيانوم چي د حمد په بيان كي هيڅ وقفه را نه سي بلكه دواړه يو ځاي راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۴۱-سَوَاءٌ كَانَ:

تر (سَوَاءٌ) وروسته همیشه دوه شیان ذکر کیږي، چي د دوي په باره کښي برابر والي ښودل مقصود وي، او دا لفظ د اسمِ مصدر دی نو ځکه دئ هم د مصدر په شان صفت واقع کیږی لکه: تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ.

(۱) سَوَاءٌ په معنی د (مُسْتَوٍ) خبر مقدم، او (كَانَ) سره د خپل اسم او خبر ـ په تاویل د مصدر ـ مبتدا مؤخر.

**فائده**: تر(سَوَاءٌ) وروسته چي فعل راسي هغه په حکم کي د مصدر وي ځکه چي هغه خالي وي د نسبت او زماني څخه لکه: اَلْحَمْدُ هُوَ الثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَى الْجَمِيْلِ سَوَاءٌ تَعَلَّقَ بِالْفَضَائِلِ أَوْ بِالْفَوَاضِلِ يَعْنِيْ تَعَلُّقُهُ بِالْفَضَائِلِ وَالْفَوَاضِلِ سَوَاءٌ.

(۲) سَوَاءٌ خبر دی د مبتدا محذوف چي (اَلأَمْرَانِ) دی، نو عبارت داسی سو: اَلأَمْرَانِ سَوَاءٌ.

## ۴۲-صِدْقًا:

د دې ترکیب د (حَقًّا) په شان دی.

## ۴۳-عَادَةً:

دا لفظ عموما په ترکیب کي تمیز واقع کیږي لکه: وَالثَّابِتُ عَادَةً كَالْمُتَيَقَّنِ بِهِ.

## ۴۴-عَامَّةً:

د دې ترکیب د (حَقًّا) په شان دی.

## ۴۵-عَلٰی أَنَّا نَقُوْلُ:

(عَلٰی) په پښتو کې په معنٰی د علاوه راځی او دا هلته راځي چې مابعد جواب تر ماقبل جواب ښه قوي وي.

د دې عبارت دوه ترکیبه کیدایسي:

۱-ظرف لغو وي د ماقبل متعلق وي.

۲-ظرف مستقر خبر وی د مبتدا محذوف لپاره چې (اَلتَّحْقِيْقُ) دی نو عبارت به داسي سي: وَالتَّحْقِيْقُ عَلٰی أَنَّا نَقُوْلُ.

## ۴۶-عَلٰی هٰذَا الْقِيَاس:

د دې درې تراکیب کیداي سی:

۱-(عَلٰی هٰذَا) خبر مقدم (اَلْقِيَاس) مرفوع لفظا مبتدا مؤخر.

۲-(اَلْقِيَاس) منصوب لفظامفعول به د فعل محذوف (أَجْرِ) لپاره او (عَلٰی هٰذَا) ئې متعلق یعني: عَلٰی هٰذَا أَجْرِ الْقِيَاسَ.

۳-(عَلٰی) جار، (هٰذَا) اسم اشاره موصوف (اَلْقِيَــاس) مجـرور لفظـا صفت، موصوف سره د خپل صفت مجرور د جار سو، جار سره د مجرور خبـر مقـدم او مابعد ئې مبتدا مؤخر.

## ۴۷-عُمُوْماً:

د دې ترکیب د (حَقًّا) په شان دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۴۸-غَالِباً:

د دې لفظ څلور ترکيبه کيدايسي:

۱-تر ده مخکی مصدر ـ محذوف ـ موصوف وي د ده لپاره، بيا موصوف سره د صفت د مخکي فعل لپاره مفعول مطلق جوړيږي.

۲-تر ده مخکی (زَمَاناً) مصدر ـ محذوف ـ موصوف وي، بيا موصوف او صفت مفعول فيه کيږي د ماقبل فعل لپاره.

۳-د ماقبل فعل څخه حال وي.

۴-منصوب بنزع الخافض وي، اصل ئې وو: فِيْ غَالِبِ الأَسْتِعْمَالِ، بيا حرف جر حذف سو او (اَلأَستِعْمَالُ) هم حذف سو، پر مضاف تنوينِ عِوَضي داخل کړل سو لکه: يَجِيْءُ الْفَاعِلُ عَلى فَاعِلٍ غَالِباً.

## ۴۹-فَبِهَا:

کوم ځاي چي د يوه امر په تعلق دوې جملې شرطيې وي، يوه مثبت دوهمه منفي، نو داکلمه د جملۀ مثبتيې د جزاء په طور مذکور يا محذوف وي،د مذکور مثال لکه: إنْ جِئْتَنِيْ فَبِهَا وَإلاَّ أضْرِبُكَ.

د دې د ترکيب په تعلق دوه اقوال دي:

۱-(فَبِهَا) په اصل کی (بَهِيَ) د فعل ماضي صيغه وه په معنی د (حَسُنَ) د باب څخه د علم، پر (با) کسره د ((حلقي العين)) په قانون سره راغلې ده، بيا (يا) د فعل په آخر کي وه ماقبل ئې مکسور وو نو د ماقبل کسره ئې په فتحه بدله سوه په

قانون د ((دُعُي))، او بيا په قانون د ((قال باع)) (يا) په الف بدل كړه سوه، بيا (فاء) جزائيه پر داخله سوه نو (فَبِهَا) سو.

٢-(فَا) جزائيه (بَا) جاره (هَا) ضمير مجرور، راجع دى (خَصْلَةٌ حَسَنَةٌ) محذوف ته، جار او مجرور تعلق نيسى تر (مَقْرُوْنٌ) پوري، متعلق سره د متعلق خبر د مبتدا محذوف دى چي (هُوَ) دى، اوس عبارت داسي سو: فَهُوَ مَقْرُوْنٌ بِالْخَصْلَةِ الْحَسَنَةِ، بيا مبتدا سره د خبر جمله اسميه جزاء سوه.

## ٥٠-فَحِيْنَئِذٍ:

دا په اصل كي (حِيْنَ إِذْكَانَ كَذَا) وو، (كَانَ كَذَا) حذف سو د كثرت استعمال په وجه، او په عوض كي ئي تنوين پر (إِذْ) راوړل سو، تركيب ئي داسى كيږي: (فا) تفريعيه، (حِيْنَ) مضاف و (إِذْ) ته، (إِذْ) مضاف، (كَانَ كَذَا) ته (كَانَ) فعل ناقص، ضمير مستتر ئي اسم او (كَذَا) ئي خبر دى، (كَانَ) سره د خپل اسم او خبر ـ جمله فعليه ـ مضاف اليها سوه، بيا مضاف ـ چي (إِذْ) دى ـ سره د مضاف اليه ـ مضاف اليه د (حِيْنَ) سو، (حِيْنَ) مضاف سره د مضاف اليه مفعول فيه مقدم سو.

**ضابطه** كه پر (حِيْنَئِذٍ) (ف) داخل وى نو دئ هميشه مفعول فيه مقدم د فعل مؤخر وي او كه بيله (ف) وي نو كله د فعل مقدم او كله د فعل مؤخر لپاره مفعول فيه وي.

## ٥١-فَقَطْ:

Maktaba Tul Ishaat.com

په (فَقَطْ) کې (ف) جزائيه وي او تر ده مخکې مناسب د مقام سره، شرط مقدريږي او (قَطْ) هميشه جزاء وي لکه: الأَسْمَاءُ الْمَجْرُوْرَةُ هِيَ الْمُضَافُ إِلَيْه فَقَطْ يَعْنِيْ إِذَا وَصَلْتَ إِلَيْهَا فَقَطْ.

په معنی کې ئې اقوال دي:

۱-د علامه زمخشرې په نزد اسمِ فعل په معنی د (فَانْتَهِ) امر دی

۲-د جمهورو په نزد اسم فعل په معنی د (يَكْفِيْ) مضارع دی.

۳-د بعضو په نزد په معنی د (حَسْبُ) مصدر دی.

**فائده**: په اولو دوو صورتوکې جمله فعليه، او په دريم صورت کې جمله اسميه، جزاء وي.

## ۵۲-فَيَوْمَئِذٍ:

د دې ترکيب د (فَحِيْنَئِذٍ) په شان دی.

## ۵۳-قَطْعاً:

د دې ترکيب د (حَقًّا) په شان دی لکه: وَلَقَنَ كَلِمَةً كَلِمَةً، وَالْمُرَادُ مَعَ الْقَطْعِ بَيْنَ كُلِّ كَلِمَتَيْنِ، او لکه دا قول د فقهاوو: رَسْمُ الْمُفْتِي أَنَّ مَا اتَّفَقَ عَلَيْهِ أَصْحَابُنَا فِي الرِّوَايَاتِ الظَّاهِرَةِ يُفْتَى بِهِ قَطْعًا.

## ۵۴-قَوْلُهُ تَعَالى:

(قول) مضاف (هـ) ضمير ذو الحال، (تَعَالى) جمله فعليه خبريه حال، ذو الحال سره د حال مضاف اليه د (قَوْلٌ) سو، مضاف سره د مضاف اليه دا قول سو،

وروسته جمله ئې مقوله وي، قول او مقوله به بيا مبتدا يا خبر وي.

او که چيرې (كَقَوْلِهِ تَعَالٰى) راسي نو مخكې ئې (هُـوَ) يا (مَقَالُـهُ) مبتداء محذوف وي نور ترکيب ئې د مخكې په شان دى، او که (قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى) راسي نو (قَالَ) فعل، لفظ د (اَللّٰهُ) ذو الحال او (تَعَالٰى) جمله ئې حال.

## ۵۵- كَافَّةً:

په معنٰى د (جَمِيْعاً) حال وي لکه: وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَافَّةً كَمَـا يُقَـاتِلُوْنَكُمْ كَافَّةً.

## ۵۶- كَذَا:

د دې دوه ترکيبه کيداي سي:

۱-(كَذَا) د اسماء كناياتو څخه دى، په دې صورت كې دئ مميز مابعد ئې تميز جوړيږي، بياممیز سره د تمیز، د ماقبل لپاره مفعول به کیږي او اکثر په عطف سره راځي لکه: أَخَذْتُ كَذَا وَكَذَا دِرْهَماً.

۲-(كاف) جلا او (ذَا) جلا وي نو په دې صورت كې د تشبيه لپاره وي، او جار و مجرور تر يو فعل يا شبه فعل پوري تعلق نيسي.

## ۵۷- كُلَّمَا:

دا ظرف دى د فعل لپاره راځي، او په يوه جمله كې مكرر نه راځي، او دى معرب منصوب دى بنا بر ظرفيت د مابعد فعل سره تعلق لري، شرط او جواب غواړي هغه به دواړه ماضي وي لكـه: كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَـدَّلْنَاهُمْ جُلُـوْدًا

Maktaba Tul Ishaat.com

غيْرَهَا، كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيهِ، كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوْا مِنْهُ.

## ٥٨-كَمَا مَرَّ:

(كاف) جار (مَا) موصوله (مَرَّ) فعل با فاعل صله د موصول، موصول سره د صلې مجرور د جار، جار سره د مجرور تعلق تر (ثَابِـتٌ) لـري بيا خبرکيږي د (مِثَالُهُ) يا د (هُوَ) مبتداء محذوف لپاره: أيْ مِثَالُهُ ثَابِتٌ كَمَا مَرَّ يا هُوَ ثَابِتٌ كَمَا مَرَّ.

## ٥٩-كَيْفَ:

١-کـه تـر (كَيْـفَ) وروسته اسم وي نـو دئ خبرِ مقدم او هغه اسم مبتدا مؤخردي لکه: (كَيْفَ أنْتَ).

٢-او که وروسته فعل وو نو دئ حال مقدم دی لکه: كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللهِ.

٣-او که تر (كَيْـفَ) وروسته واو راغلی وو نو تر (كَيْـفَ) وروسته جمله محذوف وي لکه: كَيْفَ وَإنْ يَظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يعني كَيْفَ يَكُوْنُ لَهُمْ عَهْدٌ.

## ٦٠-لَابَأْسَ:

(لَا) نفی جنس او (بَأْسَ) ئې اسم دي، خبر ئې جار او مجرور تعلق تر فعل عام پورې لري او اکثره وخت محذوف وي.

## ٦١-لَاجَرَمَ:

د دې په ترکيب کې يو څو احتمالات دي:

١-(لَا) نفي جنس او (جَرَمَ) ئې اسم دي په معنٰی د (مَحَالَــةَ) يا په معنٰی د (حَدَّ)او (مَنَعَ)، خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) اکثره وخت محذوف وي.

٢-(لَا) نافيه، (جَرَمَ) فعل ماضي په معنٰی د (وَجَبَ) يا (حَقَّ) او يا (ثَبَتَ)، مابعد ئې فاعل وي لکه دا قول د الله تعالٰی: لَاجَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُوْنَ.(لَا) نافيه (جَرَمَ) فعل، مابعد ئې په تأويل د مصدر په محل کې د رفع فاعل د (جَرَمَ) دی أيْ ثَبَتَ خُسْرَانُهُمْ فِي الْآخِرَةِ.

٣-او کله دواړه الفاظ يعني (لَا) او (جَرَمَ) جمع کيږي په يوه کلمه سره په معنٰی د (حَقًّا) نو دی په محل کې د نصب مفعول مطلق وي لکه: په همداغه أيت کې، او وروسته مصدر مؤل په محل کې د رفع فاعل د مصدر دی: أي حَقًّا خُسْرَانُهُمْ.

## ٦٢-لَابُدَّ:

دا لفظ د (لَا) نافيه او (بُدَّ) په معنی د مفارقت ـ څخه مرکب دی، او لازمي معنی ئې وجوب او لزوم دی، نو دا په معنی د ضروري او لازمي دی.

**ترکيبی حيثيت**: (١) په نزد د سيبويه (لَابُدَّ) د شدت اتصال په وجه لکه (حَبَّذَا) مفرد گرځيدلی دی نو ځکه (لَابُدَّ) مبتدا، ما بعد ئې خبر دی.

(٢) (لا) نفي جنس (بُدَّ) مبنی بر فتحه اسم د (لَا) او خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) يا (مِنْهُ) اکثره محذوف وي لکه: لَابُدَّ مِنَ الإِجْتِهَادِ أيْ لَابُدَّ مَوْجُوْدٌ مِنَ الإِجْتِهَادِ، جار او مجرور تعلق تر (بُدَّ) پوري لري، او کله ئې وروسته لام جاره هم راځي، هغه هميشه خبر د (بُدَّ) وي لکه: لَابُدَّ لَكَ مِنَ التَّقْوٰی، (بُدَّ) اسم د (لَا) دی او (لَكَ) ئې خبر دی، (مِنَ التَّقْوٰی)جار و مجرور تعلق تر (بُدَّ) پوري لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۶۳-لاَسِيَّماً:

د دې درې تحقيقه دي: صيغوي، معنوي او ترکيبي:

**صيغوي تحقيق**: (لاَ) نفی جنس دی (سِيْ) په اصل کي (سُوْيٌ) وو، واو په يا بدل سو بيا ادغام وسو او د يا ماقبل ته ئې کسره ورکړه نو (سِيٌّ) سو او دا لازم الاضافت دی.

**معنوي تحقيق**: معنٰی ئې (مِثْلٌ) ده لکه چی ويل کيږي: هُمَاسِيَّانِ أيْ مِثْلاَنِ، او د (لاَسِيْ) معنی ده: بې مثل، اوکوم شی چي بې مثل وي نو هغه خاص وي نو ځکه مجازا د ده معنی داسي کيږي: خاص بيا.

**ترکيبي تحقيق**: په ترکيب کی ئې پنځه احتمالات دي:

**اول احتمال**: (لاَ) نفی جنس، (سِيْ) مضاف (مَا) زائده او ما بعد ئې مجرور مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه منصوب لفظا اسم د (لاَ) دی، او خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) محذوف دی.

**دوهم احتمال**: (لاَ) نفی جنس، (سِيْ) مضاف، (مَا) موصوله يا موصوفه، مابعد ئې خبر د مبتدا محذوف، يا مبتدا خبر ئې محذوف، مبتدا سره د خبر صله لپاره د موصول، يا صفت د موصوف او بيا مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه اسم د (لاَ) سو، او (مَوْجُوْدٌ) ئې خبرمحذوف دی.

**دريم احتمال**: (لاَ) نفی جنس (سِيْ) مضاف، (مَا) موصوله، يا موصوفه مابعد ئې منصوب مفعول به د فعل محذوف دی چي (أعْنِيْ) دی، (أعْنِيْ) جملهٔ

فعليه صله يا صفت الخ

**ځلورم احتمال**: (لَا) نفی جنس (سِيٌّ) مضاف، (مَا) نکره غیر موصوفه ممیِّز، مابعد ئې تمیز په دې شرط چې مابعد ئې نکره وي، ممیز سره د تمیز مضاف الیه الخ

**پنځم احتمال**: (لَاسِيَّماً) قوله مفعول مطلق دی، په معنی د (خُصُوْصاً)، د فعل محذوف چې (أَخُصُّهُ خُصُوْصاً) دی، او ما بعد ئې جلا جمله ده.

## ۶۴-لَاشَكَّ فِيْه:

(لَا) نفی جنس او (شَكَّ) ئې اسم دي، خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) اکثره وخت محذوف وي.

## ۶۵-لَاضَيْرَ:

(لَا) نفی جنس او (ضَيْرَ) ئې اسم دي، خبر ئې (مَوْجُوْدٌ) اکثره وخت محذوف وي لکه قوله تعالى: قَالُوْا لَاضَيْرَ.

## ۶۶-لَاعَلَيْكَ:

(لَا) نفي جنس، اسم ئې محذوف دی چې(بَأْسَ) دی او (عَلَيْكَ) ئې خبر دی، یعني: لَابَأْسَ عَلَيْكَ.

## ۶۷-لَاغَيْرُ:

د دې په ترکیب کې درې اقوال دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

١-(لاَ)نفی جنس، (غَيْرُ) مبني على الضم ـ منصوب محلاً ـ اسم د (لاَ)، خبر ئې (مَقُوْلٌ لَكَ) محذوف دی

٢-(لاَ) نفی جنس (غَيْرَ) مبنی بر فتحه اسم د (لاَ).

٣-(لاَ) مشبه بليس (غَيْرٌ) مرفوع ـ منون ـ اسم د (لاَ) (مَقُوْلاً لَكَ) ئې خبر محذوف دی.

## ٦٨-لاَمَحَالَةَ:

د دې تركيب داسي كيږي: (لاَ) نفی جنس، (مَحَالَةَ) مبنی بر فتحه ـ اسم د (لاَ) او خبر ئې (مَوْجُوْدٌ مِنْهُ) اكثره وخت محذوف وي، او (مَحَالَةَ) مصدر ميمي دی په معنی د گرځيدلو، او د تاكيد لپاره راځي، چي معنی ئې ده: ضروري او لاُبدی.

## ٦٩-لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ:

دا پر صيغه د تثنيې دي ليكن د تثنيې لپاره نه دي بلكه د تكرير او تكثير لپاره دي، د (لَبَّيْكَ) اصل دی: اَلِبُّ لَكَ اِلْبَابَيْنِ يعني زه ستا د خدمت او امتثالِ امر لپاره په اقامت كثيره او متتاليه سره مقيم كيږم، بيا فعل (اَلِبُّ) حذف كړل سو، پر ځاي ئې مصدر (اِلْبَابَيْنِ) قائم كړل سو او بيا ثلاثي مجرد ته وگرځول سو په حذف سره د زوائدو چي همزه او الف دي، او ضمير ته د اضافت په وجه ئې نون حذف سو. او د (سَعْدَيْكَ) اصل دی: اَسْعِدُكَ اِسْعَادَيْنِ يعني زه ستا اعانت كوم يو په بل پسې، بيا فعل حذف سو مصدر ئې پر ځاي قائم كړل سو په حذف سره د زوائدو،

بیا ئې په اضافت سره نون حذف کړل سو او دا هر یو هغه مفعول به دی چې حذف د عامل ئې واجب دی.

## ٧٠-لِزَيْداً:

په مذکوره جمله کې (لِ) حرف جر نه دی بلکه د ولي يلي د باب څخه د امر صيغه ده پر وزن د (قِ)، او لفظ د (زَيْداً) ئې مفعول دی، يعني: اې مخاطبه ! ته د زيد ولي جوړ سه.

## ٧١-لَعَمْرِيْ، لَعَمْرُكَ:

(لام) لپاره د قسم، د (عَمْرٌ) اصل (عُمْـرٌ) دی، مـضاف دی ضـميرته، اصل عبارت داسي دی: (أُقْسِمُ لِوَاهِبِ عُمْرِيْ) يعني زه قسم کوم په ورکوونکی د ژوند.

## ٧٢-لُغَةً:

دا لفظ عموما تميز واقع کيږي لکه: اَلتَّيَمُّمُ لُغَةً اَلْقَصْدُ.

## ٧٣-لِلّٰهِ دَرُّكَ:

دغه تعبير هغه چاته ويل کيږي چې پر خپلو هـم جنسو فوقيـت ولـري پـه يـو وصف کې، (دَرٌّ) وايي شيدو ته نو ګويا ده داسي شيدې چيښلي دي چې د نـورو تر شيدو فوق دي، او يا (دَرٌّ) په معنٰی د خير کثير دی لکه څرنګه چې پـه شـيدو کي خير کثير دی، او نسبت ئې الله تعالٰی ته ځکـه کيږي چې د الله تعـالٰی څخـه غير پر دغه خير قدرت نه لري، او تر دغه لفظ وروسته تميز راځي لکـه: لِلّٰهِ دَرُّكَ

...اساً، ترکیب ئې داسي دی: (لِلّٰهِ) جار و مجرور تعلق ئې (مَوْجُوْدٌ) مقدر پوري
...ري ـ خبر مقدم، (دَرُّكَ) مضاف او مضاف اليه ـ مبتدأ مؤخر

## ۷۴-لَمَّا:

پر درې قسمه دی: ۱-حرف جزم، ۲-حرف استثناء، ۳-ظرف.

أ: چي کله پر مضارع داخل سي نو حرف جزم دی لکه: لَمَّايَعْلَمْ

ب: او چي کله پر جملهٔ اسمیه داخل سي نو حرف استثناء دی لکه: إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ، او هم داغه کله پر ماضي هم داخلیږي لکه: أَنْشُدُكَ لَمَّا فَعَلْتَ اَيْ مَا أَسْئَلُكَ إِلاَّ فِعْلَكَ.

ج: او (لَمَّا) ظرفیه خاص وي په ماضي پوري او جواب ئې هم فعل ماضي وي لکه: فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ.

## ۷۵-لَيْتَ شِعْرِيْ:

(لَيْتَ) حرف تمني مبني پر فتحه او محل اعراب نه لري، (شِعْرِيْ) اسم د (لَيْتَ) منصوب په فتحهٔ مقدره سره ـ مضاف دی او (يا) ضمیر مضاف اليه، او خبر د (لَيْتَ) محذوف دی، تقدیر ئې (حَاصِلٌ) دی، لکه چي وویل سي: لَيْتَ شِعْرِيْ فُلاَنًا يعني (کاشکي د فلان په باره کي زما علم واي).

## ۷۶-لَيْسَ هذا كَمَا زَعَمَه فُلَانٌ صَوَابًا:

(لَيْسَ) فعل ناقص، (هٰذَا) اسم د (لَيْسَ)، (صَوَابًا) ئې خبر دی، په (كَمَا زَعَمَهُ) کي کاف جار، ما موصله، زعمه جملهٔ فعلیه صله، موصول او صله مجرور، جار

او مجرور ظرف مستقر تعلق تر (كَائِناً) پوري نيسي چي حال دی د (هٰذَا) څخه، يا ظرف لغو تعلق تر (صَوَاباً) پوري لري اوکه د (لَيْسَ) خبر علٰحده نه وي ذکر نو بيا ئې خبر (كَمَا زَعَمَهُ) وي.

## ٧٧–مَا أَحْسَنَ زَيْداً:

د کتاب په اٰخر کي د افعال تعجب ترکيب وګورئ.

## ٧٨–مَا بَعْدَهَا:

(مَا) موصوله، (بَعْدَهَا) ظرف ـ مفعول فيه د فعل محذوف (ثَبَتَ) وغيره لپاره وي.

## ٧٩–مَاذَا:

د دې څلور ترکيبه کيدايسي:

١-(مَا) استفهاميه په معنی د (أَيُّ شَيْئٍ)، موصوف، (ذَا) اسم اشاره، بيا موصوف، وروسته فعل ئې صفت، موصوف سره د صفت ـ صفت د (مَا) سو، هغه موصوف سره د صفت ـ مفعول (بِهِ) د ماقبل فعل سو.

٢-(مَا) استفهاميه په معنی د (أَيُّ شَيْئٍ)، موصوف، (ذَا) اسم موصول، وروسته فعل ئې صله، موصول سره د صلې صفت د (مَـا) دی، موصوف سره د صفت مفعول به د ماقبل سو.

**فائده**: (ذَا) پر درې قسمه دی:

(١)د اسماء سته وو څخه لکه: شَاهَدتُ ذَا عِلْمٍ.

(۲)د اسماء اشاراتو څخه لکه: ذَا هِرٌّ.

(۳)د اسماء موصولاتو څخه لکه: مَاذَا صَنَعْتَ أَخَيْرٌ أَمْ شَرٌّ. (تفصیل ئې په ضوابط کې وګورئ).

۳-(مَاذَا) مرکب استفهامیه په معنی د (أيُّ شَيْءٍ)، موصوف، وروسته فعل ئې صفت، موصوف او صفت دا مفعول به د ماقبل فعل ګرځي لکه: مَاذَا أَنْفَقْتَ دَرَاهِماً أَمْ دَنَانِيْراً.

۴-(مَا) استفهامیه موصوف (ذَا) زائده، وروسته فعل ئې صفت الخ لکه: فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى، او که تر (مَاذَا) مخکې یا وروسته فعل قابل عمل نه وي په ده کی، نو بیا (مَاذَا) خبر یا مبتدا وي.

## ۸۰-مَا قَبْلَهَا:

(مَا) موصوله، (قَبْلَهَا) ظرف _ مفعول فیه د فعل محذوف (ثَبَتَ) وغیره لپاره وي.

## ۸۱-مَثَلاً:

مفعول مطلق وي د فعل محذوف (أَمْثِلُ) لپاره.

## ۸۲-مِثْلاً بِمِثْلٍ.

ترکیب ئې په مثال کې د (أَعْطَيْتُكَ الْحِنْطَةَ مِثْلاً بِمِثْلٍ)، مِثْلاً حال دی (بِمِثْلٍ) جار و مجرور تعلق لري تر صفت محذوفه پورې چې د (مِثْلاً) لپاره دی تقدیر ئې داسې دی: أَعْطَيْتُكَ الْحِنْطَةَ مِثْلاً مُلاَصِقاً بِمِثْلٍ.

## ۸۳-مَخْصُوْصاً:

د دې ترکیب د (حَقًّا) په شان دی.

## ۸۴-مَرْحَباً:

دا هم د ښه راغلي لپاره ويل کيږي، په معنى د (مَكَاناً ذَا رَحْبَةٍ)، يعنى خلاص خای، دا په ترکیب کې ظرف مکان مفعول فيه جوړيږي د فعل محذوف لپاره، يعني: رَحُبْتَ مَرْحَباً.

## ۸۵-مُطْلَقاً:

ددې دوه ترکيبه کيداي سي:

۱-عموماً حال جوړيږي د ماقبل فعل څخه.

۲-د فعل محذوف (أُطْلِقُ) لپاره مفعول مطلق دی، په دې صورت کی مصدر ميمي وي.

## ۸۶-مَعاً:

دا ظرف لا زم النصب دی په ظرف زمان او مکان دواړو کې مستعمليږي لکه: (جِئْنَامَعًا أيْ فِيْ زَمَانٍ وَاحِدٍ) يعني موږ په يوه وقت کې راغلو، (كُنَّا مَعًا أيْ فِيْ مَكَانٍ وَاحِدٍ) يعنى موږ په يوه خاي کي وو

د ده استعمال دوه ډوله دی: (۱) د تنوين سره لکه (مَعاً) (۲) بيله تنوين د اضافت سره لکه: مَعَهُ.

Maktaba Tul Ishaat.com

تفصيل ئې داسې دی چې لفظ د (مَعَ) د دوو شيانو په منځ کې راځې نو دوهم ...ې ته مضاف وي لکه: إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ، په دې صورت کی دغه مفعول فيه ...ي، او که تر دوارو شيانو وروسته راغلی وو، بيا بيله اضافته ـ سره د تنوين ـ ...ستعمليږي لکه: جِئْنَا مَعًا، او په دې صورت کی هم دوه ترکيبه کيدايسی: ١- ...فعول فيه، ٢-د (مُجْتَمِعِيْنَ) په معنی سره د ماقبل څخه حال دی.

## ٨٧-مَعَاذَ اللّٰهِ:

مفعول مطلق د فعل محذوف دی چې (أَعُوْذُ) دی او لفظ الله ته مضاف دی.

## ٨٨-مَيْدَ:

دا په شان د (بَيْدَ) دی، چې تير سوی دی.

## ٨٩-اَلْمَاهِيَّةُ مِنْ حَيْثُ هِيَ هِيَ:

(اَلْمَاهِيَّةُ) موصوف (مِنْ) زائده، (حَيْثُ) مضاف، په دوو ضمايرو کې اول مبتدا دوهم ئې خبر، بيا مبتدا سره د خبره جمله اسميه مضاف اليها د (حَيْثُ)، مضاف سره د مضاف اليه ظرف مستقر صفت د موصوف دی، موصوف سره د صفت مبتداء، خبر ئې کله مقدم او کله مؤخر وي.

## ٩٠-نَعَمْ، نَعِمْ، نَعَامْ:

توله په يوه معنٰی دي، او حرف د جواب دی، لا محل له من الاعراب ولا عمل له.

## ٩١-نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ:

د تراكيبو په اٰخر كي د افعال مدح او ذم تركيب وګورئ.

## ٩٢-نعمّا:

**تعليل**: (نِعِمَّا) په اصل كي (نِعْمَ) وو، بيا (مَا) پوري ملحق سو نو د متجانسينو په قانون سره اول ميم ساكن او مدغم كړل سو، (عين) ته كسره د التقاء ساكنين په قانون سره وركول سوه نو (نِعِمَّا) سو.

**تركيب**: تر (نِعْمَ) وروسته چي (مَا) راځي دا پر دوه قسمه دی: ١-معرفه، ٢-نكره:

(ما) معرفه پر دوه قسمه دی:

اول: دا چي تر (مَا) وروسته هيڅ لفظ نه وي لكه: غَسَلْتُ الثَّوْبَ غَسْلاً نِعِمَّا، نو په تركيب كي (مَا) فاعل او مخصوص ئې محذوف وي، تقدير ئې دی: غَسَلْتُ الثَّوْبَ غَسْلاً نِعِمَّا هُوَ، (غَسَلْتُ) فعل او فاعل، (اَلثَّوْبَ) مفعول به، (غَسْلاً) موصوف، (نِعْمَ) فعل، (مَا) فاعل، (هُوَ) مخصوص بالمدح، بيا جمله يعني (نِعِمَّا هُوَ) صفت، موصوف او صفت ـ مفعول مطلق د (غَسَلْتُ) لپاره.

دوهم: دا چي تر (مَا) وروسته مفرد راغلی وي، بيا هم (مَا) فاعل د (نِعْمَ) دی لكه: إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ، (إِنْ) حرف شرط، (تُبْدُوْا) فعل او فاعل، (اَلصَّدَقَاتُ) مفعول به، (فَا) جوابيه، (نِعْمَ) فعل، (مَا) معرفه په معنٰی د (اَلشَّيْءُ) ـ فاعل د (نِعْمَ)، (هِيَ) مبتدأ مؤخر، (نِعِمَّا) ئې خبر مقدم دی.

(ما) نكره: كه وروسته تر (مَا) جمله وي نو دا (مَا) نكره ـ تمييز دی لكه: نِعِمَّا

Maktaba Tul Ishaat.com

تَعَلَّمُوْنَهُ يعني نِعْمَ شَيْئًا تَتَعَلَّمُوْنَهُ، (نِعْمَ) فعل، ضمير مستتر ئې فاعل، (ما) تمييز د ماقبل لپاره ـ موصوف، (تَتَعَلَّمُوْنَهُ) جمله ئې صفت.

## ٩٣-نَاهِيْكَ بِكَذَا:

د دې درې تراكيب كيدايسي:

١-نَاهِيْكَ په معنى د (كَافِيْكَ)، (كَافِيْ) اسم فاعل صيغه د صفت قائم مقام د مبتداء، (كاف) ضميرد مفعول به (ب) زائده (كَذَا) فاعل قائم مقام د خبر، جمله اسميه خبريه سوه.

٢-د مخكې تركيب په شان دى صرف فرق ئې دا دى چې (كَذَا) مبتدا مؤخر او (نَاهِيْكَ) خبر مقدم دى.

٣-(نَاهِيْكَ) په معنى د (يَكْفِيْكَ) (يَكْفِيْ) فعل، (كاف) ضمير مفعول به (ب) زائده (كَذَا) مرفوع محلا فاعل.

## ٩٤-وَحْدَهُ:

دا لفظ په تأويل د (مُنْفَرِداً) حال د ماقبل څخه وي لكه: رَأَيْتُ زَيْداً وَحْدَهُ.

## ٩٥-وَعْداً:

د دې تركيب د (حَقًّا) په شان دى لكه قوله تعالى: وَعْداً عَلَيْهِ حَقًّا.

## ٩٦-وَلِهٰذَا:

(لام) جاره (هٰذَا) اسم اشاره مجرور محلا، جار سره د مجرور ظرف لغو د

وروسته فعل يا شبه فعل متعلق وي.

## ۹۷–وَمِنْ ثَمَّ:

(مِنْ) تعليليه دى او (ثَمَّ) اسم اشاره ده، وضع سوى دى لپاره د مكان حسى بعيد.

او كله مجازاً د مكان بعيد غير حسى لپاره هم وي، او په دې وخت كې ئې تفسير په (وَمِنْ هُنَاكَ) سره كيږي.

او كله مجازا د مكان قريب غير حسى لپاره وى نو په دې وخت كى ئې تفسير په (وَمِنْ هٰهُنَا) سره كيږى په اول كى مجاز په يوه وجه او په دوهم كى مجاز په دوو وجهو سره دى، او (مِنْ ثَمَّ) هميشه جار مجرور د مابعد لپاره متعلق جوړيږى.

## ۹۸–وَيْحَكَ:

دا اسمِ فعل په معنى د مضارع (أَتَأَسَّفُ عَلَيْكَ) دى.

## ۹۹–هٰذَا:

په كلام عرب كي كله كله تر يو اهم مضمون بيانولو وروسته لفظ ـ (هٰذَا) ذكر كيږي، د دې لپاره چي د دې مضمون اهميت او دقت ته اشاره وسي، ..ر څكه د ده مشار اليه الفاظ يا معانى مخصوصه وي كوم چي مخكي بيان سوي ..ي لكه: هٰذَا وَإِنَّ لِلطَّاغِيْنَ لَشَرَّ مَآبٍ.

**فائده** اسم اشاره كله كله لپاره د ترغيب او تنشيط في الطلب مجاز! په غير محسوس كي استعماليږي لكه: ذَالِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ.

او د (هٰذَا) په ترکيب کې دوه احتماله دي.

١-مفعول به د فعل محذوف دی يعنی: خُذْ هٰذَا.

٢-(هٰذَا) مرکب دی د (هَـ) اسمِ فعل په معنی د (خُذْ) او د (ذَا) اسم اشاري

څخه چې دلته محلا منصوب مفعول به ده، نو عبارت به داسې سي: خُذْ ذَا.

## ١٠٠-هَلُمَّ جَرًّا:

(هَلُمَّ) اسمِ فعل په معنی د (اِئْتِ) یا (تَعَال) دی، لیکن اتیان حسی مراد نه دی

بلکه د دې څخه دوام او استمرار بیانول مقصود وي.

د (جَرًّا) څو تراکیب کیدای سي.

١-مفعول مطلق د فعل محذ.. ف يعنی جَرَّ جَرًّا.

٢-په اعتبار د معنی مفعول مطلق د (هَلُمَّ) دی ځکه د (هَلُمَّ) او (جَـرًّا) دوارو

څخه معنی د دوام او استمرار مراد ده، نو ځکه معنی ئې (اِسْتَمِرَّ اِسْتِمْرَارًا) سوه.

٣-تميز دی د (هَلُمَّ) د ضمير څخه يعني: مِنْ حَيْثُ الاسْتِمْرَار.

٤-په معنی د (جَارًّا) حال مؤکِّده دی د (هَلُمَّ) د ضمير څخه.

## ١٠١-يَداً بِيَدٍ:

په مثال کې د (أَعْطَيْتُكَ الْقَلَمَ يَداً بِيَدٍ)، (يَداً)حال دی (بِيَـدٍ) جار و

مجرور تعلق ئې تر صفت محذ... پوري چې د (يَداً) لپاره دی، تقدير ئې داسې

دی: أَعْطَيْتُكَ الْقَلَمَ يَداً مُلَاصِقاً بِيَدٍ.

## ١٠٢-يُوْسُفِ زَلِيْخَا:

مرکب مفید جمله فعلیه ندائیه ده، اوهغه داسي چي په شروع کي ئې حرف نداء محذوف دی، او په لفظ کي د (یُوْسُفِ): (یُوْسُ) منادیٰ مُرَخَّم د (یُوْسُفُ) څخه دی او (فِ) صیغه د امر ده پر وزن د (قِ) د (وَفَاء) څخه ماخوذ دی، او تقدیر د عبارت داسي دی: یَا یُوْسُفُ فِ زَلِیْخَا، یعني اې یوسفه د زلیخا سره وفاء وکړه.

## ۱۰۳-د افعال مدح او ذم ترکیب:

افعال مدح او ذم څلور دي: دوه د مدحي لپاره لکه: نِعْمَ او حَبَّذَا، او دوه د ذم لپاره لکه: بِئْسَ او سَاءَ.

د دوي تر فاعل وروسته چي کومه کلمه راځي هغه ته مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم ویل کیږي او د دوي د فاعل لپاره یو د درو شرائطو څخه ضروري دی:

۱-یا به معرف بالام وي لکه: نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ.

۲-یا به مضاف وي معرف بالام ته لکه: نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ.

۳-یا به ضمیر مستتر مبهم وي چي تمییز ئې په نکرهٔ منصوبه سره سوی وي لکه: نِعْمَ رَجُلاً زَيْدٌ.

### ترکیب:

(۱) په (نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ) کي (نِعْمَ الرَّجُلُ) ـ فعل و فاعل خبر مقدم، او (زَيْدٌ) مبتدأ مؤخر.

(۲) نِعْمَ الرَّجُلُ ـ فعل و فاعل جلا جمله ده او (زَيْدٌ) خبر دی د مبتدأ محذوف چي (هُوَ) دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

# ۱۰۴-د افعال تعجب ترکیب:

د فعل تعجب دوې صيغې دي:

اول: مَا اَفْعَلَهُ لکه: مَا اَحْسَنَ زَيْدًا، د دې درې ترکيبه دي:

۱-(مَا) په معنٰی د (اَيُّ شَيْءٍ) مبتدا، (اَحْسَنَ)فعل ماضي، (هُوَ) ضمیرِ مستتر ئې فاعل دی، (زَيْدًا)ئې مفعول به، فعل سره د فاعل او مفعول به _ جملهٔ فعلیه خبر د مبتدا، مبتدا سره د خبره جملهٔ اسمیه انشائیه، جواب د استفهام ئې محذوف دی چې ( شَيْءٌ عَظِيْمٌ)دی.

۲-(مَا) نکره موصوفه په معنٰی د (شَيْءٌ) _ موصوف، (اَحْسَنَ زَيْدًا) جمله _ صفت د موصوف، موصوف سره د صفته مبتدا، خبر ئې ( شَيْءٌ عَظِيْمٌ) محذوف دی.

۳- (مَا) موصله په معنٰی د (اَلَّذِيْ) موصول، (اَحْسَنَ زَيْدًا) جمله ئې صله، موصول او صله مبتدا، خبر ئې محذوف دی چې ( شَيْءٌ عَظِيْمٌ) دی.

دوهم: (اَفْعِلْ بِهٖ) دی لکه: اَحْسِنْ بِزَيْدٍ.

ترکیب: (اَحْسِنْ) صيغه د امر ليکن په معنٰی د (حَسُنَ) لازم دی او په (بِزَيْدٍ) کې (با) زائده ده او په خپله (زَيْدٌ) فاعل د (اَحْسَنَ) لپاره دی.

والله أعلم وعلمه اتم وأحكم

## تَمّت بتوفيقه عزوجل

٦ رمضان ١٤٣١ هــ ق

# مراجع او ما'خذ


١-القرآن الكريم

٢-جامع الدروس العربية: للشيخ مصطفى الغلاييني

٣-مغني اللبيب: للإمام ابن هشام الأنصاري

٤-علل النحو: للشيخ ابي الحسن محمد بن عبد الله الوراق

٥-موسوعة النحو والصرف والاعراب: الدكتور اميل بديع يعقوب

٦-معجم النحو والصرف: عبد الغني الدقر

٧-القواعد الأساسية: السيد أحمد الهاشمي

٨-فقه اللغة وسر العربية: الثعالبي

٩-القواعد الأساسية للغة العربية: السيد احمد الهاشمي

١٠-شرح الجامي: للإمام عبد الرحمن الجامي

١١-كيف تدرس الكتب الدرسية: للشيخ محمد تقي العثماني

١٢-روضة الهادية: مولانا عبد الهادي

١٣-معارف الصرف: مولانا عبد القيوم القاسمي

١٤-قدة العوامل: مفتي عطاء الرحمٰن ملتاني


Maktaba Tul Ishaat.com

# فهرست

**تقريظ** ............ ۱
**مقدمه** ............ ۳
د استادانو مسؤليت ............ ۴
**د علم صرف د تدريس هدايات** ............ ۵
د صيغو د حل نقشه ............ ۸
مهمه مشوره ............ ۹
د علم صرف د اجراء طريقه ............ ۹
د مجرد او مزيد پيژندنه ............ ۱۰
**د علم نحو د تدريس هدايات** ............ ۱۲
د علم نحو د اجراء طريقه ............ ۱٤
فائده ............ ۱٤
د علم نحو د اجراء دوې حصي دي ............ ۱٤
**د مفرداتو د اجراء تفصيل** ............ ۱۵
**معرب او مبني** ............ ۱۸
مشابه مبني الاصل پر يوولس (۱۱) قسمه دى ............ ۱۸
د معرب او مبني د اقسامو نقشه ............ ۱۹
د معرب او مبني د اجراء طريقه ............ ۲۰
د ضمائرو اقسام ............ ۲۱
د ضمائرو تعريفونه او ترکيبونه ............ ۲۲
د ضمائرو د اجراء طريقه ............ ۲۳
جائز الاستتار ............ ۲٤
واجب الاستتار ............ ۲٤

په نهو (۹) ځايو کي ضمير واجب الاستتار وي ........ ٢٤
په څو ځايو کي ضمير جائز الاستتار وي ........ ٢٥
**اسماء اشارات** ........ ٢٧
د مشار اليه مراتب ........ ٢٧
د اسماء اشاراتو ترکيب ........ ٢٨
د اسماء اشاراتو د اجراء طريقه ........ ٣٠
**الاسماء الموصولة** ........ ٣١
د صلې شرائط ........ ٣١
اسماء موصوله پر دوه قسمه دي: ١-خاصه ٢-مشترکه ........ ٣١
د اسماء موصولاتو ترکيب ........ ٣٢
فائده: نواسخ شبه دلي دي ........ ٣٢
د اسماء موصولاتو د اجراء طريقه ........ ٣٤
**د مبني الاصل د اجراء طريقه** ........ ٣٦
د فعل ماضي د اجراء طريقه ........ ٣٦
د وسط مقامات ........ ٣٦
د فعل ماضي د دوو صيغو د اجراء طريقه چي په ابتدا کي وي ........ ٣٨
د فعل ماضي د دوو صيغو د اجراء طريقه چي په وسط کي وي ........ ٣٨
د فعل ماضي د دوولسو صيغو د اجراء طريقه ........ ٣٩
د فعل مضارع د اجراء طريقه ........ ٤٠
د فعل مضارع د اجراء طريقه د فاعل په اعتبار ........ ٤٠
د فعل مضارع د اقسامو نقشه ........ ٤١
د فعل مضارع د دوو صيغو د اجراء طريقه چي په ابتداء کي وي ........ ٤٢
د فعل مضارع د اجراء طريقه د اعراب په اعتبار ........ ٤٣
د فعل مضارع د پنځو (٥) صيغو اعراب ........ ٤٣
د صحيح اعراب ........ ٤٣
د معتل واوي او يايي اعراب ........ ٤٣

Maktaba Tul Ishaat.com.

د معتل الفي اعراب ........ ٤٤
د فعل مضارع د اوو (۷) صيغو اعراب ........ ٤٤
د فعل مضارع د اوو (۷) صيغو د اجراء طريقه ........ ٤٤
د امر حاضر معلوم د اجراء طريقه ........ ٤٥
**اسم متمكن** ........ ٤٦
د اسم متمكن د اقسامو خلاصه ........ ٤٦
د اسم متمكن د اجراء طريقه ........ ٤٨
**د اسم تقسيمات** ........ ٥٢
د اسم اول تقسيم (معرفه او نكره) ........ ٥٢
د معرفه او نكره د اجراء طريقه ........ ٥٢
د اسم دوهم تقسيم (مذكر او مؤنث) ........ ٥٤
علامات تانيث درې دي ........ ٥٤
**د مؤنث تقسيمات** ........ ٥٥
د مؤنث اول تقسيم (قياسي او سماعي) ........ ٥٥
د مؤنث دوهم تقسيم (حقيقي، لفظي) ........ ٥٥
د مذكر او مؤنث د اجراء طريقه ........ ٥٦
د اسم دريم تقسيم (واحد، تثنيه او جمع) ........ ٥٨
تثنيه پر دوه قسمه ده ........ ٥٨
**د جمع تقسيمات** ........ ٥٩
د جمع اول تقسيم (سالم او مكسر) ........ ٥٩
جمع سالم پر دوه قسمه ده ........ ٥٩
جمع مكسر پر دوه قسمه ده ........ ٦٠
جمع منتهى الجموع ........ ٦٠
د جمع دوهم تقسيم (قلت او كثرت) ........ ٦٠
د جمع قلت اوزان ټوله څلور (۴) دي ........ ٦١
د واحد، تثنيه او جمع د اجراء طريقه ........ ٦١

**خلاصهٔ اجراءِ مفردات** ۶۳
**تفصيل المركبات** ۶۵
**مركب مفيد** ۶۵
**د جملې تقسيمات** ۶۵
د جملې اول تقسيم: (خبريه او انشائيه) ۶۵
جمله خبريه پر څلور قسمه ده ۶۶
د جملې اجزاء زائده ۶۶
جمله انشائيه پر درې قسمه ده ۶۷
د مركب مفيد د اقسامو د اجراء طريقه ۶۷
د مفعولات خمسه د اجراء طريقه ۷۰
د جملې دوهم تقسيم: (په اعتبار د صفت) ۷۱
جمله په اعتبار د صفت پر نهه (۹) قسمه ده ۷۱
د جملې دريم تقسيم (په اعتبار د اعراب) ۷۲
هغه جمله چې محلي اعراب لري پر اووه (۷) قسمه ده ۷۳
هغه جمله چې محلي اعراب نه لري پر نهه (۹) قسمه ده ۷۴
فائده: حروف د شرط غير جازم اته دي ۷۵
د جملو د اجراء مثال ۷۵
**مركب غير مفيد** ۷۷
د مركب غير مفيد اقسام ۷۷
د مركب غير مفيد د اجراء طريقه ۷۹
**عوامل** ۸۲
د عواملو نقشه ۸۳
د عواملو د اجراء طريقه ۸۴
معتمدات سته ۸۸
**معمولات** ۸۹
د معمولاتو د اجراء طريقه ۸۹

Maktaba Tul Ishaat.com

د معمولا تو نقشه ........ ٩٠

**مشوره** ........ ٩٣

**بعض مهم ضوابط** ........ ٩٤

**مبتدا او خبر** ........ ٩٤

علامات ........ ٩٤

احکام د مبتدا ........ ٩٥

څلور ځایه مبتدا لفظاً مجرور واقع کیږي ........ ٩٥

نکره مفیده کرځي په یوه د څوارلسو (١٤) شرائطو ........ ٩٦

پنځه ځایه د مبتدا حذف واجب دی ........ ٩٨

د مبتدا او د خبر مرتبه ........ ٩٨

شپږ ځایه د مبتدا تقدیم پر خبر واجب دی ........ ٩٩

اقسام د مبتدا ........ ١٠٠

فائده: مبتداء همیشه اسم وي ........ ١٠٠

اعتراض ........ ١٠٠

اسم حقیقي ........ ١٠٠

اسم حکمي ........ ١٠٠

اسم تاویلي ........ ١٠١

احکام د خبر ........ ١٠١

د خبر مطابقت د مبتدا سره ........ ١٠١

د مطابقت اته شرائط ........ ١٠١

څلور ځایه د خبر حذف واجب دی ........ ١٠٢

څلور ځایه تقدیم د خبر پر مبتدا واجب دی ........ ١٠٣

د خبر اقسام ........ ١٠٤

عائد ........ ١٠٤

عائد پر شپږ (٦) قسمه دی ........ ١٠٤

پر خبر د (فاء) داخلیدل ........ ١٠٥

ضابطه ........................................ ١٠٦
**فعل او فاعل** ........................................ ١٠٦
د فعل او فاعل علامې ........................................ ١٠٦
څلور ځايه فاعل مجرور وي ........................................ ١٠٦
پنځه ځايه تانيث د فاعل جائز دی ........................................ ١٠٧
درې ځايه د عاملِ فاعل تانيث منع دی ........................................ ١٠٧
درې ځايه فاعل پر مفعول دمخه کيږي ........................................ ١٠٧
درې ځايه د مفعول تقديم پر فاعل واجب دی ........................................ ١٠٨
درې ځايه تقديم د مفعول پر فعل او فاعل دواړو واجب دی ........................................ ١٠٨
څلور ځايه عاملِ فاعل مؤنث راوړل واجب دي ........................................ ١٠٨
په دوو صورتو کي د فعل تانيث واجب دی ........................................ ١٠٩
فعل لازم ........................................ ١٠٩
علامات ........................................ ١٠٩
فعل متعدي ........................................ ١٠٩
علامات ........................................ ١١٠
فعل متعدي پر څلور (٤) قسمه دی ........................................ ١١٠
**جار او مجرور** ........................................ ١١٠
ظرف پر دوه قسمه دی ١-حقيقي، ٢-مجازي ........................................ ١١٠
په (فِي الدَّارِ زَيْدٌ) کي درې ترکيبه دي ........................................ ١١١
**د معرفه څوارلس (١٤) اقسام دي** ........................................ ١١١
**د نکره شپاړس (١٦) علامات دي** ........................................ ١١٢
**د مرکب اضافي څوارلس (١٤) علامات دي** ........................................ ١١٤
لازم الاضافت اسماء ........................................ ١١٥
**د مرکب توصيفي اته (٨) علامات دي** ........................................ ١١٦
**د اسم علامات** ........................................ ١١٧
د اسم علامات تول شپږ شپيته (٦٦) دي ........................................ ١١٧

Maktaba Tul Ishaat.com

علامات لفظيه ........ ١١٧
هغه علامات چي د كلمې په ابتداء كې راځي (١٢) دي ........ ١١٧
هغه علامات چي د كلمې په اخر كي راځي هغه هم څوارلس (١٤) دي ........ ١١٨
هغه علامات چي د مجموعه كلمې سره تعلق لري هغه نولس (١٩) دي ........ ١٢٠
علاما معنويه ........ ١٢١
**د فعل علامات** ........ ١٢٣
د فعل ماضي سره خاص علامات ........ ١٢٣
د فعل مضارع سره خاص علامات ........ ١٢٤
د امر سره خاص علامه يوه (١) ده ........ ١٢٤
مشترك علامات ........ ١٢٥
**د حرف علامات** ........ ١٢٦
**د جمله انشائيه علامات** ........ ١٢٦
**د مبني اقسام** ........ ١٢٧
**د اسم غير متمكن اقسام** ........ ١٢٩
**د مبني الاصل سره د مشابهت اقسام** ........ ١٢٩
**ضمير او مرجع** ........ ١٣١
د مرجع اقسام ........ ١٣١
خاص كلام ........ ١٣١
سياق كلام ........ ١٣٢
**د (ذا) اقسام** ........ ١٣٣
**مؤنث سماعي څوارلس قسمه (١٤) دي** ........ ١٣٣
**د مذكر او مؤنث په منځ كي يو ويشت (٢١) شيان مشترك دي** ........ ١٣٥
**د جمع منتهى الجموع نولس (١٩) اوزان دي** ........ ١٣٦
**د تغيير بيان** ........ ١٣٧
د (فلك) د واحد او جمع د پيژندلو طريقې ........ ١٣٨
**اسماء افعال** ........ ١٣٩

☆ لا إلٰہ إلاّ اللہُ کی (۹) تراکیب ..... ۱۴۰
☆ سو (۱۰۰) مشکل کلمات کی تراکیب ..... ۱۴۳
۱–آنِفاً ..... ۱۴۳
۲–أبَدًا ..... ۱۴۳
۳–إجْمَاعاً ..... ۱۴۳
۴–إذْ ذَاكَ ..... ۱۴۴
۵–أصْلاً ..... ۱۴۴
۶–اَلْبَتَّةَ ..... ۱۴۴
۷–اَللّٰهُمَّ إلاَّ أنْ يُقَالَ ..... ۱۴۴
۸–إمَّا ..... ۱۴۶
۹–أنَّ زَيْدًا كَرِيْمٌ ..... ۱۴۶
۱۰–أوَّلاً وَّبِالذَّاتِ ..... ۱۴۶
۱۱–أهْلاً وَّسَهْلاً ..... ۱۴۷
۱۲–أيْضاً ..... ۱۴۷
۱۳–أيْمُنُ اللهِ ..... ۱۴۷
۱۴–اَلآنَ، آلْئٰنَ ..... ۱۴۸
۱۵–اَلآيَةَ ..... ۱۴۸
۱۶–اَلإعْرَابُ لُغَةً الإظْهَارُ ..... ۱۴۸
۱۷–بِخِلاَفِ ..... ۱۴۹
۱۸–بَغْتَةً ..... ۱۴۹
۱۹–بِلاَ سَبَبٍ ..... ۱۴۹
۲۰–بِنَاءً ..... ۱۴۹
۲۱–بَيْدَ ..... ۱۵۰
۲۲–بَيْنَ ..... ۱۵۰

Maktaba Tul Ishaat.com

٢٣-بَيْنَمَا ........ ١٥١
٢٤-بَيْنُوا لُوجَرُوا ........ ١٥١
٢٥-تَارَةً ........ ١٥١
٢٦-تَرَاكِ ........ ١٥٢
٢٧-جِدًّا ........ ١٥٢
٢٨-جَمِيْعًا ........ ١٥٢
٢٩-حَقًّا ........ ١٥٢
٣٠-حِيْنَئِذٍ ........ ١٥٣
٣١-اَلْحَقِيْقَةُ مَابِهِ الشَّيْءُ هُوَ هُوَ ........ ١٥٣
ضابطه ........ ١٥٣
٣٢-خَاصَّةً ........ ١٥٤
٣٣-خِلَافًا ........ ١٥٤
٣٤-دَائِمًا ........ ١٥٤
٣٥-دُوْنَ ........ ١٥٤
٣٦-ذَاتَ يَوْمٍ ........ ١٥٥
٣٧-رَأْسًا ........ ١٥٥
٣٨-رَجُلًا ........ ١٥٥
٣٩-سُبْحَانَ اللهِ ........ ١٥٥
٤٠-سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ ........ ١٥٥
مهمه فائده ........ ١٥٦
٤١-سَوَاءٌ كَانَ ........ ١٥٧
فائده ........ ١٥٧
٤٢-صِدْقًا ........ ١٥٧
٤٣-عَادَةً ........ ١٥٧

٤٦–عَلٰى هٰذَا الْقِيَاس ........ ١٥٨
٤٧–عُمُوْماً ........ ١٥٨
٤٨–غَالِباً ........ ١٥٩
٤٩–فَبِهَا ........ ١٥٩
٥٠–فَحِيْنَئِذٍ ........ ١٦٠
ضابطه ........ ١٦٠
٥١–فَقَطْ ........ ١٦٠
٥٢–فَيَوْمَئِذٍ ........ ١٦١
٥٣–قَطْعاً ........ ١٦١
٥٤–قَوْلُهٗ تَعَالٰى ........ ١٦١
٥٥–كَافَّةً ........ ١٦٢
٥٦–كَذَا ........ ١٦٢
٥٧–كُلَّمَا ........ ١٦٢
٥٨–كَمَا مَرَّ ........ ١٦٣
٥٩–كَيْفَ ........ ١٦٣
٦٠–لَابَأْسَ ........ ١٦٣
٦١–لَاجَرَمَ ........ ١٦٣
٦٢–لَابُدَّ ........ ١٦٤
٦٣–لَاسِيَّماً ........ ١٦٥
٦٤–لَاشَكَّ فِيْه ........ ١٦٦
٦٥–لَاضَيْرَ ........ ١٦٦
٦٦–لَاعَلَيْكَ ........ ١٦٦

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٧-لَاغَيْرَ
...... ١٦٦
٦٨-لَامَحَالَةَ
...... ١٦٧
٦٩-لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ
...... ١٦٧
٧٠-لِزَيْداً
...... ١٦٨
٧١-لَعَمْرِيْ، لَعَمْرُكَ
...... ١٦٨
٧٢-لُغَةً
...... ١٦٨
٧٣-لِلّٰه دَرُّكَ
...... ١٦٨
٧٤-لَمَّا
...... ١٦٩
٧٥-لَيْتَ شِعْرِيْ
...... ١٦٩
٧٦-لَيْسَ هٰذَا كَمَا زَعَمَه فُلَانٌ صَوَاباً
...... ١٦٩
٧٧-مَا أَحْسَنَ زَيْداً
...... ١٧٠
٧٨-مَا بَعْدَهَا
...... ١٧٠
٧٩-مَاذَا
...... ١٧٠
فائده (ذَا) پر دري قسمه دی
...... ١٧١
٨٠-مَا قَبْلَهَا
...... ١٧١
٨١-مَثَلاً
...... ١٧١
٨٢-مِثْلاً بِمِثْلٍ
...... ١٧٢
٨٣-مَخْصُوْصاً
...... ١٧٢
٨٤-مَرْحَباً
...... ١٧٢
٨٥-مُطْلَقاً
...... ١٧٢
٨٦-مَعاً
...... ١٧٣
٨٧-مَعَاذَ اللّٰه
...... ١٧٣
٨٨-مُنْذُ
...... ١٧٣
٨٩-اَلْمَاهِيَّةُ مِنْ حَيْثُ هِيَ هِيَ

۹۰-نَعَمْ، نَعِمْ، نَعَامْ ..... ۱۷۳
۹۱-نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ ..... ۱۷٤
۹۲-نِعِمَّا ..... ۱۷٤
۹۳-نَاهِيْكَ بِكَذَا ..... ۱۷۵
۹٤-وَحْدَهُ ..... ۱۷۵
۹۵-وَعْداً ..... ۱۷۵
۹٦-وَلِهٰذَا ..... ۱۷۵
۹۷-وَمِنْ ثَمَّ ..... ۱۷٦
۹۸-وَيْحَكَ ..... ۱۷٦
۹۹-هٰذَا ..... ۱۷٦
۱۰۰-هَلُمَّ جَرًّا ..... ۱۷۷
۱۰۱-يَداً بِيَدٍ ..... ۱۷۷
۱۰۲-يُوْسُفُ زُلَيْخَا ..... ۱۷۷
۱۰۳-د افعال مدح او ذم ترکیب ..... ۱۷۸
۱۰٤-د افعال تعجب ترکیب ..... ۱۷۹
ماخذ او مراجع ..... ۱۸۰

Maktaba Tul Ishaat.com